مورچل

اتم کال پښځمه، پرلپسې ۶۹ مه گڼه، رجب المرجب ۱۴۳۵هـ ق، مې ۲۰۱۴م

دفتحو کرشمې !

دزده کړې او تعلیم صحیح لارې

دخیبر عملیات او تاریخي شالید یې !

بدخشان وفتوحات نوین

هغه تاریخي پېښې چې درمضان په میاشت کې منځته راغلې

دخیبر عملیاتو بریالی پیل

دارالحرب یادجنګ ډګرته دقرآنکریم وړل

مورچل

اتم کال پنځمه، پرلپسي ۶۹ګڼه، رجب ۱۴۳۵هـ ق، می ۲۰۱۴ز

علمي، سياسي او جهادي مياشتينۍ خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	دفتحو کرشمې	۱
۲	بدخشان وفتوحات نوين!	۳
۴	دخيبر عمليات، او	۵
۵	سترې فتحې اودخيبر پسرلنو عملياتو	۸
۶	اختلاف مقبول و اختلاف ممنوع	۱۰
۷	د خيبر عملياتو بريالي پيل	۱۴
۸	دزده کړې او تعليم صحيح لارې	۱۷
۹	دجهاد فقهي مسايل	۲۱
۱۰	مورچل دار الافتاء	۲۷
۱۱	داسلام غزوات اوسرايا	۳۱
۱۲	دصليبي يرغل په وراندې	۳۴
۱۳	شاخص ترين اهداف	۳۶
۱۴	بر ګډال مسلمانېږي!	۳۸
۱۵	چرا غربی ها به اسلام روی می آورند؟	۴۱
۱۲	ذبيح الله مجاهد خوشبی له خپل	۴۵
۱۷	ددعوت، ارشاد، جلب اوجذب کميسيون	۴۸
۱۸	هفه تاريخي پيښې	۵۰
۱۹	شهيدې قافلې	۵۳
۲۰	امارت پيغامونه	۶۱
۲۱	جنګي جنايتونه (اپريل)	۶۳
۲۲	نورستا قضاوت	۶۷
۲۳	دمورچل خبرونه	۶۸
۲۴	دمورچل ورځې	۱۲۰
۲۵	دتلفاتو مياشتنی جدول	۲۴۵

د امتياز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ايوب صافی،
حسن نروی، حکمت بغلانی،
زبير مسافر، حافظ سعيد

تخنيکي چارې :

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

دفتحو کرښې

داسلام په تاریخ کې به له صدر اسلام څخه را ورسته اسلامي امارت یو له هغو ګوتو شمیر هیواد شمولہ جهادي حرکتونو څخه وي چې دخپل جامعیت او مانعیت له مخې یې پراخ ولسي مقبولیت خپل کړی او بیا یې د وخت نړیوالو استعمارګرو سره داسې ډغره وهلې وي ، چې د دوئ د اشغال طاغوت یې دخاورو سره خاورې او دیوې نه کتونکې (هیولا) په بڼه د تاریخ حافظې ته سپارلې وي ، پاڅون یې هم دمظالمو دخاتمې او شرعي نظام دنفاذ لپاره و ،او اوس هم دخپل دین او ارضي تمایت ددفاع لپاره یې توره او ډال دیوه نړیوال کفر په وړاندې را ایستلې دي.

یوله هغو کړاوونو څخه چې دې اسلامي امارت دا څه کم دوه لسیزې وزغمل، دزرګونو مفکوروي ملګرو شهادت او یا دګوانتنامو غوندې بدنامو زندانونو ته اچول وو ،چې دادی ددوئ پاکو وینو او اسارت دتعذیبونو سره رنګ ګرد اشغالګر دماتې او نړیوالې رسوایې په ساحل ودرول او په اوښکو یې ګریبانو نه لانده شول ،د (تقابل تضاد) داصل له مخې چې لومړی څومره دهیواد فضاء ویر او ساندو نیولې وه ، اوس الحمدلله په هماغه کچ دفتحو ،بریالیتوبونو او خوشحالیو چوپې چوپې کاروانونه راروان دي ،هره ورځ او هره شیبه دیو ډول فتح او بري زیری راځي او ولسونه پرې نن دخوشحالۍ اوښکې تویوي ،نن نه د امریکا دبرم اوغرور اخطارونه شته، اونه داشغالګرودچاپو ،تعروضونواوګزموجم وجوش ! نور مو دهیواد په چم کې دنصرتونو او فتوحاتو زمزمې غږیږې او دترنم بلبلان د پیرنګیانواو روسانودشکست په شان دننیواشغالګرو دماتې او بدنامۍ تراني وایې ،نن ددښمن داسارت ځنځیرونه ماتیږې او ډلې ډلې زنداني طالبان او مجاهدین ترې هسکې غږۍ او شخې شملې له خپلو جهادي لیکو سره یو ځای کیږي ،چې دادی له نیکه مرغه دې وروستیو کې د(ګوانتنامو) له بدنام زندان څخه دجهادي پیر اتلان او دداخلي فساد ،فتنواو بیا اشغال پر ضد

دجهادي قافلو سرلاري هريو (محترم ملاخيرالله خيرخواه ،محترم ملانورالله نوري ،محترم ملامحمد فاضل ،محترم مولوي محمدنبي عمري او محترم ملا عبدالحق وثيق) ديو امريکايي (برګدال) په بدل کې آزاد او قطر کې داسلامي امارت له ديپلوماتانو سره يوځای شول.

د دوئ آزادی که ديوې خوا دا داسلامي امارت لپاره سياسي فتح بلل کيږي نو له بلې خوا يې دکابل دمزدورې اداري په خوله کې يوه لپه شګې وروشيندلې ،اوترټولومهمه دا چې دمجاهد اولس او ټول مسلمه امت په زړونو کې داسلامي امارت اوسپنيز دريځ او مدبرانه سياست يوار بياډيري هيلي را پيدا اوباور يې زيات کړ ،چې مجموع کې دا ټول دفتحو او الهي نصرت کرشمې دي، چې ليزري شغلې يې د غليمانو سترګې بريښوي .

اوس چې ټول هيواد او ځانګړې توګه دشمال زون د دفاع او امنيت مخکښان د د اخلې پلورل شويو (افغان نما) څيرو دجفا او عهد شکنۍ په پايله کې بنديان اوله څه وخت وروسته دادی بيا له خپلو ملګرو سره يوځای شول ،هغوئ چې له خپلو هيوادوالو سره دا ډول خيانت کړی او دخپلواکۍ دلارې مخکښان يې پر خارجيانو دځو ډالرو او دندو ترلاسه کولو په موخه وپلورل ،څومره به خپل وجدان ،تاريخ او قام ته خجالت او شرمينده وي او څومره به ددې اتلانو په وړاندې سرکوزې وي !!

مونږ پداسې حال کې چې د اسلامي امارت دمشرانو آزادي دنورو فتحو لپاره يو نيک فال بولو ، نهيلي نه يو ، چې يو وخت به دا نور شهسواران هم د اشغالګرو له تورو ظالمانه منګولو را آزاد ،اشغالګر به سرکوزې او دکابل په ارګ به داسلام سپين بيرغ ورپيږي !

وماذالک علی بعزيز

سعید بدخشانی

بدخشان وفتوحات نوین!

الحمد لله بار دیگر خبر از شهکاریها ،فتوحات، فداکاری وصف شکنی غازیان دلیر امارت اسلامی در سرزمین شیران (بدخشان) منتشر گردیده همه مسلمانان وفرزندان واقعی کشور را خورسند ساخت.

باید گفت این بار اول وآخر نیست که فرزندان غیور بدخشان افتخارات فتح وموفقیت های چشم گیری را کسب می نمایند ،بلکه به یاری خدای بزرگ این حماسه آفرینی ها ادامه می یابد وسلسله پیروزیها ازهمین طریق به تمام کشور پهناور خواهد شد.

واقعاً ضربات کوبنده ،هدفمند ،منسجم وافتخار آفرین مجاهدین قهرمان وسلحشور بدخشان، کاسه لسان رژیم کابل وباداران طغیانگر شان را درلرزه آورده ،شوکت وقدرت طاغوتی استکبار جهانی (آمریکا) وغلامانش را زیرسوال بُرد ،وبه جهانیان برملا گردید که مجاهدین با ایمان کامل واعتماد راسخ برخدای ذول الجلال میتواند بنی سفاکان خون آشام را برزمین بمالند.

آری !فتح وکنترول ولسوالی یمگان درسلسه آغاز عملیات مبارک خیبر توسط سپاهیان اسلام، پیام نیک به نجات کشور ازلوث اشغالگران ناپاک وجیفه خوارانشان خواهد بود ،بنصرت خدای لایزال مجاهدین امارت اسلامی با ایمان وعزم فولادن درپی یک عملیات وسیع وگسترده

ای مسلحانه که ازچند ناحیه بر مرکز وپوستهای امنیتی ولسوالی متذکره هجوم بردند ،ولسوالی را کاملاً فتح ودرتصرف خود درآوردند.

ولسوالی یمگان ازلحاظ استراتژیک حربی از اهمیت والای برخوردار میباشد یمگان سی هزار نفر جمعیت دارد و با ولسوالی‌های جرم، کشم، کران و منجان و همچنین منطقه ورسج ولایت تخار مرز مشترک دارد.

گواهی دشمن پیرامون حضور گسترده مجاهدین در نقاط مختلف بدخشان بنقل ازخبرنگار بی بی سی:در حال حاضر گروه طالبان در ولسوالی‌های تگاب، جرم، یفتل بالا و وردوج این ولایت نفوذ دارند. سال گذشته این گروه به ولسوالی کران و منجان حمله کردند و برای مدت کوتاهی آن را تصرف کردند.

ناظران می گویند ممکن است طالبان با حمله به یمگان، فشارهای خود را بر ولسوالی کران و منجان افزایش دهند.

حالا توجه شماخوانندگان گرامی را به دست آوردها وراپور مکمل یمگان جلب مینمایم:درنتیجه تهاجم مسلحانه مجاهدین براین ولسوالی که بعد از۳نیم ساعت نبرد شدید فتح گردید۳۴عسکرکماندو ،نظم عامه،پولیس واربکی کشته بیش از۳تن زخمی وبشمول ۳تن از قوماندانان دولت اجیر۲۷تن که دریک مغاره درمربوطات این ولسوالی مختفی شده بودند پس از دو روز محاصره پیهم زنده دستگیرشدند.همچنان درجریان حملات بریمگان یکتن ازقوماندانان اربکی ها بنام نعیم با۵تن دیگر به مجاهدین تسلیم شد.

غنائیم که بدست مجاهدین قرارگرفته است قرار ذیل است:۲رینجروا تانگ ،بشمول ۲پایه دهشکه بیش از۲۰میل اسلحه ثقیله،خفیفه ومهمات مختلف النوع بطور غنیمت بدست مجاهدین قرارگرفت.دراین نبرد۵تن ازمجاهدین بمقام شامخ شهادت نائل و۴تن دیگر مجروح شدند.انالله وانا الیه راجعون

درآخر از الله بی نیاز استدعا دارم که مبارزین راه اسلام را در سراسرجهان به ویژه در کشور عزیزما افغانستان کامیاب وکشور مارا ازچنگال یهود ونصاری وهمپیمانانش نجات دهد. آمین.

دخیبر عملیات،

(شاهد حقاني)

اوتاریخي شالید یې !

دیوم نیک ګام په حیث هیواد کې داسلامي امارت لخوا دا (۲۰۱۴)ز کال د(خیبر)په نامه داشغالګرو اوداخلي مزدورانو پر وړاندې دپسرلنیو دعملیاتو پیل یو داسې تاریخي او ویاړلی ګام دی ،چې اغیز به یې انشاءالله تعالی دصدر اسلام د(خیبر) د سوبمنې غزوي په تعاقب دومره ډیر وي ،چې دیهودی الاصله امریکایانواو ددوئ داشربانو داستیصال او ریښو ایستلوپه پایلو به پای ته ورسیږي .

شک نشته چې د(خیبر) نوم ماضي کې دشهکاریو ډک شالید اوتاریخي داستان له ځانه سره لري اوداسلام په هنو غزواتوکې شمیرل کیږي ، چې داسلام دبرم او عظمت توغ پکې هسک شوی ،دهجرت اووم کال و،چې رسول الله ﷺ داسلام سخت زړو دښمنانو (یهودو) پسې خیبر ته ورغی اودخیبر په ورځ یې اعلان یې وکړ چې : ((لاعطین الرایة رجلا یحب الله ورسوله ویحبه الله ورسوله ، قال : فتطاولنا لها، فقال : أدعوالي علیا فاتي به أرمد، فبصق في عینه ، ودفع الرایة إلیه ، ففتح الله علیه))چې زه به د (خیبر) فتحې بیرغ هغه چا ته ورکوم چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ورته ګران دي ،اوداهم الله ﷻ او ددهغه رسول ﷺ ته ګران دی ، د هر چا زړه کې ددې ویاړ هیلې ټوکیدلي، خو د(خیبر) دفتحې پر وخت داسلام د ځلورم خلیفه علي کرم الله وجهه دبخت ستوری ځلیدلی و ،او ددې فاتحانه قیادت داویاړ ده ته ورپه برخه شو ،داسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل چې علي (رضی الله تعالی عنه) ماته راوړئ !! دستر ګو دخوږ په حالت کې ورته راوستل شو ،نوخپلې مبارکې ناړې په ستر ګو کې ورته واچولې او دخیبر دفتحې بیرغ یې لاس کې ورکړ ،علي کرم الله د (خیبر) فاتح اعلان شواو دیهودو ریښې یې له بیخه وایستې ، تردې وړاندې یهود (بنو نضیر) چې ځینې یې شام او خیبر ته کډوال شوي وو، د غرور له کهکشانه را پریوتل او پخپلو لاسونو یې خپلې پوځي چاونې ،کلاګاني ،رنګې،جنګیالي یې سر کوزې او د غنایمو بار چوپې جوپې اوښان د مسلمانانو پر برخه شول ،اویهودو پخپلو لاسو خپلې ځالې داسې رنګولې چې د حسرت اوښکې یې پر مخونو روانې وي ،لکه چې الله ﷻ

فرمايي ((هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُمْ مَانِعَتُهُمْ حُصُونُهُمْ مِنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ (٢)الحشر)

په تير (١٣)کلن جهاد کې اسلامي امارت د(دعبرت ، نصرت ، الفتح ،البدر او الفاروق،خالد) په مختلفو متبرکو نومونو خپل پسرلني عمليات ترسره کړي او شپه ډير بريالیتوبونه يې تر لاسه کړي ،خو داځل به که الله ﷻ ته منظور وه، پسرلني (خيبر) کې مجاهدين تر خپله وسه داسلام دحاسدو غليمانو څخه دتېر اسلامي خلافت او اسلامي عظمت دنسکوريدو کسات هم اخلي او دمسلمانانو سينې به پرې يخې کړي {قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ}[١٤/٩]،)

داسلامي امارت مجاهدين دشريعت دنفاذ او ډهيواد دخپلواکۍ لپاره په جهادي مقاومت بوخت دي، خو اشغالګر چې د پردې شاته يې ديهودو مالي منابع او پلانونه دتمويل سرچينې دي ،دترهګرۍ په پلمه هيواد کې دشرعي نظام دله منځه وړلو او دافغانستان داسلامي خاورې تسخير په موخه داوږده زماني مدت په نيت راغلي او تر شا يې هماغه اهداف مرموز دي، چې دخيبر ديهودو سره داسلام د پيغمبر ﷺ او قرآن کريم په خلاف وو ،او هم شايد غوښتې يې وي ، چې دافغانستان څخه نړۍ ته دجهادي خوځښت د صدور او الهام انتقام واخلي ، چې له نيکه مرغه به يې د(خيبر) عملیات ټولې دسيسې شنډې کړي او دکفري ائتلاف په تکوني کې به ټاکونکی نقش ولوبوي .

د(خيبر) دعملياتو اغيز به ځکه هيبتونکی وي ، چې ددې (٢٠١٤ز) کال پای کې اشغالګر د پوځي انخلا نفاړې وهي ،د(٣١٩٣ل)کال فرمايشي ټولټاکنې يې هم داسلامي امارت د(١٠٨٨) تعرضي بريدونو له امله د ګډوډۍ او ناکامۍ په مورګو ودريدي او اړ دي ،چې شايد بيا د انتخاباتو په نامه خلک وغولوي او هم په يوه او بله حيله دهيواد دتجزيې پلانونه پلې او داسلام پلورونکيو تکنوکراتانو يا ځينو وطن فروشو په واکمنيدو خپل شوم اهداف عملي کړي ، هڅه به کوي چې راتلونکې کې (خدای ﷻ مکړه) دجهاد تداوم ته خنډونه پيدا کړي او خلکو ته ووايي ،چې نور نو له چا سره جهاد کوئ !! اشغالګر خو ووتل !واک خو ګوندې افغانما ځيرو سره دی او .....او..... ښايي چې داسې ناوړه تبليغات په هغو عاقبت نه سنجونکيو ذهنيتونو او خوبولیو باندې ناسم اغيز و ښندي ،خو داسلامي امارت د(خيبر)عملياتي هوډ به په ډيره چټکتيا سره ددې ټولو دسيسو مخه ونيولای شي اوانشاءالله تعالی چې دا يوه دسيسه به هم پلې کيدو ته پرېږدي !

اسلامي امارت پدې باب داعلاميې په يوه برخه کې وايي چې :((بايد يوځل بيا په ډاګه کړو چې په هيواد کې د کفري يرغلګرو په وجود کې زمونږ دين او فقهي مراجع مونږ ته ديرغلګرو په وړاندې دمسلح جهاد امر کوي او جهاد فرض عين بولي بناء هغه اشغالګر او داخلي ملګري يې چې فکر کوي دبهرنيو ځواکونو دشمير په کمولو سره به زمونږ

جهادي اراده کمزوري شي بايد په دې پوه وي چې داسلامي اساساتو له مخې په دار اسلام کې لکه څنګه چې زرګونو اشغالګر و ته داوسيدلو جواز نشته ، محدود او د شمير له اړخه کم اشغالګر هم کټ مټ همدا حکم لري چې له اسلامي خاورې شړل يې د ټولو مسلمانانو وجيبه ده .)).

افغام مسلمان ولس د (خيبر) په وياړلې او تاريخ جوړونکې نامه داسلامي امارت عملياتي هوډ له خدايه ﷻ موفق او پر غليمانو برلاسی غواړي، او هم له خپلو مجاهدينو اومسلمان ولس څخه هيله لري ، چې دپسرلني د خيبر دا عملياتي تکل لا غښتلی او دې پسرلي کې دکفري لښکرو په ريښو ايستلو کې دصدراسلام دصحابه وو رضی تعالی عنهم او ددې غزوې د فاتح علي کرم الله وجهه کارنامې تازه کړي او داسلام دښمنانو ته عبرناک درس ورکړي !!

ربښتيا هم چې پداسې متبرکو او تاريخي نومونو خپل عمليات نومول ډير مؤثريت لري او هم خپل مجاهد ولس ته دخپلو اسلافو دتير عظمت او مجد تاريخي کارنامې وريادوي .داسلامي امارت داسې نوښتونه ،که ديوې خوا دخپلو اسلافو دغزواتو ياد تازه کوي او داسلام دتير عظمت نه خپل قام خبروي ، نو دبلې خوا په سنګرونو کې ناستو مجاهدينو ته ددې روحيه ورکوي، چې دخپل پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) په پل پل ايښودل، ستاسو دفتحې تضمين درکوي او ژر به وي، چې تاسو هم ددې خيبر په برکت پر غليم برلاسې شئ او وروستی فتحه وکتئ !!

Redbollعه څښې ، څګه چې داتاسو له اولاده بې برخې کوي

راحيله جواد

دا يوه ربښتونی کيسه ده چې يو ځوان له واده څخه دوه کاله وروسته چې الله جل جلاله ورته دوه لورګانی ورکړې وي، تايلنډ هېواد ته سفر وکړ، کله چې د معاينا تو لپاره ډاکټر ته ورغې، نو هغه ورته وويل چې ستا نتايج ښايي چې ته شنډ شوی يې (يعنې نور اولاد ونه دی نه کيږې) او لامل يې دا دای چې تا د انرجی لرونکي مشروباتو څخه زياته ګټه اخستې ده بيا يې ښځې وويل چې زما خاوند به کور ته ريډ بول انرجی په زياته پيمانه راوړله، تر دې چې د ورځې به مو له دريو څخه تر څلورو پورې ريډ بول انرجيانې څکلې، کيدای شی د ځنې خلکو ذهن ته راشي چې دا خبره د تعصب له وجې نه کيږي او يا دا چې د ريډ بول انرجی د يوې يهودي کمپنۍ توليد ، ولی داسی نده بلکه، بلکه معاينا تو ثابته کړې ده چې پيپسې او د پيپسی کولا شرکت په ټولو توليداتو کې د فياګرا ماده استعماليږي کومه ماده چې منوي حيوانات (سپرمونه) له منځه وړي، لدې امله سويډن هېواد په رسمي توګه د ريډ بول انرجی مشروب منع کړی دی، او هيڅوک نشی کولای خرڅ يې کړی.

ډاکټرانو دا هم ويلی دي چې څنې مشروبات د ايفدرين ماده لرونکي دی چې ادرينالين ته ورته ويلي دي او د کافيينو په څېر اغيزه لري، کوم چې په زړه باندې بدې اغيزې لري.

د خليج او اتحاد ورځپانو په عربی اماراتو کې په ورځنې ګڼه کې کارې چې ريډ بول ۰،۰۴ الکحول لري.

ستره فتحه

اوخیبر پسرلنو عملیاتو مبارک پیل

دجهادي کامیابو مبارکوهڅوپه نتیجه کې دزمانې دبدنام زندان ګونتنامو نه ۵ خوراسترومشرانو ازادول دنړۍ دټولو مخلصو مسلمانانو او په ځانګړې توګه دمجاهدینو لپاره دډېرې لویې خوښۍ خبر دی ؛ بې له شکه چې خدای جل جلاله ډېر لوی فضل وکړ اومجاهدینوته یې دخیبر په پسرلنیو پیلو شویو عملیاتوکې عظیمه فتحه ورپه برخه کړه.

هسې خو پرهېواد دصلیبي اشغالګرو دیرغل نه پس چې له کله نه جهادي صفوف منظم شوي او جهاد زور اخستی نو هره راتلونکې ورځ دتېرې په پرتله بدتره نه بلکې بهتره ثابته شوې ؛ هر راتلونکی کال دتېر نه ددښمن لپاره هلاکونکی او هر راتلونکی پسرلی ورته دتېر نه زیات موراال بیلونکی او ورخطا کونکی ګرځېدلی چې پدې روښانه حقیقت ددښمن هم بیا بیا اعتراف کولو ته اړشوی خو سږنی کال له تېرو ټولو کلونو ممتاز شو؛ دې پسرلي له ځانه سره ستر زېړي راوړل او پکې اعلان شوي دخیبر په نوم دنومول شویو عملیاتو پیل دستر و فتحو سره یو ځای وشو؛ دهېواد په پلازمېنې او ولایاتو کې دښمن هغه ستر ملا ماتونکي ګوزارونه وخوړل چې نه یواځې محترم لوستوال بلکې ټوله نړۍ ترې خبره ده خو دا چې پکې اسلامي امارت پدې وتوانید چې دامریکا سره په زنداني شویو مجاهدینو کې ۵ ترټولو دلوړې پایې مجاهدین دیو عادي امریکایې عسکر په بدل کې راازاد کړي دا دمجاهدینو بې حده ستره سیاسي او نظامي فتحه او دیرغلګرو خوارډېر ستر سیاسي او نظامي شکست دی؛ کبرجنې اوپه خپل مادي زور مغروري امریکا به په خپل تاریخ کې شاید دخپل یو دښمن په مقابل کې هم دومره ستر تنزل نه وي کړی لکه دافغانستان داسلامي امارت په مقابل کې یې چې وکړ.

یو لور ته یو عادي عسکر دی او بل لور ته لوی درستیز ملا محمد فاضل، دشمال زون تنظیمه رئیس او دبلخ والي، ملا نورالله نوري، د کورنیو چارو وزیر ملا خیرالله خبرخواه؛ داستخباراتو دلوی ریاست مرستیال ملا عبدالحق وثیق او مشره مذهبي څېره مولوي محمدنبي عمري.

دا ډېر ستر تفاوت دی: دا ډېره حیرانونکي او دامریکا نظامي او سیاسي حیثیت ته ډېره له تاوان نه ډکه تبادله وه خو دا چې دټولو هڅو سره سره هم دطالبانو له منګلو نه دخپل فوځي په ازادولو کې دپاتې راتللو نه پس دسولې له لارې دخپل فوځي را ازادول دامریکا ستر مجبوریت و او بل لور ته دټولو فشارونو سره سره هم پدې موضوع کې داسلامي امارت دمشرتابه دریځ دډېر استقامت نه ډک و نو امریکا دزهرو دې ګوټ ته تیاره شوه.

ددې ترځنګ چې دا تبادله په سیاسي او نظامي ډګر کې دمجاهدینو ستره فتحه ده ترځنګ یې له ځانه سره دا پیغام هم لري چې جهاد دمسلمانانو لپاره دهر دښمن اوپه ځانګړي ډول دامرکا په څېر دوحشي اوخونخوار دښمن دشرونو نه خلاصون؛ په نړۍ کې دسرلوړۍ ،ابرومندانه ژوند او عزت یواځنۍ لار ده؛ که پدې پنځو تنانو کې دیو دخلاصون لپاره هم دنړۍ ټولو مسلمانانو په لسګونو کلونه خواستونه او زارۍ کړې وای؛ په لسګونو کلونه یې امریکا ته جرګې او ننواتي کولای ؛ ددرد آهونو یې نړۍ په سراخستی وای او ټولو ورته داوښکو پرځای دستر ګونه وینې تسوی کړی وای آیا دامریکا به پر مسلمانانوزړه سوځېدلی یا یو زړه رحم راغلی وای ؟ او یا به یې دټولې نړۍ دمسلمانانو غوښتنې ته التفات کړی وای ؟ نه !هیڅکله هم نه ځکه چې دامریکا وحشت اوسربریت خوراستراو مسلمان دښمني یې له حده زیاته ده ؛ خو چې اتل مجاهدین دجهاد په ډګر کې امریکایانو ته دستر و ځاني او مالي تاوانونو دوړولو ترځنګ دیو امریکایې په ژوندي نیولو او بیا یې ترکلونو له ځانه سره په ساتلو وتوانېدل نو په مغروري امریکا یې خپله هغه غوښتنه ومنلای شوه چې چا یې تصور هم نه شو کولای چې دادجهاد هغه لوی برکت دی چې دنړۍ دټولو مسلمانانو شملې یې هسکې او پر دښمن یې ددوئ زړونه یخ کړل.

داسلامي امارت مشرانو به ویل چې دقطر دفتر ددې ترځنګ چې نړۍ ته خپل پیغام رسوي دامریکایانو سره یې خبرې هم کړیدي خو خبر یې دمادي ګټو دترلاسه کولو ؛دوسلې پرځمکه اینبودلو او دکابل داداري سره دګډ حکومت جوړولو لپاره نه بلکې یواځې دښدیانو دتبادلې لپاره دي ؛الله تعالی عملاً دطالبانو صدق څرګند کړ ؛ او ټول ملت دامریکایانو سره دروانو مذاکراتو په اړه مطمئن شو.

مسلمان ملت دې مطمئن وي چې اسلامي امارت به هیڅکله هم عالي اهداف په مالي ګټو ورنکړي او نه به دمجاهدینو دقربانیو او پاکو وینو پر سر دچا سره سودا وکړي ؛ دمقاصدو نه به اوس زمور دښمن تېرېږي او داهدافو په سر به راسره هم دښمن سودا کوي ځکه چې مور اوس دفتحې ترساحله رسېدلي یو او خیبر مو وروستي فاتح عملیات دي ان شاءالله.

اختلاف مقبول و اختلاف ممنوع

دکتور توفیق الواعی

ترجمه: سیف‌الله رحیمی

در گذشته علما و اندیشمندان ما در مواجهه با آراء و نظریات مختلفی که وجود داشت، سعه‌ی صدر داشتند و بدون هیچ گونه نزاع و درگیری با هم به گفتگو می‌پرداختند. آنان در زمینه‌ی فقه اختلاف، آثار زیادی را تدوین کردند تا فرهنگ قبول مخالف در مشترکات و معذوریت در مختلفات را نهادینه کنند به همان اندازه که جامعه ظرفیت آراء مختلف و افکار متنوع را دارا باشد. قطعاً به همان اندازه روح تلاش، تکاپو، ابتکار و نوآوری بر آن جامعه حاکم خواهد بود. برعکس جامعه‌ای که تحمل صدای مخالف را نداشته باشد و سیاست سانسور و تک‌نظری بر آن حاکم باشد طبعاً فکر، اندیشه و پیشرفت آن رو به زوال خواهد بود. آنجاست که سطحی‌نگری بر جامعه سایه می‌افکند و ابتکار و تنوع از بین می‌رود.

متأسفانه این فرهنگ امروزه بر جریان‌های فکری کشورهای جهان سوم حاکم است.

آری! ما مسلمانیم و جهانیان به سبک اختلاف ما در گذشته آشنا هستند؛ امّا ما از آموزه‌های دینمان فاصله گرفتیم و با دورشدن از کیان دین، روحِ شگفت‌انگیز و تمدن‌ساز هم از میان ما رخت بربست. در این مقاله به‌طور مختصر به اصول مهم فقه اختلاف اشاره خواهیم کرد. امید است که خداوند ما را از شربت گوارای تلاش گذشتگان بهره‌مند فرماید.

مهم‌ترین اصول فقه اختلاف عبارتند از:

۱- اختلاف در فروع سنت تکوینی است. طبیعت دین دارای تنوع و تکثر است و دامنه وسیعی دارد. کلمات و لغات بالذات حامل وجوه متعدد دلالت‌های ظاهر، خفی، مجاز، حقیقت، مجمل و غیر مجمل هستند. طبیعت عقول و حواس در یک سطح نیستند و همچنین متغیرات زمانی و مکانی که نصوص و آیات در آن نازل شده‌اند، باعث شده تا اختلاف و تنوع در اجتهاد امری

طبیعی گردد و نیز توقع اجماع در مسائل اجتهادی که در ذاتش تنوع قرار دارد، امری غیر منطقی باشد.

۲ -علی‌رغم اینکه تنوع و اختلاف سنت بشری است، امّا سعی و تلاش برای دفع اختلاف و خروج از میدان اختلاف به منظور حفظ وحدت کلمه و همبستگی صفوف مسلمین فریضه‌ای شرعی است. جمهور علما اجتناب از اختلاف را با هدف انسجام جامعه‌ی اسلامی و نابودی اسباب نزاع، امری مستحب می‌دانند.

۳-اختلاف به‌طور کلی مذموم نیست .اختلافی مذموم است که ناشی از غرور و تکبر، انگیزه‌ی سیاسی و جاه‌طلبی و سوءظن و اتهام به دیگران که بر ارکان هواهای نفسانی، بی سوادی و جهل قرار گرفته باشد. اسباب مذموم و ناپسند دیگری نیز وجود دارد که در حوصله‌ی این مبحث نمی گنجد. اختلاف مقبول اختلافی است که نظرات متعددی از یک منبع و سرچشمه گرفته باشد؛ مانند اختلاف‌های صوری، لفظی، اعتباری و یا اختلاف پیرامون مسایل ظنّی، که حواس و عقول برداشت‌های مختلفی از آن دارند. اختلاف در فروعات شرعی، مانند احکام فقهی و یا مواضع سیاسی و اختلاف در مورد شیوه‌های اصلاحات و تغییرات به منظور رفاه اجتماعی و نیازهای جامعه نیز از جمله اختلافات مقبول هستند.

۴ -در اختلاف توسعه و رحمت است . عمربن‌عبدالعزیز -رحمه‌الله- می‌فرماید: «اگر اصحاب پیامبر -صلی‌الله‌علیه‌وسلم- اختلاف نمی کردند من هرگز خوشحال نبودم؛ زیرا اگر آنان اختلاف نمی کردند برای ما اختلاف مجاز نبود». ابن‌عابدین شامي می‌گوید: «اختلاف در فروعات از نشانه‌های رحمت است؛ زیرا این نوع اختلاف توسعه اجتماعی را در پی دارد»؛ سپس اضافه می‌کند: «هر چه اختلاف‌ها بیشتر باشد رحمت بیشتر خواهد بود.»

-۵اختلاف منشأ تولید سرمایه‌های فقهی است که در طول تاریخ توسط فقها و علمای توانمند پدید آمده است و باعث تدوین آثار و کتاب‌های متعددی شده است .این تألیفات منبع فیض برای اهل علم و دانشجویان بوده و تا به امروز بخشی از تمدن و فرهنگ متعالی ما را تشکیل می‌دهد. ۶- جمهور متخصصان علم اصول بر این باورند که حق و صواب در مسائل اجتهاد ظنی، یکی هستند. کسی نمی‌تواند بر صحت رأی صواب تأکید بورزد درحالی که اجماع اصولیین معتقدند که تکثر آرای صواب می‌تواند به تکثر اجتهادهای مختلف بینجامد. هر مجتهدی که شرایط اجتهاد، اعم از نیت صالح، علم و آگاهی در مسئله‌ی مورد اجتهاد و تحقیقات کامل در موضوعی که اجتهاد می کند را داشته باشد. احکامی که استنباط کرده صواب و درست است. این قول، قولی است مستند و قوی که علما هم آن را تایید کرده‌اند.

-۷به‌طور کلی اهل اجتهاد در فروعات فقهی به اجر و ثواب می‌رسند. کسی که به صواب برسید دو پاداش دارد: اجر اول به خاطر تلاشی که کرده و اجر دوم به خاطر به صواب رسیدنش است؛ امّا مجتهدی که به خطا می‌رود، مادامی که شرایط اجتهاد را داشته باشد یک اجر به او تعلق می گیرد. مجتهد غیر مصیب (غیر اصابت کننده) در

فروعات دائماً مأجور و از هر گونه اتهام و بدعت گذاری مبّرا و معذور است.

-۸مقوله‌ی حق امری قدیمی است .چنانکه سیدنا عمر -رضی‌الله‌عنه- می‌فرماید: «حق را از هر کس می‌توان پذیرفت، مادامی که منطبق با دلیل و برهان باشد». قرآن هم در کلام بلقیس که کافر بود و خورشید را عبادت می‌کرد، به این نکته اشاره کرده و می‌فرماید: «قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ»(نمل: ۳۴): (گفت: به راستی شاهان آنگاه که وارد شهری شوند آن را به تباهی می‌کشانند و عزتمندان آنجا را درمانده می‌گردانند. اصلاً پیوسته شاهان چنین می‌کنند). در صحیح بخاری آمده است که وقتی ابوهریره -رضی‌الله‌عنه- آیة‌الکرسی را خواند شیطان او را تصدیق کرد. درحالی که شیطان دروغ‌گو است. بنابراین حقیقت، حکمت و راه راست گمشده‌ی مؤمن است که در هر جا آن را یافت مستحق‌ترین فرد برای کسب آن است.

-۹حق با معیار مردانش شناخته نمی‌شود، بلکه این مردان هستند که با معیار حق سنجیده می‌شوند. غیر از پیامبر هیچ کس دیگر معصوم نیست. همچنان که در حدیث آمده است: «بنی آدم جایز الخطاست.»

-۱۰اختلاف کنندگان همه در یک سطح نیستند؛ برخی مجتهد به خطا رفته، برخی ناآگاه معذور، عده‌ای متجاوز ظالم، عده‌ای بدعت گذار پیرو هواهای نفسانی و عده‌ای دیگر کافر و گمراه می‌باشند؛ لذا می‌بایست بنابر موضوع اختلاف، اسباب اختلاف و میزان فاصله از حق را به‌طور جداگانه طبقه‌بندی کرد.

-۱۱میان حکم مطلق و سبب القاء حکم بر محل فتوی فرق است. فتوای حکمی بر یک واقعه، نیاز به استدلال و دقت نظر دارد که علماء اصول به آن «تحقیق المناط» می‌گویند. فقها بر اصل حکم، اختلافی ندارند بلکه اختلاف پیرامون این است که این موقعیت و شرایط، این حکم را می‌پذیرد یا خیر؟

-۱۲احکام مطلقی که زمینه‌ی نزول آن اشخاص هستند، اختلاف نظر را در پی دارد. بدین گونه که آیا این مصداق اسباب و شروط وقوع چنین حکمی را داراست یا خیر؟ باید توجه داشت که اطلاق احکام به افراد، شناخت و دقت جامع و کاملی را می‌طلبد تا حکم در موقعیت صحیح قرار بگیرد؛ منتها این امر سبب شده تا اختلاف زیادی میان علما بوجود بیاید.

-۱۳قرآن و سنّت به صرف اختلاف عقلی، نفسانی، سلیقه‌ای و ذهنی در تعارض با یکدیگر قرار نمی‌گیرند.

-۱۴توافق و اجماع علما به ترک امر افضل، بهتر از مخالفت در اولویت‌هاست. همان‌طور که ابن‌سعود علی‌رغم اختلاف نظر با سیدنا عثمان -رضی‌الله‌عنه- نماز را به امامت ایشان کامل خواند و به مردم هم گفت: «پیروی و اطاعت کنید که اختلاف مذموم است.» ابن‌تیمیه هم به این مضمون سخنی دارند: «رواست که انسان به منظور حفظ وحدت و تألیف قلوب و ترس از تفرقه امری را که انجام آن افضلیت دارد ترک کند.

د خیبر عملیاتو بریالی پیل

حبیب مجاهد

د روان ۱۴۳۵ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۱۳ نیټه سهار پنځه بجې د الله اکبر د کفرلړزونکي غږ په زمزمه کولو او ورپسې د کابل په خواجه رواش هوایي ډګر کې د یرغلګرو په تاسیساتو باندې د توغندیو په برید سره سرې جهادي عملیات چې د اسلامي امارت له لوري د خیبر عملیاتو په نامه نومول شوي پیل شول.

د عملیاتو په همدې لومړي ورځ د افغانستان په لرا او بر کې په یرغلګر دښمن او دهغوی په داخلي مزدورانو باندې د توغندیو حملو، استشهادي برید ونو، چاودنو او خرپ او ترپ برید ونو لړی پیل شوه، د بګرام هوایي اډه چې د یرغلګرو ځواکونو د مرکزي قومنداني حیثیت لري د توغندیو تربرید لاندې راغله د شیندې هوایي ډګر چې دهیواد په لویدیځ کې د یرغلګرو ترټولو ستره قرارګاه ده د میزایلو تر اور لاندې ونیول شوه، په غزني ښار کې د ولایت ودانۍ او نور حکومتي تاسیسات تربرید لاندې راغلل، دغه راز د هیواد تقریبا په ټولو ولایاتو کې د څو ساعتونو په امتداد کې د د جهادي خیبري برید ونو تعداد تر سلګونو ورسید، د ورځې په پای کې د اسلامي امارت ویاند ویانو وویل چې د دورځې په اوږدو کې په درست هیواد کې په دښمن ۲۳۱ جهادي برید ونه ترسره شوي دي، د کرزي د حکومت د دفاع وزارت ویاند ظاهر عظیمي په خپله ټویټر پاڼه اعتراف وکړ چې په ۲۱ ولایاتو کې سلګونه برید ونه وربانديې شوي دي چې حکومتي قواوو او بهرنیو عسکرو ته په کې درنه مرګ ژوبله اوښتې.

د خیبر عملیاتو لومړی ورځ د جهادي عملیاتو د شمیر له اړخه د ولسمشرۍ د انتخاباتو له ورځې راهیسې ترټولو ګرمه

ورځ وه ، دانتخاباتو په ورځ مجاهدینو په د ښمن تر ۱۰۰۰ ډیر بریدونه ترسره کړي وو.

خیبر عملیات په داسې مهال پیل شول چې په هیواد کې جهادي ډګر له وړاندې په بریالیو عملیاتو توده شوی دی، دعملیاتو له پیل څو ورځې وړاندې د می میاشتې په نهمه نیټه د فراه ولایت په بالابلوک ولسوالۍ کې په یوه اوږده جګړه کې داخلي دښمن ته خورا درانه تلفات ورسیدل، په دې ورځ د بالابلوک ولسوالۍ په ګنج اباد ، خواجه خدر، کال قلعه او شیوان سیمه کې له دښمن سره په څو ساعته جګړه کې د دښمن ۳۳ تنه عسکر قتل او ۲۲ نور ژوبل شول په همدې جګړه کې د دښمن دوه ټانکونه ، یورینجر موټر ، یوه دهشکه ، ۳ آرپي جي راکټونه ، ۳ ثقیلان ، یو کلاشنکوف ، ۳ تفنګچي ، ۲ بم افګن ، ۱۲۰۰۰ د کلاشنکوف مرمۍ ، ۲۲۰۰۰ د ثقیل مرمۍ ، ۲۰۰۰ د دهشکې مرمۍ او نور مهمات مجاهدینو غنیمت کړل او ترخونډي سیمو پورې یې ورسول.

له دې پیښې یوه ورځ وروسته د می میاشتې په لسمه نیټه د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کې د ولسوالۍ دودانۍ مخ ته پر ولاړو خارجیانو د اسلامي امارت دیوه اتل فدایي قهرمان ملا حبیب الله پکتیاوال له لورې د سراچه موټر په توسط په داسې حال کې فدایي برید ترسره شو چې کله د وی خپلو ټانګونو ته ختل چې پکې یو ټانک له منځه ولاړ کله چې امریکایان پر خپلو وژل شویو عسکرو را ټول شول بل قهرمان فدایي نورالله چې د قندهار اوسید ونکی وو د موټر سائیکل په توسط ورباندې فدایي برید وکړ چې پکې تر ۱۵ زیات خارجي عسکر ووژل شول او زیات شمیر نور ژوبل شول، په همدې ورځ د میدان وردګو ولایت په سیداباد ولسوالۍ کې مجاهدینو د دښمن په اکمالاتي موټرو باندې په بریالي برید کې د دښمن تر پنځلس زیات موټر تخریب او وسوزول په دې برید کې د دښمن ۱۴ تن ګوډاګي عسکر هم ووژل شول.

بل اړخ ته د خیبر عملیاتو پیل د دښمن د هغو سترو عملیاتو له شکست سره هم مهاله وو چې د غزني ولایت په ګیلان ولسوالي کې یې پیل کړي وو، د دښمن سلګونو عسکرو ، اربکیانو او پولیسو د می میاشتې په دوهمه نیټه د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ د نیولو لپاره ستر عملیات پیل کړل ، دا عملیات چې د دښمن ۱۵۰ زیات پوځي موټر ، او درنې وسلې هم په کې کاریدلې ۹ ورځې روان وو ، دعملیاتو له امله د پنځلسو کلیو تر ۳۰۰ زیاتي کورنۍ د کورونو پریښودلو ته اړې شوې، د دښمن ټوله هڅه وکړه چې دا مهمه سیمه له مجاهدینو ونیسي ، د همدې

لپاره يې پراخ تبليغات هم وکړل او بيا بيا يې د سلګونو مجاهدينو د وژلو خبرونه خپاره کړل مګر د مې مياشتې په ۱۱ مه نيټه د خيبر عملياتو له پيل يوه ورځ وړاندې دښمن په داسې حال کې شکست وخوړ او لښکر يې وتښتيد چې په نهه ورځنۍ جګړه کې يې ۴۲ تنه عسکر او اربکيان ووژل شول او ګڼ شمير ټانګونه او پوځي وسايط دمجاهدينو لخوا په درنو انفجاراتو کې له منځه لاړل.

په ګيلان کې د دښمن د سخت شکست څخه يوه ورځ وروسته د مې مياشتې په ۱۲ نيټه مجاهدينو د خيبر عمليات پيل کړل، د عملياتو په لومړۍ ورځ د پورته يادو شويو بريدونو نه علاوه يو مهم استشهادي برید په ننګرهار کې د عدليه چارو په رياست ترسره شو چې د ورځې تر پايه جګړې دوام وکړ او د دښمن تر ۲۰ ډير مهم کسان په کې له منځه لاړل.

د خيبر عملياتو دوهمه ورځ هم دهيواد په لرا وبر کې د بريالیو جهادي بريدونه شاهده وه، په دې ورځ د غزني ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې مجاهدينو د اربکيانو په پوستو هم مهاله بريدونه پيل کړل، چې د دښمن ته يې درنه مرګ ژوبله درلوده، د دې عملياتو په مهال د نعيم کلا، قبرغې، خونيانو او خالو خيل په سيمو کې اربکيانو ته درنه مرګ ژوبله واوښته او اربکيان مجبور شول چې ځيني پوستې مجاهدينو ته پرېږدي، په دې ورځ د زابل ولايت په مرکز قلات کې د پوليس د کنډک قومندانۍ مخې ته د يوه موټر بم د انفجار له امله ۲۷ تنو حکومتي عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، حکومتي چارواکو د خپلو ۱۲ تنو پوليسو تپي کيدل رسما تاييد کړل، د عملياتو په دريمه ورځ د لسګونو نورو بريدونو ترڅنګ يو دپامور برید د کابل بنار د اتمې حوزې په سيمه کې د پوځيانو د يوه موټر انفجار وو، په دې سيمه کې ښاري مجاهدينو د مقناطيسي ماين په واسطه د دښمن له افرادو ډک موټر تباه او ګڼ کسان يې په کې ووژل، په همدې ورځ د هلمند ولايت په مارجه ولسوالۍ د مجاهدينو يوه نفوذي ملګري چې د دښمن په ليکو کې يې فعاليت کاوو، د دښمن په يوه پوسته کې د يوه قومندان په شمول څلور اربکيان ووژل او له يوه موټر او د پوستې له توپو وسلو او وسائلو سره له مجاهدينو سره يوځای شو.

د خيبر عملياتو په دريمه ورځ بله مهمه پېښه د کندهار ولايت په سرحدي ولسوالۍ بولدک کې د پوليسو په قومندانۍ د څلورو فدايانو ډلييز برید وو چې د څلور ساعته جګړې په نتيجه کې په کې د پوليس د کنډک

قومندان تورجان او معاون نثار پهلوان په شمول تر څلويښتو پوري عسکر مړه او تپيان شول ، د بولدک برید چې خورا خونړی وو او دښمن ته يې درانه مرګ ژوبله درلوده دښمن يې په ډيره ظالمانه توګه انتقام د فدايانو له جسدونو څخه واخيست او د فدايانو جسدونه يې په ټانګونو پورې را ځوړند او په بد حالت کې د عامو خلکو نندارې ته کيښودل چې ددښمن دغه کرکجنه کړنه د عامو مسلمانانو او اسلامي امارت لخوا په سختو ټکو وغندل شوه.

د خيبر عملياتو د اعلان او پيل په اونۍ کې د دومره ستر جهادي بريا وو تر لاسه کيدل او د ورځينو عادي بريدونو سره سره د لويو او هدفمندو عملياتو بريالی تنفيذ په دې دلالت کوي چې دغه عمليات هم لله الحمد د پخوانيو عملياتو غوندې په پوره بريالیتوب پيل شوي او له پلان سره سم په پوره بڼه په مخ روان دي.

له نظامي نقطه نظره په جګړه کې د بريا له وجوهاتو څخه يوه وجه د مورال لوړتيا او جګړې ته بدني او روحي امادګي ده ، د خيبر عملياتو له پيل وروسته په دومره کمه زماني مقطع کې د مجاهدينو لخوا د داسې پرلپسې او هدفمندو بريدونو ترسره کول په ډاګه کوي چې مجاهدين له هره اړخه د دې عملياتو ته اماده او دتل په شان د کفر په خلاف جهادي خوځښت ته ژمن دي.

د مجاهدينو همدا عملي تعهد او طوفاني عمليات د دشمن په هغو تبليغاتو د بطلان کرښه راتيروي چې له خپلو دروغجنو رسنيو څخه په استفاده قسما قسم تبليغات کوي، کله وايي مجاهدين له جګړې ستومانه شوي، کله وايي د جهادي مقاومت لپاره د مجاهدينو اراده او انګيزه کمزورې شوې او کله وايي مجاهدين له لوژيستيکي او تسليحاتي اړخه له کمښت سره مخامخ دي.

خو د خيبر عملياتو بريالي پيل وښوده، چې مجاهدين د هرکله په پرتله د جهادي خوځښت پاللو او دبريا تر پولې رسولو ته ژمن او بشپړ اماده ده ، په الهي نصرت په اتکاء سره مورې باور لرو ، لکه څنګه چې د خيبر غزوه د اسلام په تاريخ کې د يهودي دښمنانو داضمحلال او شکست تاکونکی معرکه وه ان شاءالله تعالی د خيبر په نامه پيل شوي عمليات به هم د يرغلګر دښمن په ککړې وروستۍ مرګونې ګوزار شي ، او د دې عملياتو په برکت به مجاهدين وتوانيږي چې يرغلګر او په تيښته سر دښمنان په بشپړه توګه د اسلام له خاورې وباسي.

دزده کړي اوتعليم صحيح لاري

م، ص، سيال

په دنيا کې دهرڅو ، کمال اوعلم دلاس ته راوړلو لپاره ديوې سمې اوصحيح طريقې په کار اچول ضروري دي ، له دې طريقې پرته دعقل اوپوهې په تينې کوم علم اوکمال په صحيح طور سره لاس ته راوړل يوناشونې کار دی ، ولې په يقيني ډول بايد معلوم کړو چې انجنيري ، ډاکټري ، طبابت ، نجاري ، دهقاني اوداسې نورچې دانساني عقل په مټ پيداشوي علوم اوفنون دي ، دڅانګړو لارښوونو او اساتذه وو پرته لاس ته نه شي راتلای ، نودايمان ، اسلام اوشريعت دحقايقو دحاصلولولپاره خوڅامخا ديوه استاذ يا رهنماسره حضور ضروري دی ، ځکه چې ديني علوم دعقل او ادراک له دائري څخه لوړدي ، اودرباني وحې په ذريعه ثابت ته رارسيدلي ، نويوازې اويوازې په اسماني تربيت اوالهي ارشاد اوهدايت سره يې زده کولای شو .

نودطالب العلم لپاره په کارده چې دتعليم طريقه هم له همدغه ارشاداتوڅخه زده کړي ، ځکه ديوه شي مقدمه دهغه شي برخه بلل کيږي ، نوځکه خوبايد طالب العلم لاندې امورپه نظرکې ولري :

اول – طالب العلم ته دعلم دحاصلولو لپاره له خلوص اواخلاص څخه ډک نيت کول ضروري ده ، هوداسې يونيت چې مطلوب په کې اصلا دالله تعالى رضا اودخپل آخرت سمول وي ، اوپه کومه فاسده اراده يادنيوي غرض دې ددينې علومودحاصلولو نيت نه کوي ، ځکه رسول الله " صلى الله عليه وسلم " فرمايي : دهرعمل بدله په نيت موقوفه ده ، اوهرشخص ته به هغه څه ملاويږي چې ده يې نيت درلود .

که چېرې يوتن خالص دالله تعالى درضا لاس ته راوړلو اوثواب ګټلو لپاره کوم کاروکړي نو الله تعالى به ثواب ورکړي ، اوکه يې دکوم فاسد نيت له مخې کوم عمل ترسره کړي نو له الله تعالى سره يې هيڅ اجرنشته .

په یوحدیث قدسي کې دالله تعالی ارشاد دی : کله چې یوڅوک په خپل عمل کې له ماسره څوک شریک کړي نوزه هغه بنده اوهغه عمل پریږدم ، زه صرف هغه عمل قبلوم چې هغه خالص زماپاره وي .

په یوه بل حدیث کې رسول الله " صلی الله علیه وسلم " فرمایي : په جهنم کې یوه کنده ده چې جهنم په ورځ کې څلورسوه واره تري پناه غواړي ، هغه کنده به دریاکارانو قاریانولپاره وي

اوپه یوه بل حدیث کې ارشاد دی رسول الله " صلی الله علیه وسلم " فرمایي : زه پرتاسو له واړه شرک څخه ترټولو ټولو ګناهونو ډیره ویره لرم ، صحابه کرامو عرض وکړ وو شرک څه دی ؟ حضوراکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ریاده !

په یوه بل حدیث کې داسي هم اضافه شوي چې په کومه ورځ کې الله تعالی خپلو بندګانوته داعمالو بدله ورکوي ، نو ریاکارانوته به ووایي : کومو خلکوته چې تاسودخپلو اعمالو ورلیدل غوښتل اوپه همدغه نیت مو هغه اعمال کول ، اوس وګورئ چې له هغوی سره ستاسو داعمالو بدله شته اوکنه .

همدارنګه په ابوداؤد کې یوحدیث نقل شوی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : علم دوه لپاره مه زده کوئ چې دنورو په وړاندې فخر وربانده وکړئ ، یاله جاهلانوسره بحثونه وکړئ ، یاپه مجلس کې په اوچتو ځایونوکښېنئ ، کله چې یوڅوک هم داسي عمل کوي نو دهغه لپاره دوزخ دی دوزخ په علم کې دخلوص اوصفائیت په اړه دډیرو احادیثو ترڅنګ دسلفو صالحینو ډیري ویناوي هم شته :

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایي : که چېرې اهل علم دخپل علم عزت کوي اوهغه پرخپل ځای استعمالوي نو دزمانې سردار به جوړشي ، مګرهغه اهل علم چې دخپل علم قدرنه پیژني اودمالدارو اودنیا دارو په قدمونوکې یې دخپل لپاره غورځوي چې څه تري حاصل کړي ، دهغوئ نتیجه به داوي چې خلیل اوخوار به شي .

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه یوه مقوله ده ، که چېرې اهل علم دخپل علم عزت کوي ، اودهغه موافق عمل کوي نو الله تعالی اوالله تعالی ملائکي اونیک بندګان به له هغه سره محبت اومینه کوي ، اوپرټول مخلوق به دهغه رعب اودبدبه وي ، مګرهغه کسان چې خپل علم یې دنیا لاسته راوړلو ذریعه جوړکړی وي نوله همدي امله الله تعالی هم ورڅخه ناراض اوپه مخلوق کې هم قدرمن نه تمامیږي .

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمایي : دعلم لپاره اول دبنه نیت بیا دبنه فهم بیا دبنه عمل اوبیا دبنه ستاتلو اوله دي وروسته یې دخپرولو اوترویجولو ضرورت دی .

همدارنګه ابوعبدالله سنجري رحمه الله تعالى فرمايي : د چاچې علم له رياڅخه خالي نه وي دهغوئ عمل نه شي پاکيدلاى ، اودچاچې عمل نه وي پاک دهغوى بدن نه وي پاک ، اودچاچې بدن نه وي پاک دهغه زړه نه شي پاکيدلاى .

سفيان ابن عيينه رحمه الله به خپلو شاګردانوته ويل : دعلم دحاصلولو لپاره دنيت خلوص ضروري وبولئ ، اودنفس خواهشات کم کړئ ، په الله تعالى قسم که چيري زه دنفس هر خواهش پوره کوم نوزه ويربنم چې علم به راڅخه پاتې کيږي .

دوهم – لکه څرنګه چې لمونځ دظاهري اعضاوو عبادت دى اوبيله ظاهري پاکوالي نه شي حاصليدلى ، همدارنګه علم دباطني اعضاوو عبادت دى ، يعني په زړه سره ادا کيږي ، نوځکه خوعلم هم له باطني پاکوالي پرته نه شي حاصليدلاى ، نوله همدې امله طالب العلم لره پکاردي چې خپل ځان له بدوکارونو اوبدو صفتونوڅخه پاک کړي ، يعني له دروغو ، غيبت ، بهتان ، غلا ، عبث خبرو اوبدو مجلسونوڅخه هميشه ځان وساتي

په (تعليم المتعلم) کې په يوه رانقل شوي حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : کله چې يوڅوک دطالب العلمي په دوران کې له ګناهونوڅخه احتياط نه کوي ، نوالله تعالى به دغه کس په درې شيانوکې ضرور په يوه شي مبتلاکړي ، يابه په عين ځوانې کې مړشي ، يابه له فضل اوکمال سره سره په داسې ځايونوکې اوسي چې له ده څخه علم ضايع شي اودعلم ترويج نه شي کولى ، اويابه دحکوم بادشاه اورئيس په خدمت کې دلتونه برداشت کړي .

همدارنګه يوفقيه زاهد خپل يوه شاګرد ته په خپل نصيحت کې داسې وايي : له غيبت څخه ځان وساته اوله هغه خلکوسره ډوک چې بيهوده اوعبث خبرې کوي هيڅ کله مه کښينه ، ځکه کوم ډوک چې عبث مجلسونه کوي ، هغوى خپل اوستاسو دواړو وخت ضائع کوي ، له ګناهکارو اومفسدو خلکو څخه بايد اجتناب وکړئ .

ميمون بن مهران – رحمه الله – په دې اړه فرمايي : دعلم زده کړه کول اودهغه زياتيدل ترهغوبې ګټې دي ، ترڅو چې اطاعت اوله خداى جل جلاله څخه ويره ورسره زياته نه شي .

دحضرت مولانا مظفرحسين کاندهلوي – رحمه الله – په حال‌اتوکې راځي چې : دطالبې په دوران کې به يې له بازارڅخه يوانې چوچې رااخسته اوسالن به يې له دې وجهې نه را اخيست چې په هغه زمانه کې په هوټلونوکې له سالن سره لازما اسچور کچيدل ، اودهمدې زمانې په بيع کې چې دآمونو دبيع رواج ؤ هغه شرعا ناجائزؤ ، له همدې امله يې چوچې له سالن پرته اخسته ، دنومورې دې احتياط اثر داؤ چې مشتبه مال به يې معدې نه قبلول ، چې کله به

يې هم کوم داسي خوراک وخوړو نو سمدستي به يې قيئ کول

همداراز درحمة المتعلمين مصنف ليکي : طالب العلم ته پکاردە چې په خوراک اوڅښاک کې له احتياط څخه کارواخلي ، حلاله روزي وخوري اوله حرامو څخه ځان وژغوري ، ځکه چې الله تعالى فرمايي : ياايهاالرسل کلوا من الطيبات واعملوا صالحا ،

اى رسولانو تاسو له حلالو څخه خوراک کوئ اونيک اعمال کوئ

مفسرين دې آيت په تفسيرکې يوه داسي نکته بيانوي چې : دحلال خوراک کولو امر الله تعالى له دې امله مخ کې کړى چې ځنيک عمل په کولو کې حلال خوراک زيات اثر لري ، پرته له حلالې روزي عمل صالح نه شي ترسره کيدلاى .

نوطالب العلم که واقعا غواړي چې له خپل علم څخه فايده پورته کړي اونوروته يې هم گټه ورسيږي نودخپل ځان له اصلاح کيدلو څخه دې هيڅ کله نه غافله کيږي

نورېبا.....

د ماشوم او کاهل (غټ) تر منځ طبي فرق

ډاکټر بشير احمد محبوبي

:

که څه هم ددوی تر منځ فرقونه ډير دي خو غواړم يو څو عمده يې ستاسي سره شريک کړم

۱ -د ماشوم سر دهغه د تنې به نسبت غټ وي

۲ -په ماشومانو کې د هغوی د بدن د حرارت د درجې د تنظيم ميکانيزم نيمگړی او ثابت نه وی

۳ -د ماشومانو هوايی طروق يا ليارې کوچنی او د زياتو نرمو انساجو لرونکی دی او د کريکويډ په نوم غضروف کې تنگوالی ليدل کيږی

۴-د تنفس شمير نسبت کاهلانو ته سريع يا چابک دی

۵-په ماشومانو کې دوچې غاړې او مرې فوځي يا ليارې ډير سره نژدې وی

۶-ماشومان ډير ژر د مايعاتو اعاده کولای شی يعنی که چيرې يو ماشوم مايعات له لاسه ورکړی ژر ډير ته اعاده کيدای شی

۷-د ماشومانو وينه کمه وی ،له همدی کبله د خونريزی په وخت کې د زيات خطر سره مخامخ دی کيدای شی د عادی زخم پواسطه د شاک سره مخامخ شی

۸-ماشوم د اندازی يا د جسامت له لحاظه کوچنی وی

۹-ماشوم د درد په وخت کې په اسانۍ ژاړی

۱۰-ماشوم د مور، پلار او داکتر و مرستې ته ډير تيا لری

۱۱-د ماشوم قلبی ضربان تيز وی

۱۲-د ماشوم د پوستکی سطحه زياته وی نظر د ماشوم د وزن په حساب ، ددی نه معلوميږی چې ماشوم د سوځيدو په وخت کې زيات مايعات له لاسه ورکوی

۱۳-ماشوم کم عضلات لو شحم لری او د پڅو ضرباتو په مقابل کې ډير حساس دی

۱۴-د ماشوم بطنی اعضاوی لوی وی نسبت کاهلانو ته ،د ماشوم د حجاب حاجز پرده چې نس (بطن) او سينه سره جلا کوی نسبت کاهلانو (غټانو) ته کښته قرارلری چې په امله ماشوم دينی ،توری او اثنا عشر د زخمو سره ډير زيات مخامخ کيږی.

د جهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

ابو محمد (حنفي)

دارالحرب یا د جنګ ډګر ته د قرآن کریم وړل

جهاد کې دویم منهي عنه (مکروه) دارالحرب یا د جګړې ډګر ته د قرآنکریم وړل دي ،چې د اطلاق او تقیید په باب یې د څلورګونو مذاهبو د فقهاوو ترمنځ اختلاف ترسترګو کیږي ،هغه داسې چې: د(المبسوط للامام السرخسي ، هدایې ،تبیین الحقایق علی کنزالدقایق ،محیط البرهاني ،الدرالمختارعلی تنویر الابصار ،البحرالرایق ،العنایة شرح الهدایة ،فتح القدیر، اللباب في شرح الکتاب ،البدایع الصنایع للکاساني او د حنفي فقه دنورو معتمدو کتابونو دمطالعې څخه څرګندیږي، چې احناف فقهاء تقریبا ټول د دې حدیث شریف د ورود له امله چې {لا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ} پدې نظر دي ،چې د جهاد میدان او دارالحرب ته قرآن کریم وړل مکروه دي ،خو دا مطلقا نه، بلکې هغه وخت چې کله دمجاهدینو شمیر لږ وي او د جیش یا عظیم لښکر تر شمیره یې دعسکرو تعداد نه رسیږي ،ځکه دا مهال چې دمجاهدینو تعداد کم وي ، نو د دې شونتیا زیاته وي چې کفار د قرآن کریم بې حرمتي او استخاف وکړي ،خو که چیرته دمجاهدینو شمیر تریوه ستر لښکره رسیده، نو بیا دا نهي یا کراهت نشته اود مذکور حدیث شریف همدا تأویل صحیح او پرځای دی، چې د وړلو کراهت یې

دمسلمانانو ترضعيف افرادي قوت سره تړاو پيدا کړي ،خو که بيا دمسلمانانو دافرادي قوت او پوځي ځواک داطمينان او اعتماد ورو، نو دکراهت له تنګنا څخه وځي او دمشروعيت پرلاره سميږي چې البته دا حنفي مذهب دعامو متونو ،شروحو او فتاوو توجيه او تقييد دی ،خو دستر محدث او نامتو فقيه امام طحاوي رح په آند دارالحرب ته دقرآنکريم ورل مطلقا مشروعيت لري او داحاديثو دا امام ديو ستر لښکر يا پوځي ځواک شتون ددې لپاره نن سبا حتمي شرط نه بولي ، او امام طحاوي رحمه الله په (مشکل الاثار) کې بيا ددې قوق الذکر حديث محمل او حکم داسلام لومړني وختونه بولي چې وروسته بيا دا دنهي حکم منسوخ شو ،ځکه چې هغه وخت دقرآن حافظان دګوتو په شمير او د قران کريم ليکې نسخې هم کمې وي،نو دقرانکريم دضايع کيدو او هماغه لومړنيو وختونو کې دقران کريم د ضايع کيدو خطرات ډيروو ،نو ځکه يې جهاد ته ورل منهي او مکروه وګرځول شول ، اوس چې دا هر څه پريمانه دي ، هم په کثير تعداد کې حافظان شته او هم دقرآنکريم نسخې ښې ډيرې دي او دا خطر منتفي دی ،نو دارالحرب يا ميدان جنګ ته يې ورل باک نلري ،خو زيات فقهاء ددې فوق الذکر حديث همدا شرح او دجيش عظيم قيد دجواز لپاره لازمي شرط بولي، چې که لوی لښکرو،نو بيا يې ورل منع ندې ،(قاضي خان فتاوی) ليکلې چې د حضرت امام ابوحنيفه رح په آند لښکر يا جيش په دغلور سوو(۴۰۰) عسکرو څخه کم نه وي او (سريه) هغه ده چې هغه به له (۲۰۰) عسکرو څخه کمه نوي ، دحضرت حسن بن زياد رح په قول چې دا هم دامام صيب يو قول دی وايې چې (سريه) هغه ده، چې له (۴۰۰) څخه کمه نه وي او لښکر هغه دی چې له (۴۰۰۰) څخه يې شميره لږه نه وي ، او دعلامه ابن الهمام رح په نظر مناسب داده چې لښکر بايد دولس زره(۱۲۰۰۰) تنه وي

بل طرف ته نور فقهاء لکه امام مالک رح او امام شافعي رح غوندې دمذاهبو امامان يې دغزا ډګر ته ورل په مطلق ډول منع کوي ، چې (الموسوعة الفقهية) کې په جمهورو فقهاوو ياد شوي دي ،ددوئ له نظره دقرآنکريم ورل دارالحرب يا دجهاد ميدان ته مطلق منهي عنه دی او دوئ په ظاهر ددې فوق الذکر حديث باندې استدلال کوي ، چې پکې له ورلو نه مما نعت شوی دی، چې نوره تشريح يې دکتابونو دحوالو سره په لاندې ډول ده.

په نامتو فتاوی (الدر المختار للحصفكي)كې ليكي چې:

ب- منع إخراج المصحف وكتب الشرع في الجهاد:

(ونهينا عن إخراج ما يجب تعظيمه ويحرم الاستخفاف به كمصحف وكتب فقه وحديث وامرأة) ولو عجوزا لمداواة هو الاصح (ذخيرة).

وأراد بالنهي ما في مسلم لا تسافروا بالقرآن في أرض العدو (إلا في جيش يؤمن عليه) فلا كراهة، لكن إخراج العجائز والامام أولى (وإذا دخل مسلم إليهم بأمان جاز حمل المصحف معه إذا كانوا يوفون بالعهد) لان الظاهر عدم تعرضهم.

هداية (و) نهينا (الدر المختار للحصفكي /ج۴ص۳۰۲)

لنډه ژباړه: مونږ دارالحرب ته دهغه څه له وړلو څخه منع شوي يو، چې دهغې تعظيم واجب او سپکاوی يې حرام دی، لکه قرآنکريم، دفقه او حديثو کتابونه وړل، او يا دجنګ ميدان ته نسخه بوتلل، عام ددې څخه چې دا نسخه ځوانه وي که زړه، او صحيح مسلم کې ددې نهي څخه چې فرمايي: تاسو ددښمن سيمو ته قرآن کريم باندې سفر مه کوئ! موخه داده، چې که داسې کوم لښکر له ځانه سره قرانکريم وړ، چې هغه داسې جيش و، چې دساتنې باور او ډاډ يې له ځانه درلوده، نو بيا دقرآنکريم په وړلو کې کوم کراهت نشته، خوددې لوی لښکر سره بيا هم دځوانو نسخو پرځای که زړې نسخې او يا وينځې وي، نو غوره به وي، او کله چې کوم مسلمان دارالحرب ته له امان سره (يعنې دننې ضوابطو له مخې پاسپورټ او ويزه يې له اړوند سفارت يا کونسلګری څخه اخستې وي) او کفار په خپلو ژمنو ولاړ وي، داخل شو او قرآن کريم له ځانه يوسي باک نلري، ځکه ظاهره داده، چې دوئ به تعرض ونکړي.

همداسې دامام سرخسي په المبسوط کې ليکلي چې:

دحضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روايت شوی، چې په تحقيق رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې څخه منع کړي، چې مصاحف دې د دښمن ځمکې ته داخل (يوړل) شي، او مشهور پدې کې درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه هغه نقل شوی روايت دی، چې فرمايي: (لا تسافروا بالقرآن إلى أرض العدو)، دې حديث شريف کې نهي ددې ويړې نه شوي، چې گوندې قرآن کريم به ددښمنانو لاس ته ورشي، او دوئ به يې توهين وکړي، نو دمجاهدينو په (سريه) کې دنهی دا حکم

شتون لري ، ځکه ددوئ قوت او دفاع نه وي ،خو کـه چيرتـه د(صـائفي) غونـدي مجاهـدينو لـوی لښکر يـې لـه ځانـه سره يوسي ،نو ددې باک بيا نشته چې کوم سړی يې دتبرک لپاره يوسي او هلته پکې تلاوت وکړي ،داځکه چې دوئ ترې دخپل پوځي ځواک له امله ددفاع ځخه ډاډ لري.

دالمبسوط غوندې (تبيين الحقايق) هم رانقـل کـړي ،چـې امـام طحـاوي رح پـه (مشـکل الاثـار) کې ليکي ،چې دا نهي داسلام په ابتداء کې هغه وخت وه ، چې مصاحف او قاريان کم وو ،(وذكر الطحاوي رحمه الله تعالى في مشكل الآثار ان هذا النهي كان في ذلك الوقت

كثرت المصاحف وكثر الحافظون للقرآن عن ظهر القلب فلا بأس بحمل

المصحف إلى أرض العدو لانه لا يخاف فوت شئ من القرآن وان وقع بعض

المصـاحف فـي أيـديهم.....)او اوس چې هم مصاحف ډير دي او هم حافظان ،نو د دښمن ځمکې تـه دقـرآن ورل بـاک نلري، ځکه دقرآن کريم دضايع کيدو خطر نشته. (المبسـوط لشـمس الـدين السرخسي/ج۲/ص۵۵)

داړوندې موضوع په هکله د حنفي فقه يو بل شاندار کتاب (بدايع الصنايع فی ترتيـب الشـرايع للكاسـاني /ج۹/ص۲۹۹) کې داسې ليکي ترجمه: و به كتل شي ، كه چيرته دمسلمانو عسكرو شمير دومره ډير وو ،چې دقـران کـريم پـه سـاتلو يـې ډاډ درلـود ، نـو بيـا يـې ورل بـاک نلري، ځکـه مسـلمان عسـکر تـلاوت او قرائت تـه اړتيـا لري اود حفاظت اطمينـان يې هم شته ،خو کـه دمسـلمانو عسـکرو شمير د(سـربې) پـه بنه وو ،او د ددې داستخفاف ويره وه ، نو بيا دقرانکريم ورل او مسـافرت کول دارالحرب تـه مکروه دي، چې په همدې توجيـه بـه نومورې حديث شريف محمول شي.

د(کنزالدقايق) مشهورې شرحې اومنـل شوې فتاوی (البحرالرائق على كنز الدقائق) کې داسې ليکي ژباړه:او مونږ پـه هغـه (سربه) کې چې دمصحف او ښځې په باب په کې ويره شتون ولري، ددوئ د اخراج يـا دار الحـرب تـه لـه ورلـو ځخه منع يـو، ځکـه پـدې کې دښځو د ضـايع کيـدو او رسوا کيدو تعريض دی او همداسې دقران کـريم اهانـت ځـای تـه معـروض کـول دي ،ځکه دوئ به دمسلمانانو دقهرولو لپاره دقران کريم استخفاف اوسپکاوی وکړي او همدا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې حـديث صـحيح تاويـل دی ، چـې فرمـايې (لاتسـافروا بالقرآن في أرض العدو) او هغـه

چې په کتاب کې دي ، اصح او احوط دي ،دې کې دامام طحاوي رح خلاف ثابت دی ، ځکه دا فرمايي چې دارالحرب ته دقرآن ورل مطلقا کراهت نلري ،ښځه هم مطلق ذکر شوي ،ددې لپاره چې ځواني او زړې دواړو ته شامل شي، عام ددې نه چې دتداوی لپاره ورسره ځي او که دبل کار لپاره...دلته دسريه کلمه راغلـه ددې لپاره چې لوی لښکر تړې ووځي، ځکه کله چې جيش وي او ډاډ ولري، نو بيا يې ورل کراهت نلري ،په نص کې د(سريه) کومه تاکل شوي اندازه یاشمیرته نده راغلې، البته (فتاوي خانيه) دامام ابوحنيفه رح په حواله کاږي چې (سريه) هغه ده ، چې د(۲۰۰)څخه يې شميره لږه نه وي او لښکر يا جيش هغه دی ، چې د(۴۰۰)څخه کم نه وي ،حسن بن زياد رح وايي ،چې د(سريې) لږه شميره(۴۰۰)او دلښکر لږه شميره (۴۰۰۰)کسه ده، خو د(فتح القدير)مؤلف علامه ابن الهمام رح فرمايي: چې مناسب داده چې دجيش يا لوی لښکر شميره له(۱۲۰۰۰) څخه لږه نه وي، لکه دې عبارت کې چې (وينبغي کون العسکر العظيم اثني عشر ألفا لما روي أنه عليه السلام قال لن تغلب اثناء عشر ألفا من قلة). (البحرالرايق /ج۱۱/ص۲۰۷)

علامه ابن الهمام په فتح القدير کې داسې ليکي چې:که چيرته دمسلمانانولښکر غټ و،نو ددې کوم باک نشته ،چې يا له ځان سره ښځې ميدان جنګ ته بوځي او يا مصاحف يوسي،ځکه غالب پکې سالميت دی او غالب کالمتحقق وي ،خو په سريه کې چې بې امنيته وي، ورل او بوتلل يې مکروه دي،ځکه پدې سره دښځو بې ستره کيدل او دمصاحفو استخفاف دی ،اوداددې حديث صحيح تاويل دی ،چې تاسو په قرآن ددښمن ځمکو ته سفر مه کوئ (فتح القدير/ج۱۲/ص۴۰۲)

همدا مفهوم په لاندينو معتمدو فقهي کتابونوکې تصوير شوی دی لکه(العناية شرح الهداية /ج۷/ص۴۴۸)،(اللباب في شرح الكتاب /ج۱/ص۳۹۷)،(تبيين الحقايق شرح كنزالدقايق /ج۹/ص۳۷۹).

په مجموعي ډول تقريبا دټولو فقهاوو افاديت يو شان دی اوهغه دکفارو په لاس قرآن کريم له يې حرمتي ځخه ژغورل او په نومورې حديث باندې عمل کول دي ، خوددې مذکور په طرق استدلال کې څه تفاوتونه شته ،اوهغه داسې چې احناف دا وايي، چې که چيرته دقرآن کريم په هکله د دښمن لخوا داستخفاف او اهانت ويره نه وي (چې يوه ستر پوځ يې بدرګه کوله)نو بيا يې

ورلو کې کراهت نشته ،بلکې دتلاوت او تبرک لپاره يې له ځانه مسلمانان ورلای شي، لکه چې دې حديث کې همدا مفهوم ښه معلوميږي:وأَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فَإِنِّي لَا آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ} دې حديث کې داحنافو داستدلال نمط داسې دی، چې دنومورې حديث آخر کې دا الفاظ راغلي چې (فَإِنِّي لَا آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ) يعني نبي عليه السلام چې دجنګ ډګر ته دقرآن دورلو څخه ممانعت کړی ، لامل يې دادی چې هسې نه چې دا قرآن داسلام د دښمنانو لاس ته ورشي او هغوئ يې استخفاف او اهانت ونکړي، نو ځکه يې ورل مکروه شول ،خو که چيرته دا اندیښنه نه وه اونه ددښمن څخه دکتاب الله دبي حرمتي ويره وه، نو بيا يې ورل کراهت نلري ، چې د دې حديث دې ډول تشريح او توجيه سره ډير اشکالات له منځه ځي او داستدلال ډول منطقي خواته تمايل ښيي، خو برعکس دا نور مذاهب چې ددې نظريې سره مخالفت کوي ،طريق استدلال يې ظاهر النص دی ،او دحديث دمعنويت عمق ته نه ورښکته کيږي ، علامه کمال ابن الهمام رح د(فتح القدير/ج۱۲/ص۴۰۴)ليکي چې دا زمونږ ظاهر مذهب دی او دامام شافعي رح او امام مالک رح په مذهب کې داطلاق دحديث له املـه يې ورل مطلق منع دي ، لکه دفتح القدير پدې عبارت کې چې: وَهَذَا ظَاهِرُ مَذْهَبِنَا ، وَمَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَمَذْهَبُ مَالِكٍ إطْلَاقُ الْمَنْعِ أَخْذًا بِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ.

سره ددې چې دامام شافعي رح او امام مالک رح مذهب همدا دی ،چې قرآن به دارالحرب او دجګړې ميدان ته مجاهدين نه وړي، خو مونږ دروسانو دجهاد پروخت د جهاد په ډير مورچلونو کې ددډيرو داسې صحنو شاهدان يو ، چې ډيرى هغه عربي مجاهدين ،چې احناف به هم نه وو، مګر خپلو معسکراتو کې به يې قرآن کريمونه له ځانونو سره ساتل ، جهادي قرارګاه کې به ورسره و او تلاوت به يې پکې کاوه ،داسې مو هم ډير وليدل، چې هر ساعت به يې تلاوت کاوه او کوچني کوچني مصاحف به يې له ځانونو سره جيبونو کې ورل ، نو ښکاري چې دوئ هم پدې باب کې حنفي مسلک خوښاوه او کوم ځای کې به چې ددښمن ډير سخت خطر نه و ،هلته به دوئ قرآن کريم له ځانه نه ليرې کاوه !

والله تعالى اعلم

نوربيا.....

مورچل دار الافتاء

مفتي ابوماريه

مجاهدين به سنت کوي اوکنه ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! پوښتنه موداده چې :

کله زمورږ دتشکيلونو وخت شي اوسفرموپيل کيږي نو دوه حالته وي : يوداچې مورږ خپلي سيمې ته په لاره يو اودشرعي سفر مسافه وي ، نوپه دغه مهال مورږ دلمانځه نه وراندي اوورسته سنت کوو اوکنه ؟سره له دي چې له مورږ څخه دمونږ دتلو يا دملګرو دتلو ويره هم نه وي .

دوهم ، مورږ چې کله سيمې ته ورسيږو هلته هم زياتره ملګري مسافروي خو دامونه وي معلومه چې مورږ به نن شپه چېرته تيروو ،اوسباوړځ به چېري يو .په دغه مهال دسنتو حکم څه دی ؟

مهرباني وکړئ مورږ مجاهدينو ته دغه حکم ښه واضح وليکئ :مننه..... احمد فاضل غزني ۱۴۳۵

الجواب حامداً ومصلياوبعد : کله چې تاسو له کوره ووځئ اودسفر په حالت کې ياست نوکه ددښمن ويره وي اوکنه ، اوکه له تاسو څخه دملګرو دتلو ويره وي اوکنه ،تاسو بايد په دغه مهال سنت ايله کړئ ، البته فرض لمونځ په ښه اطمنان اومسنونه طريقه سره اداء کړئ ، اوپه سفرکې دغه څلورر کعتيز فرض قصر کړئ اودوه رکعته يې په ځای وکړئ .

اوکله چې بياتاسو خپلي سيمې ته ورسيږئ ، هلته که څه هم بياتاسو ته دانه وي معلومه چې زمورږ به شپه نن په دغه کلي کې وي اوکه په هماغه بل کلي کې ، که ددښمن ويره نه وي اونورتکليف هم نه وي نوبايد دهروخت له فرض لمانځه سره قبل الوقت اوبعدالوقت تول

سنت اداء کړئ ،بلکه بهتر ده چې سنن غیر موکده او نوافل هم ایله نه کړئ ،

لمافی الحلبی کبیر:ص\۵۴۵ وقال الهندواني الفعل افضل حالة النزول ،والترک فی حالة السیر انتهي وهذا هو الاعدل اذالم تکن مشقة حالة النزول .

وفی الهندیة: ۱/۱۳۹ والمختار انه لایأتي بهافی حال الخوف ،ویأتي بهافی حال القرار والامن هکذافی الوجیز للکردري.

کذافی البحرالرائق : ۲/۲۳۰

وفی الدرعلی صدرالشامی :۲/۷۳۷ویأتی المسافربالسنن ان کان فی حال امن وقرار،والابان کان فی خوف وفرارلایأتی بها، هوالمختار.قال الشامی تحت هذه العبارة وقال الهندواني: الفعل حال النزول ،والترک حال السیر،وقیل . . .وقیل. . . والاعدل ماقاله الهندواني. قلت والظاهران مافی المتن هوهذا،وان المرادبالامن والقرارالنزول ،وبالخوف والفرارالسیر.

کذافي الفتاوي المحمودیه و الله تعالی اعلم: ۷/۵۱۶

دمجاهدینو دموټرسایکل استعمال ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! ماته دیوه مجاهد موټرسایکل امانت ولاړ دی ، که زه خپل تیل ورواچوم اوداهم فرض کړم : چې کـه خـراب شـو ورجوړوم یـې ، نـوزه دغـه موټرسایکل استعمالولای شم ؟

الجواب حامدا ومصلیا وبعد : څرنګه چې دغـه موټرسـائکل ده تاسو سره امانت دی ، اوداامانت استعمال دمالـک داجـازي پرتـه خیانت ګڼل کیږي ، لهـذا تاسـوته ددې موټرسائکل استعمال نه دی جائز که څه هم تاسو یې مصارف په غاړه واخلئ .

قال الله تعالی : إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا الایة .النسـاء ۵۸ وعـن رسول الله – صلّى الله عليه وسلم – يقول: "أدّ الأمانَةَ إلى مَنِ ائتَمَنَكَ، ولا تَخُنْ مَن خَانَكَ" رواه ابوداود باب الرجل یاخذ حقه .

فـي البحـر ۴۶۷\۷ والودیعـة لاتـودع ولاتعـار ولاتـواجر ولاترهن وان فعل شیئا ضمن الخ

وفـي مجمع الانهـر ۴۸۲\۳ کمـالاتوجر ولاترهن الودیعـة لانهـا امانـة ، فلایجـوز التصرف فیها الخ .

وفـي الموسـوعة الفقهیـة ۵۵\۴۳ \۵۶استعمال الودیع للودیع والانتفاع بها کرکوب الدابة ولبس الثوب ونحو ذلک اما ان یقع باذن صاحبه اوبغیر اذنه فاذا استعملها الودیع باذنه فلاخلاف بین الفقهاء في حل فعله ، ومشروعیته ،.. اما اذااستعمل الودیع

الوديعة بغير اذن ربها فقد اتفق الفقهاء على ان فعله هذا يستوجب الضمانة.

والله تعالى اعلم

دمجاهدينو دترننګ په بوټونوکې لمونځ کول څرنګه دي؟

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب! زمونږ فدايان اونور مجاهدين دترننګ ياهم عامو حلاتو کې لوی عسکري ګوټونه په پښتو کوي، پوښتنه داده چې په دغه ګوټونوکې لمونځ صحيح ده اوکنه؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: څرنګه چې په راجح اواصح قول دپښتو په ګوټو سجده لګول فرض اوواجب دی نوپه دغه مذکوره بوټونوکې دغه عمل [يعني دپښتو ګوټو سجده] سرته نه رسيږي نوځکه مجاهدين بايد دلمانځه په مهال دغه ګوټونه وباسي:

في المرقات شرح المشكوة ۴۴۱\۲ وينبغي الجمع بحمل ما في الخبر على ما إذا تيقن طهارتها ويتمكن معهما من تمام السجود بأن يسجد على جميع أصابع رجليه، وما في الإمام على خلاف ذلك اهـ.

وفي منهاج السنن ۲۷۸\۲ اعلم ان النعال ان لم تكن مانعة من توجيه رؤس الاصابيع نحو القبلة فجاز الصلوة فيها، والافلا... فلاصلوة في المداس الرائج اليوم، ولايجوز اذاكان مقدمه مرتفعا واسعا بحيث لايمتلاء باصابعه القدم.

وفي ردالمحتار ۴۳۹\۱ فلوواسعا فمسح على الزائد ولم يقدم قدمه اليه لم تجز الخ

.وكذا عدم جواز الصلوة في المداس الرائج مصرح في الفتاوى الفريدية ۱۰۲\۲

والله تعالى اعلم

هغه خلک چې دمسلمانانو په مينځ کې فساد... خپروي؟

الاستفتاء: هغه خلک چې دمسلمانانو په مينځ کې فسق اوفساد خپروي، ياپه مجاهدينو پسې غلط تبليغات کوي، ياد په مرموز دول خلک دهريت ياعيسويت ته جذبوي، ياپه اسلامي شعائرو مذهبي وهي که دغه خلق ګيرشي نوشرعا څرنګه چلندبايد ورسره وشي اومرګ يې رواده؟ مولوي عبدالمتين

الجواب حامدا ومصليا وبعد:

که داسې واقعي مجرم ګيرشي اوجرم يې شرعا ثابت شي نوسخت تعزير ورکول کيدلای شي، اوکه امام يانائب امام مناسب وګڼي نودقتل سزا هم ورکولای شي،

في الفتاوى الخيريه باب التعزير ص\ ۸۹ اعلم ان هذا الشقي البعيد الطريد من رحمة الله في اضرار نفسه و اضرار عباد الله مستحق لاشد التعزير و ابلغ التحقير ولاشبهة في جواز الترقي في تعزيره الى القتل الان الساعي لهولاء الكفرة والاشقياء الفجرة بمثل ذلک الساعي في الارض بالفساد فجزاء ما في القران الكريم:

«انما جزأ الذين يحاربون الله ورسوله و يسعون في الارض فسادا ان يقتلوا اويسلبوا اوتقطع ايديهم و ارجلهم من خلاف اوينفوا من الارض ذلك لهم خزيٌ في الدنيا ولهم في الاخرة عذاب عظيم. «المائده ٣٣-٣٤»)

وفي ردالمحتار كتاب الحدود ٤\١٥م ش وفي القهستاني: السياسة لا تختص بالزنا بل تجوز في كل جناية. والرأي فيها إلى الإمام على ما في الكافي. كقتل مبتدع يتوهم منه انتشار بدعته وإن لم يحكم بكفره كما في التمهيد،

وفيه ايضا ٤\٦٤ وفي رسالة أحكام السياسة عن جمع النسفي: سئل شيخ الإسلام عن قتل الأعونة والظلمة والسعاة في أيام الفترة: قال يباح قتلهم؛ لأنهم ساعون في الأرض بالفساد، فقيل إنهم يمتنعون عن ذلك في أيام الفترة ويختفون. قال: ذلك امتناع ضرورة - {ولو ردوا لعادوا لما نهوا عنه} [الأنعام: ٢٨]- كما نشاهد.

قال وسألنا الشيخ أب شجاع عنه، فقال: يباح قتله ويثاب قاتله. اهـ. (قوله وأفتى الناصحي إلخ) لعل الوجوب بالنظر للإمام ونوابه والإباحة بالنظر لغيرهم ط الخ

والله تعالى اعلم

ښځې ته ښېرا او بد دعا کول جایز دي ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

په اسلامي شریعت کې د ښځې سره د ښه سلوک پر ځینګار شوی دی. وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا) النساء ١٩

((اوله هغې سره په ښه طریقه ژوند تیر کړی ، بیا که هغه ستاسې (په څه وجه) خوښې نه وي نو کیدای شي چې یو شی ستاخوښ نه وي خو الله جل جلاله په هغه کې (ستاسو) لپاره ډیره څه ښیګڼه ایښې وي)).

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا ، وخياركم خياركم لنسائهم (ترمذي ١١٦٢، مشكاة المصابيح ٣٢٠٠).

ژباړه : د ایمان په اعتبار سره ستاسو کښې کامل ایمان والا هغه څوک دی چه د هغه اخلاق اوخوی ښه وي او تاسې کې بهترین اوغوره هغه دی چه د خپلې ښځې سره یې سلوک ښه وي.

او ربښتني مؤمن هغه دی چې خپل اهل ته بد دعایې نه کوي بلکې د هغې د اصلاح او هدایت دعا کوي.

هغوی د خپل ځان په اصلاح اکتفا نه کوي بلکې د خپل اهل عیال اصلاح هم له خپل رب څخه غواړي، قال تعالى: وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا (الفرقان ٧٤)

ژباړه : او هغه کسان دي دعاوي کوي : اى زمونږ ربه ! مونږ ته له خپلو ميرمنو او اولادونو څخه د سترګو يخيدل راکړه او مونږ د ځان ساتونکو امامان کړه.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (قال الله تعالى : يا عبادي كلكم ضالٌّ إلا من هديته فاستهدوني أهدكم)حديثٌ صحيح

ترجمه :جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : چې الله سبحانه وتعالى فرمايي : اى زما بندګانو ! د تاسې ټول ګمراه دي مګر (هغه څوک له ګمراهۍ څخه نجات) مومي چې زما څخه هدايت وغواړي، پس زما څخه هدايت وغواړئ چې زه تاسې ته هدايت وکړم.

داسلام غزوات اوسرايا

23 برخه

ليکوال ابوظهير

احد جنګ

په رسول الله (ﷺ) دقريشو لخوا ناڅاپه برید:

صحيح مسلم کې له حضرت انس (ﷺ) نه روايت دی، چې قريشو په رسول الله (ﷺ) هجوم راوړو، وې فرمايل:

"ځوک شته چې هغوئ لهما وګرځوي او جنت کې ځما ملګری شي"

په دغه وخت کې له انصارو نه اووه تنه درسول الله (ﷺ) سره وو، هغوئ اووه واړه يو دبل وروسته په شهادت ورسيدل (صحيح مسلم ۲تـوک ۱۰۷مـخ احـد غـزوه البداية والنهاية ۴تـوک ۳۲مخ)

دابن اسحاق په روايت کې راغلي چې رسول الله (ﷺ) وفرمايل:

مَن رَجلٌ يَشری لنا نفسَهُ؟

ژباړه: ځوک نر شته چې هغه ځان زمونږ لپاره وپلوري؟

ددې په اورېدو "زياد بن سکن" اوپنځه تنه انصار پورته شول، هغوئ تولو ديو بل وروسته خپله جان نثاري ښوده. تردې چې ټول شهيدان شول

ډزيادبن سکن (ﷺ) شهادت:

زياد ته دا ويار اوشرف ورپه برخه شو، چې هغه کله ټپي شو، رسول الله (ﷺ) وفرمايل: "ما ته يې نژدې راولئ!" خلکو هغه رسول الله (ﷺ) ته نژدې بوته، هغه خپل

رخسار درسول الله(ﷺ) په مبارکو قدمونو کې کیښود ، په همدې حالت کې روح الله (ﷻ) ته وسپارہ !

په رسول الله (ﷺ) دعتبه بن ابی وقاص حمله:

دسعد بن وقاص (رضي الله عنه) ورور عتبه بن ابي وقاص ته دا موقع په لاس ورغله، چې په رسول الله (ﷺ) يې ديوې تيرې ګذار وکړ، دهغه له املې لاندينې مبارک غاښونه شهيدان او شونډه مبارکه يې تپې شوه.

سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) ويل: زه چې خومره دخپل ورور عتبه وژلو ته تږی وم، دومره دبل چا دقتل نه وم (ابن اسحاق، فتح الباری ۷توک ۲۸۱مخ)

په رسول الله (ﷺ) دعبد الله بن قمیئه حمله:

عبد الله بن قميئه په قريشو کې مشهور پهلوان و، هغه په رسول الله (ﷺ) دومره قوي حمله وکړه چې په وجه يې درسول الله (ﷺ) رخسار مبارک تپې شو. اوعبد الله بن شهاب زهري د تيرې په وارولو ورته تندی مبارک تپې کړ، کله چې درسول الله (ﷺ) په مبارک مخ وينې را ماتې شوې، دابوسعيد خدري (رضي الله عنه) درانه پلار مالک بن سنان (رضي الله عنه) وځکلې او درسول الله (ﷺ) مخ مبارې يې صاف کړ، رسول الله (ﷺ) هغه ته وفرمايل:

"لن تمسک النار !" تاته هيڅکله دجهنم اور ونه رسي!

معجم طبراني کې دابو امامه (رضي الله عنه) روايت دی ابن قميئه د رسول الله (ﷺ) تپې کولو وروسته وويل:

خُذها وأنا ابن قميئه دا واخله! زه ابن قميئه يم،

رسول الله (ﷺ) وفرمايل: أقماک الله ! الله تعالی دې تا ذليل، خوار اوهلاک کړي، څو ورځې نه وې تيرې چې الله (ﷻ) ورباندې يو غرنی وزه مسلطه کړه، هغې پخپلو سترګونو ابن قميئه ملعون توتې توتې کړ (فتح الباری ۷توک ۲۸۱مخ، زرقاني ۲توک ۳۸مخ)

دحضرت علي اوحضرت طلحه (رضي الله عنهما) په ګډه رسول الله (ﷺ) پورته کول:

داچې درسول الله (ﷺ) بدن مبارک په دوه وسپنيزو زغرو کې پټ و، په دې وجه يې بدن دروند و، دجنګ پرمهال کندې ته پريوت، کومه چې دابوعامر په نوم يو فاسق دمسلمانانو لپاره کندلې وه، حضرت علي (رضي الله عنه) رسول الله (ﷺ) له لاس ونيو او حضرت طلحه (رضي الله عنه) يې ترملا لاندې په لاس کولو را پورته کړ، کله چې رسول الله (ﷺ) ودرېدۀ وي فرمايل:

که کوم سړی غواړي چې په زمکه ژوندی روان شهید وویني، طلحه ته دې و ګوري!

حضرت عایشه (ﷺ) د خپل پلار حضرت ابوبکر صدیق (ﷺ) نه روایت کړې:

درسول الله (ﷺ) په نوراني مخ کې د دوال دوه کړۍ خښې شوې، هغه ابو عبیده بن الجراح (ﷺ) پخپلو غاښو وویستې چې له امله یې دابو عبیده (ﷺ) دوه غاښ شهیدان شول.(زرقاني ۲ټوک ۳۸ مخ، ابن هشام ۲ټوک ۸۴ مخ)

رسول الله (ﷺ) په یوه غره خوت، خو دضعف اوکمزورتیا په وجه او ددوه درنو زغرو دثقل له امله ونشو ختلی، ژر حضرت طلحه (ﷺ) درسول الله (ﷺ) لاندې کیناست، رسول الله (ﷺ) دهغه په اوږو پښې کیښودې او وخوت، زبیر (ﷺ) وایي:ما دغه مهال اورېدل رسول الله (ﷺ) وویل:

"اوجب طلحة": طلحه دځان لپاره جنت واجب کړ (ابن اسحاق)

قیس بن حازم وایي: ما دحضرت طلحه (ﷺ) هغه لاس لیدلی، په کوم چې هغه رسول الله (ﷺ) په احد کې ژغورلی و، بلکل شل و، (بخاری)

حاکم په اکلیل کې روایت کړی دی چې: داحد په ورځ طلحه (ﷺ) ۳۵ یا ۳۹ ټپونه خوړلي وو، په ابوداود طیالسي کې دحضرت عایشه (ﷺ) روایت دی: چې ابوبکر صدیق (ﷺ) به کله داحد غزوې یاد کاوه نو فرمایل به یې:

"کان ذلک الیوم کله لطلحة" دا ورځ ټوله دطلحه وه، دحضرت جابر نه روایت دی:

ددښمنانو د غشو برید دونو، نیولو نیولو کې دحضرت طلحه ګوتې پریک شوې، بې اختیارهیې له خولې ووتل: "حسن"

رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل:

لو قلت بسم الله لرأیت الملائکة والناس ینظرون الیک حتی تلج بک فی جوّ السماء (فتح الباری ۲۷۸ مخ، زرقاني ۲ټوک ۳۹ مخ)

که چېرې تا دحسن په ځای بسم ویلې وای نو فرښتې به ته پورته کولې او ورلې به یې، خلکو به تاته کتل، تردې پورې چې ته په اسمان کې پناه شوی وې.داحدیث نسایې هم په ښه سند سره روایت کړیدی، حضرت عایشه (ﷺ) دحضرت ابوبکرصدیق (ﷺ) نه روایت کړې چې:

داحد په ورځ موږ دطلحة (ﷺ) په بدن له اویا ټپونو څخه زیات لیدلي. نوربیا

دصلیبي یرغل په وړاندي دعبدالمطلب دعا

(مفتي ابوماریه)

دمحرم لمړۍ ورځې وي ابرهه دخپل مغرور لښکر سره دکعبي دړنګیدو په ناوړه اراده له صنعاء څخه راخوځیدلی و . اوس یې دلته نږدي دمحسر دراده په هغه غاړه واړول . دسبالپاره یې همدغه شومه اراده پاتي کوله . غرمه مهال یې مکي ته څوتنه دآسونو سواره ولیږل . چې دمکي مشران وروغواړی او له خپل ناپاکه هدف یې خبرکړي . دمکي ځیني خلک له کورونو وتلي وو . خوعبدالمطلب چې دکعبي مکرمي متولی و . لاپه خپل ځای پاتې و . دابرهه قاصدانو دخپل مشر پیغام داسې ورته واورول : : اني لم أت لحربکم وانما جئت لهدم هذالبیت . فان لم تتعرضوا دونه بحرب فلاحاجة لي بدمائکم ... زه ستاسو دوژلو او جګړي لپاره نه یم راغلي . زه یوازې دهمدې بیت دړنګولو لپاره راغلی یم . که تاسو زمادارادي په وړاندي خنډ نه جوړیږئ . جګړه نه کوئ ! نو زه ستاسو دوینو تویولو ته اړتیا نه لرم .

عبدالمطلب ورته وویل : داخو دالله تعالی بیت ده . ابراهیم علیه السلام جوړه کړي ده . نوهماغه څښتن به یې له هغه چاڅخه ساتې چې دړنګولو اراده یې لري .

دابرهه قاصدان ولاړل . عبدالمطلب له شاورپسې روان شو . عبدالمطلب له وني جګ . ښائسته . دښه صورت څښتن و . رعب یې درلود . چې هرچابه ولیدنومینه به یې ورباندی راتله . اوچې دعابه یې وکړه نوقبوله به شوه .

کله چې دابرهه خیمي ته ورسید . نویوه تن دعبدالمطلب تعارف داسې ورته وکړه : هذا سید قریش الذي یطعم الناس في السهل . ویطعم الوحش والطیر في رؤوس الجبال ..... : دادقریشو سردار دی . چې په ټیټه کې دخلکو اوپه غرونوکې دڅارویو اومرغانو میلمه پالنه کوي .

ابرهه یې استقبال وکړ . اوپه خپل کټ یې ورسره کېناوه . اوبیا ابرهه خپل ترجمان ته وویل : عبدالمطلب ته ووایه : چې څه غوښتنه لري ؟ عبدالمطلب ورته وویل : زماغوښتنه داده چې زمادوه سوه اوښان ستاسو نفرو نیولي دي چې هغه بېرته راوسارئ . ابرهه خپل ترجمان ته وویل : ورته ووایه چې کله مې ولیدې نو ډیر خوند دې راکړ . اوماته دسترې پوهه څښتن ښکاره شوي . مګر له غوښتنې دي معلومېږي چې ته هغسې نه یې . ته له ماڅخه داوښانو غوښتنه کوي ؟ اودخپل دین اونیکه بیت پریږدي ؟ په داسې حال کې چې زه یې دړنګولو په اراده راغلی یم ! اوتاراڅخه په دې هکله هیڅ غوښتنه ونه کړه .

عبدالمطلب ورته وويل : زه داوښانو مالک يم ، اودبيت څښتن بل څوک دی : هغه به يې غم وخوري ، اوله تاڅخه به يې وساتي

ابرهه دغرور په لهجه وويل : نه ؛ داسې څوک نشته چې له ماڅخه يې وژغوري ، عبدالمطلب په نرمه لهجه ورته وويل : بس ته پوهيږي اودبيت مالک ، ابرهه امروکړ چې ددې تن اوښان ورکړئ : عبدالمطلب دمکي په لور مخه کړه ، اوپاتې قريشوته يې د ابرهه دارادې خبر ورکړ ، اوبيايې هغوئ ته امر وکړ چې ليري غرونواودرو ته ولاړ شي ، عبدالمطلب راغی اودبيت الله ددروازي کړۍ ته يې لاس کړ اوخپل رب ته يې داسې ځارئ پيل کړي :

لا هم أن المرء يمنع ... رحله فامنع حلالک

وانصر على آل الصليب ... وعابديه اليوم آلک

لا يغلبن صليبهم ... ومحالهم أبدا محالک

ژباړه : اى ربه ! هرڅوک خپل مال خوندي کوي ، ددې خپل بيت او اوسيدونکوحفاظت ته وکړه اى ربه ! په دې صليبيانو اودهغه په غلامانو خونن خپلو نيکانو ته بري ورکړه ، هو ؛ صليبيان اودهغوئ تدبيرونه به کله هم ستاپه تدبير اوقوت برلاسې نه شي .

عبدالمطلب څه شيبي وروسته غره ته مخه کړه ، هلته د ابرهه په لښکروکې دروانيدو نغاره وډنګول شوه ، دپيلانوسپرو خپل پيلان جګول ، چې دنفيل بن حبيب په نوم يوتن په بيړه د سرکښ پيل لوري ته ورتاو شو اوپه غوږ کې يې داسې ورته وويل :

ابرک محمودا وارجع راشدا فانک في بلدالله الحرام .....

چې ولاړ نه شي ، خپلي ګونډي ښې کلکې کړه ، يابېرته په شا وګرځه نجات به ومومي ، ځکه چې دالله تعالى د محترم ښارپه حدودو کې يې .

پيل هماغسې ګونډي کلکې کړي ، وس يې پرتمام کړ خوولاړ نشو ، شاته پيلانو هم جرئت ونه کړ ، چې وړاندي شي ، دابرهه وحشي عسکرو دغه پيل دومره وواهه چې په ټول بدن يې ويني روانې وي ، ولي دالله تعالي دبيت په لور ونه خوځيد .

بس دغه مهال و ، چې دالهي قدرت ستري لښکري دتوتکيو په صورتونوکې راښکاره شوي اودابرهه لښکريې داسې دانه وانه کړ ، چې دمِنى دغرو لمني ددوئ په تنو ډکې شوي . ويل کيږي چې يوازې يوتن روغ ووت ، هو داسې : لکه دکابل له شپاړس زره کسيز انګريزي لښکرڅخه چې يو اځې برايډن په تېښته بريالى شوى ؤ .

يا الله دعبدالمطلب ددعاپه څېرزموږ دلکونو مظلومو ميندو ، خويندو ، اوکونډو دعاوي هم قبولي کړه اودغه راغلي صليبي يرغلګر له ټولو منافقانو سره داسې تباه کړه ، لکه دابرهه اونمردو لښکري يالکه عاد اوثموديان چې دې دزمکي له مخي څخه دتل لپاره محوه کړو . آمين ياخو يې دخيبروالو (يهودو) په ډول له دغه مقدسي خاوري څخه ټول ګوډ اومات وشړه .

ماخذ : دنړۍ دنامتو عالم علامه دميري (رح) له کتاب " حياة الحيوان " ئ\٥٨\٥٩ څخه مع زيادة

شاخص‌ترین اهداف

(بدخشانی)

(بخش ۲)

در انتخاب و انتصاب کارگزاران

۱ـ توانمندی و امانتداری:

سیاست عمی حضرت عمر در تعیین کارگزران، توجه به توان مدیریتی در پیشبرد اهداف خلافت اسلامی، و تعهّد و احساس مسئولیت آنان در قبال وظایف محوّله بود. یشان با در نظر گرفتن اصل دیندری و پایبندی به دین، برتری کارگزارن را در توان مدیریتی آنان می‌دید و هیچ‌گاه عبادت های فردی وزهد، ملاک توانمندی افراد نزد وی نبود. چنان‌که شرحبیل‌بن‌حسنه را عزل کرد و معاویه‌بن‌ابی‌سفیان را به‌جای او گمارد. وقتی شرحبیل زایشان پرسید: یا امیرالمؤمنین! آیا مرا به دلیل نارضایتی از عملکردم عزل کردید؟ جواب داد: «لا! إنک کما أحبّ، و لکنّی أرید رجلاً أقوی من رجل: نه! تو چنانی که من دوست دارم، ولی من در پی فرد توانمندتری هستم.

۲ـ بینش و خبرگی:

حضرت عمر در تعیین کارگزران، ولویت را به علم و فقه می‌داد و فقیه‌ترین و دانشمندترین افراد را بر مردم میر تعیین می‌کرد. در کنار این به بینش و خبرگی افراد نیز توجه خاصی داشت و سعی می‌کرد خبره‌ترین افراد را که بر اوضاع و احوال جامعه واقف‌اند و بینش صحیحی دارند، انتخاب کند.

همچنین معتقد بود که فرد پرهیزگار و نیک‌سیرت اما ناآگاه از مسائل واوضاع جامعه، در دام شیادان و فتنه‌گران گرفتار می‌شود: زاین‌رو، وقتی در تعریف مردی گفته شد: «إنه لایعرف الشرّ: او بدی را نمی‌شناسد.» از استخدام وی منصرف شد و گفت: «ویحک! ذلک أدنی أن یقع فیه: وای بر تو! چنین شخصی زودتر به بدی گرفتار می‌شود. حضرت عمر برای بالا بردن توان مدیریتی و کسب آگاهی و تجربه بیشتر والیان و کارگزران، آنان را به شرکت در گردهمایی‌ها و دوره‌های آموزشی و توجیهی مختلف فرامی‌خواند. امروزه نیز در کشورهای توسعه‌یافته برای تقویت نظام مدیریتی کشور، در کنار دانش و تحصیلات عالیه مدیران، به تجربه و خبرگی و همچنین گذراندن دوره‌های مختلف مطالعاتی، آموزشی و توجیهی، توجه ویژه می‌شود.

۳ـ همگونی فرهنگی والی با رعیت:

نکته بسیار مهم دیگر در گزینش و انتصاب کارگزاران و والیان این است که والی با ویژگی‌های فرهنگی و عرف و عادت‌های مردم منطقه‌ای که بر آن ولایت می‌یابد، آشنا باشد تا بتوند با تفاهم و هماهنگی بیشتر با مردم و درک بایدها و نبایدهای عرفی آنان، اهداف و برنامه‌های نظام اسلامی را در قالب فعالیت‌های اصلاحی و اجتماعی، تأمین امنیت و

توسعه اقتصادی و معیشتی پیش ببرد: زیرا فرد ناآگاه از فرهنگ مردم، چه بسا پاره‌ای از عرف و عادت‌های آنان را منکر بپندارد و به مبارزه با آنها برخیزد و آرامش و امنیت جامعه را به هم بزند و اسباب نارضایتی مردم را فراهم کند. بر این اساس حضرت عمر هیچ گاه اهل بادیه را بر اهالی شهرها یا شهرنشین را بر بادیه‌نشینان والی تعیین نمی کرد. و چه بسا برای هماهنگی بیشتر بین والی و مردم، وی را از میان بومیان همان شهر و دیار انتخاب می کرد: چنان که سلمان فارسی را بر مدائن و نافع بن حارث را بر مکه و عثمان بن ابی العاص را بر طائف امیر قرار داد که خود از اهالی همان شهرهایی بودند که بر آن ولایت یافتند.

۴. دلسوزی و شفقت بر مردم:

خلیفه دوم خودش را در قبال همه مردم مسئول می‌دانست و هیچ گاه نمی‌پسندید کمترین فشار و ناگواری از سوی کارگزارنش بر آنان تحمیل شود؛ از این رو، همواره می کوشید تا علاوه بر سایر معیارها، امیر و کارگزار را از میان دلسوزترین افراد انتخاب کند تا مردم را در هلاکت و سختی نیندازد. روزی، مردی که حضرت عمر می‌خواست او را والی قرار دهد، به نزد ایشان آمد و دید که خلیفه فرزندانش را به آغوش می گیرد و آنها را می‌بوسد. مرد تعجب کرد و گفت: واقعاً شما فرزندانت را می‌بوسی؟ من تا حالا هیچ یک از فرزندانم را نبوسیده‌ام! حضرت عمر گفت: «فأنت و لله بالناس أقلّ رحمة؛ قسم به خدا، تو با این اخلاق [بر مردم نامهربان‌تری.]» و از استخدام وی منصرف شد.

۵. استخدام نکردن خویشاوندان:

حاکمان و دولت‌مردان برای مصون ماندن از بسیاری تهدیدها و چالش‌ها و ایجاد حاشیه امن پیرامون خود، همواره پست‌های کلیدی را به نزدیکان خود واگذار کرده‌اند. این سیاست باعث شده تا افراد لایق و توانمند به دلیل نداشتن روابط نزدیک و خویشاوندی با حاکمان، از عرصه خدمت دور بمانند. و افراد نالایق و کم‌توان صرفاً به دلیل قرابت استخدام شده و بدون ترس از عزل شدن، طبق سلیقه و میل خود بر مردم حکم برانند و دود بی‌عدالتی‌شان در چشم همه مردم برود. حضرت عمر با آن که برخی از نزدیکانش مانند پسرعمویش سعید بن زید و فرزند بزرگوارش عبد الله بن عمر از افراد لایق و توانمند بودند، برای اصلاح و تعدیل این روند و پیشگیری از سوء استفاده برای آیندگان، از آنان در مسئولیت‌های حکومتی کار نگرفت، و می گفت: «من استعمل رجلاً لمودّة أو لقرابة لا یشفه إلا لذلک فقد خان الله و رسوله؛ کسی که شخصی را تنها به دلیل رابطه دوستی یا خویشاوندی بر مسئولیتی بگمارد، به خدا و رسولش خیانت کرده است.

۶. انتخاب نکردن متقاضیان مسئولیت:

زمامداری، مسئولیتی سنگین در قبال خلق و خالق ست. انسان دور اندیش هیچ گاه به خواست خود تن به چنین مسئولیت سنگینی نمی‌دهد. و آن که برای تصدی مسئولیتی پیش قدم می شود، احتمال می رود که در آن نفعی دنیوی می جوید. بر همین اساس، فاروق اعظم هیچ گاه طالبان زمامداری را استخدام نمی کرد. این اصل در سنّت نبوی ریشه دارد و حضرت عمر با عمل بر این سنّت، می گفت: «من طلب هذا الامر لم یعن علیه؛ کسی که طالب پست باشد، در کارش از جانب الله [مدد نمی‌شود.]

د امریکایي عسکرو ظابط برګدال د دوه زره نهم میلادي کال د جنوري په دویمه د پکتیکا ولایت د یوسف خېل ولسوالي په مربوطاتو کې د طالبانو له خوا ونیول شو. له دې سره یوه M۱۶ ماشینګنه هم وه، چې په درد یې ونه خوړه؛ امریکایي عسکرو د خپل دې ظابط د پیدا کولو په موخه په توله پکتیکا او له پکتیکا سره په څنګ کې د غزني په اندړو او ګېرو کې پراخ عملیات وکړل، پوره زور یې وواهه، خو نه یې د الړي انعاماتو کارونکړاو نه یې هم بې وسه استخباراتوا

له برګدال سره یوځای هماغه وخت د پکتیکا ولایتي جهادي مسوول شهید مولوي محمد فاتح سنګین نوم هم رسنیو ته ولویدل، یو مجاهد د برګدال دیوې تېښتې د هڅې کیسه راته کوله، دا دوه زره نهم کال و، شهید مولوی صاحب سنګین دغه بندي په یوه کور کې ساته، د کور خاوند یو سپین ږیری سړی و، مولوی صاحب پرې د هرتینګار کاوه، چې ګوره سړی درنه لاړ نه شي، زه د هر وخت مصروف یم ته پام پرې کوه. سپین ږیری هم باوري و چې برګدال نو په دې سیمه کې څه بلد دی، چېرته به لاړشي. خو د طالبانو دې زړه سوي ته سړی حیران شي، چې همدا لوی ظابط برګدال یې په کور کې خلاص لاس او خلاصې پښې ساته، د دوی په خبرې ورته برقي شارتونه نه ورکول، ځکه خو برګدال هم په امریکایییتوب شرمېده. سپین ږیری د اوداسه لپاره د باندې وتلی او برګدال دغه فرصت ګټلی او منډه یې کړه، پرتوګ یې کنبلی و او په لمن کې یې وړه د دوی راتوله کړې وه، دسیمې په کوچني بازار کې په منډه تېر شو، نږدې ماسپښین قضا سپین ږیري خبره تر شهید مولوی صاحب ورسوله، هغوی طالبان پسې کړل درې ورځې وروسته برګدال پیدا شو او بېرته ونیول شو، دی له دې سیمې هم بل ځای نه و تللی، همدلته به د شپې یو څه په یوه خوا تللو او د ورځې به سره ونو کې پورته پټېده. دا د برګدال لومړي وختونه وو، داسې یې انګېرل چې اوس به نو هر طالب راځي او دی به بربنډوي او سپې به پرې ورخوشې کوي برقي شارتونه به ورکوي او هڅه به کوي چې نارینتوب یې ورشندکړي، ځکه چې دوی امریکایانو ته همداسې ورزده کړل شوي وو. مګر کله چې پوره

درې کاله وروسته دهغه ویډیو خپره شوه نو په پوره جرئیت یې دا اعتراف وکړ، چې په امریکا کې د انسانانو په خپرو کې د انسانیت دښمنان اوسې هغه په ښکاره وویل، چې دوی ته یې مشران [illegible] دروغ وایي.
څه وخت وروسته کله چې برګډال خپلې کورنۍ ته یو لیک ولېږه، نو هغه لیک بیا [illegible] ستون مجلې ته په ګوتو ورغی، برګډال خپل لیک داسې شروع کړی و :
زموږ راتلونکې زموږ د دروغجنو چارواکو تر دروغجنو تبلیغاتو ډېر ښکلې ده، او زمونږ ژوند ترهغه ډېر لنډ دي چې مونږ یې د نورو ولسونو په له منځه وړلو اویایي د خپلو بیعقله مشرانو دغلطو افکارو په مرسته کې تیروو، ماته دهغوئ غلط افکار مالوم شول له همدې امله زه په دې شرمېږم چې زه امریکایي یم.
برګډال په ویډیو کې وایي چې دوی ته یې مشرانو څو واره ویلي چې تاسې له یوې محدودې ډلې سره جنګېږئ چې هغوی هم پټ یو نیم برید وکړي، بس وتښتئ، برګډال اعتراف کوي چې موږ چارواکي د خپلو ګټو لپاره قربانوي او موږ له یوه بشپړ نظام سره په جګړه کې یو. هغه په لیک کې اعتراف کړی وایي:: زما لپاره هرڅه له تأسف نه ډک، او د امریکا نوم راته تر بل هرڅه کرکجن دی.
برګډال په خپره شوو بیلا بیلو ویډیوګانو کې ارام، خوشال، د سپورت په حال کې، د خوراک په حال کې او عادي برېښي. هغه به نو خود شرمېده چې مشران یې په کیوبا او آن دلته پخپل هېواد کې له طالب لوړپوړه مشرانو سره داسې چلند کوي، چې قلم یې په لیکلو شرمېږي .
پرون هغه د پنځو طالب مشرانو په بدل کې په خوست کې امریکایانو ته وسپارل شو او طالبانو د نړۍ په سطحه د بریالۍ مذاکرې په زړه پورې نړۍ اله ننداره وړاندې کړه، طالبانو خپل هغه پنځه تنه طالب مشران د کیوبا له ګوره راویستل، چې امریکایانو دا څو کاله دې ته غاړه نه اېښوو ده چې د برګډال په بدل کې دغه پنځه تنه خوشي کړي، خو لله الحمد د طالبانو سیاسي ادراک دوی تسلیمۍ ته مجبور کړل او هغه بندیان یې را ازاد کړل، چې هر یو نږدې دوولس دیارلس کاله په دې زهرجن زندان کې تېر کړي وو.
ټولې اسلامي نړۍ، مجاهدینو او مجاهد ملت ته د دې بندیانو د خلاصون مبارکي وایم.
کله چې په دوه زره یو کې ایوان ریدلي - اوسنۍ مریم - د طالبانو په اسارت کې شوه، هغې پخپل کتاب کې لیکلي دي، چې کله بېرته خوشي شوم نو ټولو لویدیځو رسنیو مایکونه را اوږده کړل، د بېرمي شناخته ملګري و، ځکه دا هم مشهوره ژورنالیسته وه، دا وایي چې د ټولو رسنیو له ما داتمه وه، چې زه به اوس دوی ته داسې څه ووایم لکه څنګه چې هلته رسنیو طالبان معرفي کړي دي، دوی غوښتل چې زه ورته داسې څه ووایم چې په طالبانو د امریکا یرغل ته مشروعیت ورکړي، خو کله چې ما ورته په نېکو ستاینو خوله خلاصه کړه، نو هغه [illegible] ملګرو مې راته وویل چې ته لېونۍ شوې یې، ته ولې دهغوی جنسي تیریو کیسې نه کوې؟؟؟

زه حیرانه شوم؛ چې دوی طالبانو ته هم د خپلو خانو په سترګه کوري. مریم وروسته د یاد بند په برکت مسلمانه شوه او اوس په بریتانیا کې د مسلمانو مېرمنو اتحادیې مسوله ده.

له برګډال سره د طالبانو بې شانه انساني چلند ښایي د هغه په زړه هم د رحم اوبه توی کړې وي، هغه په یوه لیک کې چې رولینګ ستون خپور کړی، له خپلو ملګرو غوښتي چې د امریکا له پوځه دې ووځي، ځکه چې هغه ټول د درغجنو په لاس کې دی، یاد ده په خبره د دغولو د بوجیو په واک کې دی، چې پردي ځوانان د خپلو ګټو لپاره قربانوي او بې ازاره ملتونه پرې ځوروي. امکان لري، چې د طالبانو په خوندوره نېکه رویه، لکه د ده چې له امریکاییتوبه، پوځیتوبه زړه تور شو، همداسې یې د کلیساګانو له خرافاتو هم زړه تور شوی وي، زه چې د ده ویډیوګانې او هغه لیکونه ګورم او لولم پوره باوري یم چې په نړۍ وخت کې به د برګډال د اسلام غږ واورئ؛ او ورسره جوخت به غربي رسنۍ چې افغاني رسنۍ یې د لونو پرځای دي دا اوازه خپره کړي چې برګډال په نورمال حالت کې نه دی او لېونی شوی. بیا هم د طالبانو دغه بریا او د خپلو پنځو مشرانو خلاصون ټول اسلامي امت ته تبریک!

د پریشانۍ او غم علاج څه دی ؟

بسم الله الرحمن الرحیم

د پریشانۍ ، غمونو ، تشویش او وسواسو او د زړه د سکون علاج یوازې او یوازې د الله جل جلاله یاد دی لکه : لمونځ ، د قرآنکریم تلاوت ، د الله تعالی په قدرتونو کې فکر او غور کول ، اذکار او دعاګانې او داسې نور .

لقوله سبحانه وتعالی :

الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (رعد ۲۸)

هغه کسان چې ایمان یې راوړی او زړونه یې د الله جل جلاله په یاد آرامیږي ، خبر شئ چې د الله جل جلاله په یادښت زړونه ډاډمن کیږي .

کله چې انسان د الله (جل جلاله) د یاد څخه غافل شي په هغه باندې شیطان مسلط شي او هغه ته ډول ډول پریشانۍ او وسواس ور اچوي او په روحاني امراضو یې مبتلاء کوي ، په دې حال کې بنده داسې سرګردانه او پریشانه لوړ په لوړ ګرځي لکه د ماشوم څخه پې چې خپله مور ورکه شوې وي .

لقوله سبحانه وتعالی :

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ (البقره ۱۵۲)

نو ما یاد کړئ (په ذکر، اطاعت او عبادت) چې زه (هم) تاسې یاد کړم (په ثواب او نعمت) او زما شکر او باسئ او ناشکري مه کوئ .

د ذکر په باره کې په سنتو کې ډیر احادیث راغلی دي چې څنې د هغې په لاندې ډول دي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم : «يَقُولُ اللهُ تَعَالَى : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ» (البخاري)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : د الله جل جلاله ارشاد دی : چې زه خپل بنده سره هغسې معامله کوم څنګه چې دی په ما باندې ګمان کوي او کله چې دی ما یادوي نو زه ده سره یم ، کوچیرې دی ما پخپل زړه کې یادوي زه هم دی په خپل زړه کې یادوم او کوچیرې دی ما په ګڼه او ټولې کې یادوي زه یې د هغه نه غوره ډله چې پرښتې دي یادوم .

والله سبحانه وتعالی اعلم

ترجمه: احمد فرید فرزاد هروی

چرا غربی ها به اسلام روی می آورند؟

این متن قسمتی از مصاحبه ی داکتر طارق رمضان با خانم بتول التوما (Batool al-Toma) مدیر پروژه تازه مسلمانان در انجمن مسلمانان برتانیا است که در برنامه «اسلام و زنده گی» اجرا شده است. خانم بتول خود یکی از تازه مسلمانان است، ایشان به توضیح دلایل مختلفی می¬پردازد که انگیزه ای برای غربیان برای گرایش به اسلام می شود.

****

در سال ۲۰۰۹ تقریباً ۴۰،۰۰۰ برتانیایی، ۷۰،۰۰۰ فرانسوی، ۱۰۰،۰۰۰ آمریکایی به اسلام روی آورده اند؛ چه دلایلی پشت این آمار شگفت انگیز و موج توفنده ی گرایش به اسلام نهفته است؟

چه چیزی غربیان را مجذوب اسلام می کند؟ چه محرکی ایشان را وامیدارد تا تصمیم بگیرند مسلمان شوند؟ آیا جنگ غربیان در افغانستان و یا در عراق! و یا حمایت بدون دریغ غربیان از رژیم صهیونیستی اسراییل محرک گرایش غربیان به اسلام است؟

»همواره دین محمد صلی الله علیه و سلم به دلیل ارزش بالایش برایم در بلندترین سطح بوده است، اسلام تنها دینی است که ظرفیت آن را دارد تا عصر ما را دگرگون سازد و برای هر عصری جذابیت داشته باشد». (جورج برنارد شاو(

مسلمانان مشهور غربی:

گرایش غربیان به اسلام پدیده ای تازه ای در میان مردم غرب نیست، بلکه از دیر باز مورد توجه و گرایش بوده و بسیاری از مشاهیر غرب را شیفته ی خود نموده است. کاسیوس کلی) Cassius Clay محمد علی کلی) قهرمان سنگین وزن بوکسینگ جهان از این جلمه است، وی در سال ۱۹۷۵ به اسلام گروید. او در مورد اسلام می گوید :

»احساسی را که در ایام حج و هنگام ایستادن در کوه عرفات داشتم بسیار بی نظیر بود. احساس شعف و شور بی مانند و حالت روحی که واقعاً غیر قابل توصیف است؛ در فضایی که بیش از یک و نیم ملیون زائر با بلند کردن دست نیاز به پروردگارشان توسل می جویند تا گناهان شان را مورد مغفرت قرار دهد. واقعاً شعف آور است وقتی مردمی را می بینی با رنگ های مختلف، نژادهای مختلف، و ملیت های گوناگون، از شاهان و رییس جمهورهای کشورها تا افراد عادی، از کشورهای فقیر و ثروتمند همگی با لباس های همانند دو تکه لباس سفید در حال دعا و نیایش به دربار پروردگارشان هستند؛ بدون این که احساس برتری و یا حقارتی به آنها دست دهد. این به معنای واقعی تمرین و تجلی عدالت و برابری در اسلام است.«

جیمیما گلد اسمیت (Jemima Goldsmith) دختر سیر جمیز گلد اسمیت ملیاردر برتانیایی زمانی به اسلام گروید که هنوز ۲۱ سال داشت وی می گوید: «ظاهراً در غرب آرزو و اوج شادمانی یک زن غربی در دسترسی به کلپ-های شبانه، شراب و مستی و پوشیدن لباس-های عریان است نبود چنین آزادی هایی برای لذت گرایی در جوامع اسلامی سلب آزادی و حقوق زن شمرده می شود؛ اما همه می دانند که چنین آزادی هایی نقش بسیار سطحی و بی اهمیتی در شادمانی و فراهم آوری آرامش واقعی برای زن دارد.«

کت استیوین (Cat Stevens یوسف اسلام) بعد از سپری کردن سالهای متمادی در شهرت و آوازخوانی به بت غربی معروف شده بود، اسلام را پذیرفت وی در این مورد می گوید: »من به این باور رسیدم که اسلام دین حقیقت است، نه دینی که غربیان آن را (دین خشونت و افراط) می شناسند؛ نه دینی که عده ای آن را برای سالهای پیری می شناسند، ما باید خواستار رضای الله متعال باشیم آنگاه از مقام فرشته گان نیز فرا تر می رویم اولین چیزی که بعد از ایمان آوردنم می خواهم این است که یک مسلمان واقعی باشم.«

دلایل گرایش به اسلام در غرب:

طارق رمضان :خیلی خوب؛ محورهای بحث ما در مورد دلایل گرایش به اسلام و انگیزه ها و محرکه های اسلام گرایی در غرب است چند هفته قبل نیز پیرامون این قضایا مباحثی داشتیم و نسبت به دامنه ی وسیع موضوع در این هفته نیز پیرامون جذابیت اسلام و انگیزه های گرایش به اسلام صحبت خواهیم نمود. بدین منظور خانم بتول التوما مدیر بخش تازه مسلمانان در انجمن مسلمانان برتانیا در این مباحثه با من است در ابتدا به خانم بتول خوش آمدید عرض می نمایم همان گونه که در جریان قرار دارید گرایش به اسلام به روندی پیش رونده و روشن تبدیل شده است

شما نیز طی پانزده سال با تازه مسلمانان غربی به‌صورت مستقیم در ارتباط بوده اید و شما خود نیز از جمله کسانی هستید که به اسلام مشرف شده اید؛ پرسش اصلی همین جاست علل رشد فزاینده گرایش به اسلام در جوامع غربی را در چه مواردی ارزیابی می کنید؟

بتول التوما :خوب، پاسخ به این سوال اندکی مشکل است، زیرا انگیزه های گرایش به اسلام بسیار وسیع و گوناگون است و هر یک از تازه مسلمانان با دلایل خاصی به اسلام روی می آورد. طبیعتاً یکی از دلایل عمده تأثیر پذیری غربیان از معاشرت و رفتار نیکوی مسلمانان است که باعث تولید انگیزه برای تحقیق و مطالعه اسلام و سبک زندگی اسلامی می شود. در این مورد ارتباط-های فردی و دوستانه بین یک مسلمان و غیر مسلمان و معاشرت نیک و بالاخره ازدواج بین جوانان از جمله دلایل گرایش به اسلام است. زمانی که می شنویم یک فرد به خاطر ازدواج با یک فرد مسلمان، وارد اسلام شده است، شاید به ذهن مان برسد که اسلام آوردن این شخص به منظور خاصی بوده است، اما فراموش نکنیم که این تنها دلیل نیست، بلکه الله تعالی بدین وسیله شرایطی را برای شخص تازه مسلمان مساعد ساخته است تا بیشتر با اسلام محشور شود و قلبش برای پذیرش واقعی آن آماده گردد.

طارق رمضان :به نکته ی مهمی اشاره نمودید. یعنی این که شاید اسلام برای ازدواج؛ این چنین اشخاص با ایمان خالص وارد اسلام نشده باشند، اما این موضوع می تواند زمینه یی برای تغییر قلبی و پذیرش ایمانی باشد.

بتول التوما :بلی، چنین واقعاتی زیاد برخوردیم. بسیاری افراد برای ازدواج با یک مسلمان، اسلام آورده و دیری نگذشته است که به یک مسلمان ملتزم و رسالتمند تبدیل گشته اند و چه بسا که الگوی رفتاری برای دیگر جوانان قرار گرفته اند.

طارق رمضان :خیلی خوب، این یک بعد قضیه است. چه ابعاد دیگری فکر می کنید در مورد گرایش به اسلام می تواند وجود داشته باشد. ما شاهد اشخاصی هستیم که دلیل اسلام شان أنس با قرآن بوده است. به عنوان مثال کت استیونس که به یوسف اسلام مشهور شد، به خوبی قرآن را درک کرد و قرآن او را به حقیقت رهنمون ساخت. اشخاص دیگری چون کاسیوس کلی به هدف خلقت و معنای زندگی توجه داشت و همین امر باعث هدایتش شد.

بتول التوما :بلی، طوریکه قبلاً عرض کردم هر شخص بنا بر دلایل خاصی که محرکه اش قرار گرفته، به اسلام گرویده است. عامل دیگری که باعث انگیزه مطالعه و تحقیق در مورد اسلام گردیده است، شرایط پیچیده و بحرانی جهان اطراف ماست. متاسفانه وضعیت مسلمانان و تفسیر نادرستی که عده

ای از مسلمانان از قرآن دارند و با آن ارعاب و دهشت افگنی را توجیه می-کنند، خود محرکه هایی برای غیر مسلمانان است که آنها وا میدارد تا بدانند واقعاً اسلام در مورد صلح، همزیستی مسالمت آمیز و... چه پیامی دارد. این جاست که این چنین افراد با مراجعه به قرآن و مطالعه و تحقیق به موارد شگفت انگیزی در قرآن و احادیث پیامبر صلی الله علیه و سلم مواجه می شوند که آنها را مجذوب اعتدال و رهنمودهای اسلام می سازد.

بسیاری از اشخاص را دیده ام که زمان مسلمان شدن می گویند: «تعجب مان در این جاست که حالا به دینی وارد می شویم که هیچگاه اصلاً فکر نمی کردیم آن را حتی مورد مطالعه قرار دهیم». در حقیقت آنها با دیدن بعضی اعمال مسلمانان، اسلام را دین دور از منطق می دانند و گنجاو می شوند که چه تعالیم دینی باعث می شود تا پیروان آن دین، چنین بحران هایی را در جهان بیافرینند. در مطالعه به موارد بر می خورند که سراسر محبت و صلح است و این نقطه ی آغاز پیوند قلبی شان با اسلام می شود طوری که نمی توانند رهنمودهایی منطقی را نادیده بگیرند که بر اساس فطرت شان است و این چنین به اسلام گرایش پیدا می-کنند.

عامل دیگر تاثیر پذیری از تحقیقات علمی در مکاتب و دانشگاه ها است به عنوان مثال محصلی را در نظر بگیرید که روی پروژه صنفی هنری کار می کند، و به عنوان منبع با هنر اسلامی معرفی می شود. متعاقباً به ارتباط بین هنر نقاشی و خالق هنر طبیعت پی می برد. هنرمند زیبایی هنر خالق را به تصویر می کشد و جذب شگفتی ها و اعجاز طبیعت و خلقت الله تعالی می شود.

اما در پایان باید گفت که هر کس مطابق به ویژه گی های شخصیتی خودش، دلایل متفاوتی برای گرایش به اسلام دارد...

طارق رمضان :و ما داستان های زیادی از تازه مسلمانان از عراق و افغانستان داریم، سربازانی که تحت تأثیر فرهنگ اسلامی در این کشورها مایل به مطالعه در مورد اسلام شده اند. آنچه شما در مورد دلیل خاص برای هر شخص عنوان نمودید، حایز اهمیت است زیرا هر شخص با انگیزه های خاصی مایل به مطالعه دین و مجذوب اسلام می شود.

بتول التوما :دقیقاً؛ و نباید فراموش کنیم که الله تعالی زمانی که برای بنده اش اراده ی خیر می کند، زمینه را برایش مساعد می-سازد، راهش را روشن می نماید، موانع را بر می دارد، و قلبش را برای پذیرش حقیقت آماده می سازد تا هدایت شامل حالش شود. مهم این است که ما نباید اشخاص را مورد قضاوت قرار دهیم.

ذبیح الله مجاهد

څو شیبې له خپل ولس سره

پوښتنه :

له جرمني څخه یوه افغانه خور

بشپړه یقین وکړئ چې ستاسو د هري وینا خوښوونکي یم او د یوه اسلامي ځواک د بریا کاروان درته وایم، دعاګاني کوم ،چې د کفارو په مقابل کې همیشه د اسلام په لور ورته دعوت کوونکي اوسئ .

زه ستاسو یوه افغانه پښتنه خور یم، څو کلونه وړاندی مي غوښتل چې ښکاره دعوت وکړم ،خو د کفر په ملک کې ښکاره دعوت زما وژنه ده او زما د نفس وژنه ده، هغوئ به زما نفس و وژني که تاسو پر حق او حقیقو سره د الله په لاره کې جهاد کوئ. نو ماته لارښوونه وکړئ چې په جرمني هیواد کې پټ دعوت څنګه وکړم؟

اول غواړم عربي زده کړم او ور پسي ځان په اسلامي لاروچارو پوره پوه کړم. وروسته بیا راځم افغانستان ته او د غربي دودونو رواجونو مخه به وه نیسم.

زما زړه هره ورځ دلته په جرمني کې د بربنډو انسانانو په لیدو مړ کیږي. افغانان هم ډیر بدل شوي دي مخکې زه افغانستان کي وم ،نن مې ستاسو د ویب سایت ادرس پیدا کړ . ستاسو افغانه خور.

ځواب: محترمې خورې ستاسو احساس د ستایلو وړ دی، داچې په یوه غربي هېواد کې له اوسیدو سره سره بیاهم تاسو اسلامي شعایرو ته ارزښت ورکوئ او درد یې درسره دی، خورا د افتخار ځای دی، زه تاسو ته مشوره درکوم، چې مخکې له دې چې نورو ته دعوت ورکړل شي، لومړی ځان په اصولي او اکادمیک ډول په اسلام خبرول او پوه کول اړین دي، که ستاسو خپل اعمال ټول د شریعت په چوکاټ کې برابر شي، لومړی ستاسو شخصیت ، کړه وړه او حرکات پخپله خلک د اسلام مقدس دین ته دعوت کوي، بل به تاسو په آګاهۍ، استدلال او پوهه سره وتوانیږئ، چې د سلام په مزایاوو خلک پوه کړئ او هر وړ او ناوړه سوال ته به ځواب وویلی شئ، نولکه څرنګه چې تاسو هم یادونه کړې، چې غواړئ لومړی عربي ژبه زده کړئ او ځان د اسلام په لارو چارو خبر کړئ ،زه هم

توصیه درته کوم، چې دعربي ژبې تر څنګ اسلامي علوم، خصوصاً فقه، اصول فقه، د اهل سنت والجماعت حقه عقاید، احادیث او تفاسیر ښه ولوله، ځان ښه په کې ماهر کړه، بیا پخپله لاره درته روښانه کیږي، چې ته باید څه وکړي او څه ډول یې وکړي. مننه

پوښتنه :

محتر مجاهد صیب السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته وحیدالله

په دې تمه چې روغ به یاست، او په خپلو نېکو هڅو کې به بریالي اوسئ!

ستاسې له دې ښایسته فرصته مننه، چې له خلکو سره مود اړیکو په خاطر دا کړ کې جوړه کړې ده. زه له تاسې نه د پکتیکا په ولایت کې د اربکیانوپه اړه پوښتنه کوم، د کرزي د ادراې له خوا د دې ولایت والي څو ورځې وړاندې رسنیو ته ویلي چې د دې ولایت په دریو ولسوليو کې کامیاب اربکیان لرو او په اتو نورو کې به یې هم فعال کړو. په دې اړه زه څو پوښتنې لرم:

۱ :ولې مجاهدین په ځینو سیمو کې خلک تر دې اندازې تنګوي، چې آن اربکیتوب ته تیار شي؟ که څه هم د ولس په پرتله مجاهدین خکو ته ډېره اړتیا لري، دوی باید دخلکو ډېرې لویې تېروتنې هم وزغمي، یایې حداقل داسې اصلاح کړي چې بل هغوی خو پرې د اربکیزم کرغېړنې پروژې ته ورنشي.

۲ :دامور په غږ ولو ستر گو وینو، چې په اربکیانو ټول هغه خک دي، چې نه منظم کورنۍ سیستم لري او نه هم اسلامي او انساني تربیه. مگر بیا هم د دې خلکو د جوړیدو په مخنیوي کې تاسې څه کړي؟

۳ :په پکتیکا کې د اربکیانو د پروژې په سر کې ممکنه وه، چې ډېر ژر دا بد خبر له مینځه یووړل شي. مگر ولې ستاسې ملګرویوځه سستي وکړه؟ مثلاً په یحی خپلو کې، یاهم په دې وروستیو کې د اومنې ولسوالې په زواکه کلي کې.

ځواب : وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته

محترم وحیدالله وروره! ستاسو له تشویق او سوال څخه ډیره مننه کوم. د اسلامي امارت مجاهدین دخپل توان په اندازه هرځای د اربکي سازې امریکایي پروژې مخنیوي ته متوجه دي. تاسو به لیدلي وي چې د اربکیو مفسدې او شریرې حلقې یې په مختلفو سیمو کې له منځه یوړې، دغزني په شلګر کې، په لوګر کې، په لغمان، ننګرهار، کندز او مختلفو سیمه کې د اربکیانو بیخ وخوت، په پکتیکا کې هم د اربکیو په وړاندې جدي اقدامات ترسره شوي. خو یوځه چې لا هم اربکي هڅوي چې له تلفاتو او زیانونوسره سره لا هم اربکي پاتې شي څو روپي دي چې د امریکایانو لخوا ورکول کیږي. امریکایان په لوی لاس غواړي چې دغه شریره طبقه د افغانانو ژوند وګوابښي او د امریکایانو د ماتې کسات د دغو اربکیو په لاس له دې ولس نه واخلي. خو له دې ټولو سره مورږ ځمنه کوو چې دغه شریره پروسه به شنډوو، اوس ډیری اربکیان بیرته تر دعوت لاندې دي، ډیری یې له اربکي توب څخه لاس په سر شوي. او له ډیرو نورو سره سخته جګړه روانه ده. سږ کال د خیبر عملیاتو په جریان کې ډیرې پراخې ساحې له

اربکیو څخه خلاصې شوې دي او لایې هم په وراندې عملیات روان دي، هیله کوو چې دالله په مرسته به د پکتیکا په شمول له ټول هېواد څخه د دغه شریر بوټي بیخ ووځي. ان شاءالله.

۲ـ داربکیو د جوړیدو په مخنیوي کې مور ټولې نظامي او دعوتي لارې کارولې دي. د قومونو له سپین ږیرو سره مو خبرې پرې کړې دي، داربکیو پلارانو او خپلوانو ته مو پیغامونه استولي دي، عملا مو په نظامي ډګر کې داربکیو په وړاندې سخت موقف خپل کړی دی. خوداچې امریکایي ډالرې تر شا ډیر دي او دغه شریره طبقه هم هیڅ ضمیر او وجدان نه لري. افغاني ننګ نه پیژني، اسلامي احکام نه پیژني، عزت او ابرو هیڅ معنی نه ورته لري د امریکایانو دغلامې په بدې نه پوهیږي مطلق جاهلان او لوپران دي. نو صبا به یې له خپلې لارې څخه را ګرځول هم ډیر وخت. ډیره هڅه اوشدید فشارونه غواړي چې ان شاءالله مور د ټولې لارې چارې تر لاس لاندې لرو.

۳ـ تاسو پوهیږئ چې د ژمي په موسم کې د پکتیکا په شمول په ټولو سرلو ولایاتو کې د مجاهدینو فعالیتونه د درونو واورو او یخنۍ له امله ستونزمن کیږي. په اوړي او پسرلي کې د اربکیو په ضد سخت عملیات شوي او لاهم روان دي خو اربکیان د ژمي له نسبتا ساړه موسم او دمجاهدینو له لرې والي څخه په ګټه اخیستنه سره لږ ډیر شول او پوستې یې ډیرې واچولې. خو بیا هم زمور عملیات جریان لري. اربکیان په خورا ډیر له منځه ځي. پوستې پریږدي، وسلې پریږدي او له مرګه سخته ویره لري. نو امیدوار یو چې ډیر ژر به د اومني په ګډون ډیره پراخه ساحه د اربکیانو او نورو دښمنانو نه ولکې څخه خلاصه شي.

پوښتنه : دراتلونکو انتخاباتو په اړه د اسلامي امارت موقف څه دی او بیا به تاسو د انتخاباتو په جریان بریدونه وکړئ که څرنګه؟ احمد علي لوګر

ځواب : تاسو خبرياست چې انتخابات یوه امریکایي ډرامه ده اوپریکون ورسره د هر افغان ایماني وجیبه ده، مور به هم د خپل ملت په نمایندګۍ د دغې ډرامې په وراندې خپل ټول توان کاروو. لکه تیر ځل مو چې دغه پروسه مختل کړه، او تاسو ګورئ چې انتخابات دوهم ځل ته هم څکه لاړل چې په لومړی سر کې د خلکو د ګمبنت له امله څوک ونه توانیدل چې مطلوبه نتیجه تر لاسه کړي. همداسې به بیا هم دغه دوهمه پروسه مختل کوو. خو یو شي ته باید زمور ټول هیوادوال او خلک متوجه وي چې امریکایي او د کابل اداري پورې اړوند رسنۍ به بیا هم په دروغو سره دغه ډرامه بریالۍ بولي، څکه هغوته دنده ورکول شوې ده چې د انتخاباتو په ګټه تبلیغات وکړي، دمجاهدینو بریدونه علان نه کړي او د خلکو دنه ګډون په اړه هیڅ رپوټ هم ورنه کړي. بلکې صرف د انتخاباتو دبر پالیتوب خبرې وکړي او په همدې اړه خپل تبلیغات جاري وساتي نو که په راتلونکو انتخاباتو کې سږ کسان هم ونډه واخلي دښمن به یې بریالي انتخابات وبولي او په ګټه به یې ډیر پروپاګند وکړي لکه همداسې مو چې په تیر ځل ناکامو انتخاباتو کې ولیدل.

د دعوت ، ارشاد ، جلب او جذب کمیسیون د مې میاشتې راپور

د روان (۲۰۱۴م) کال د مې په میاشت کې هم د تېرو میاشتو په شان د اسلامي امارت د دعوت ، ارشاد ، جلب او جذب کمیسیون په هڅو او د خپلو مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کې ۹۹ تنه چې د کابل اداري اړوند بیلابیلو ارګانونو کې په کار بوخت وو د حقایقو په درک کولو د غه فاسد او ګوډاګي رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یوځای شول .

ګرانو لوستونکو هغه اهم د تسلیم شوو کسانو تفصیلي میاشتني ارقام :

پکتیکا : ۴ تنه عسکر

کابل : ۳ تنه عسکر

لوګر : ۲ تنه عسکر

کندوز : ۸ تنه عسکر .

ننګرهار : ۶۳ تنه عسکر

پروان : ۴ تنه عسکر

پکتیا : ۲ تنه عسکر

سمنګان : ۱ تن عسکر

بدخشان : ۹ تنه عسکر

فاریاب : ۲۹ تنه عسکر

ارزګان : ۱۴ تنه عسکر

زابل : ۲ تن عسکر

کندهار : ۱۴ تنه عسکر

میدان وردګ : ۲ تن عسکر

هلمند : ۶ تنه عسکر

سرپل : ۱۱ تنه عسکر

فراه : ۷ تنه عسکر

هرات : ۷ تنه عسکر

د اسلامي امارت د اتلو مجاهدینو سره یوځای شوو بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لوبې اووړې وسلې ، مخابرې ، وسایط او ویوزیات شمېر مهمات مجاهدینو ته وسپارل .

د کابل د منفور رژیم څخه راجلا شوو او د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شوو هیوادوالو وعده وکړه چې نور به د خپل دین او وطن د خارجي او داخلي مزدورانو سره هیڅ راز تعلق نه ساتي ، د خپل مظلوم ولس او مجاهدینو رونو سره به همکاري کوي ، تر څولوی خدای جل جلاله ژر تر ژره زمونږ له ویاړلې

خاوري څخه د کفر، فسق، اشغال، فحشاء او ګمراهیو کرغیړن ټغرټول کړي او د مسلمانانو د خوښي یو سوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي د ټول افغانان پرې راټول شي.

د اسلامي امارت د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه، انعامونه او جایزې یې ورکړې او د دوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي د یرغلګرو او لاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل او د افغانستان اسلامي امارت د مجاهدینو سره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

د افغانستان اسلامي امارت د ګران هیواد څخه د وحشي یرغلګرو د شړلو او د اسلامي او ملي نظام د رامنځته کولو په موخه د ران سپېڅلی مقاومت په لړکي د نظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي، فرهنګي، تعلیمي او دعوتي هڅي هم ګړندی کړي دي د اسلامي امارت غښتلي مجاهدین د پراخو پوځي لاسته راوړنو څخه علاوه هره میاشت د هیواد په بیلابیلو ولایتونو او ولسوالیوکي د دعوت او ارشاد کمیسیون په هڅو لکه پورته چي ذکر شول د کابل اداري څخه په سلهاوو تنه کارمندان راوزي او د اسلامي امارت غیږي ته پناراوړي.

دعوت او ارشاد کمیسیون

د قلبی ناروغیو نه وروسته سرطان

سید ساحل

(Cancer) دویمه ناروغي ده چي د مرګ سبب کیږي د یوی امریکایی موسسی په وینا ۲۰۱۰ کال تر پایه امریکا کی ۴۹۰،۵۶۹ کسانو د ددی ناروغی له امله ژوند د لاسه ور کړی او دی موسسی داسی یوه وړاندوینه کړی چی په ۲۰۱۵ کال کی به ۹ میلیونه انسانان ددی بدی ناروغی له کبله وژل کیږی.

تقریبا ۷۵ سنه سرطان د چاپیریال څخه پیدا کیږی لکه تنباکو، شعاع ګانی، غذایی رژیم او داسی نور همدارنګه هغی امریکایی ټولنی دا هم ویلی چی ۳/۱ حصه سرطان د غذایی رژیم نه منځ ته راځي او دی سازمان دا هم زیاته کړی چی ۴۰ سنه ددی ناروغی درملنه هم کیدای شي او د درملنه د سالمو غذاګانو خوړل او د تنباکو نه استعمالول دی راځی چی دا ګټوری غذاګانی وپیژنو:

۱. ګل پي، او براکلي: (Cauliflower , Broccoli)

دی خوړو کی یو نوع کیمیاوی ماده ده (indole-۳-carbinol) په نوم او دا ماده ددی توانایی لری چی د سرطاني غدو په ضد مواد ترشح کوی او تنظیموی همدارنګه براکلي سفرافن (Sulfurafune) لری چی د کلمو او رکتوم سرطان څخه مخنیوی کوی

۲ ګازری

(Carrot)

د بیتا کاروتین (Beta Carotene) په نوم مرکب په ګازرو کی په پراخه ډول پیدا کیږي او دا مرکب کولی شي د خولی، معده، پستان، مثانه و کلمو سرطان خطر کم کړي، همدارنګه یوه بله ماده چی په ګازرو کی پیدا کیږي فالکارینول نومیږی او دا ماده سرطانی حجری رشد ته نه پریږدي.

۳ .مرخیړی (سمرق (Mushrooms))

مرخیړی سرطانی سلولونه د منځه وړي.

۴ .خوږه کچالو (Sweet Potatoes)

د کچالو هم بیتا کاروتین لری او د DNA محافظت کوي او مضری کیمیاوی مادی د هستی داخل ته نه پریږدي.

۵ .انګور (Grapes)

۶ .چای (Tea)

۷ .سره رومیان (Tomatoes)

۸ .هوږه (Garlic)

۹ .نخود (Nuts)

۱۰ انځر (Fig)

هغه تاريخي پيښي

ت / عبيدعزيز

چې درمضان په مياشت کې منځ ته راغلي

زمونږ په ټولنه کې داډول ذهنيت هم شته چې درمضان مياشت داستراحت اوخوب شپې اوورځې بولي اوروژه صرف ديته وايي چې دورځې په مهال له خوراک اوڅښاک څخه منع وي !

مونږ کـه دنومـوړي موضـوع عمـق اوشـاليدته وګـورو وتاريخي پيښې پې وڅيړو . داخبره به روښانه شي چې رمضان دپوره ديني پلتنې ، قربانی . تغيراوپه ځان کې دسوی بدون راوستونوم اومفهوم دي وبايدپه همدې بزرګواره مياشت کې دښستيز داسې بدون په لټه کې شو چې الله تعالی پرمونږ ورحميږي ، برکتونه رباندې ولوروي او دګناهونو پيټې مو سپک اوله منځه ولاړشي . ځکه الله تعالی فرمايي :

(إن الله لا يغير ما بقوم حتى يغيروا ما بأنفسهم) يعني الله تعالی هيڅ قـوم تـه تغيرنـه ورکـوي . ترهغـوچې پـه خپلـو نفسونوکې دوی تغيراوبدلون رانه ولي .

په دې لنډمطلب کې غواړو چې ځينې هغه مهم وقـايع وپيښې ستاسي مخ ته کيږدوچې د سلام په روښانه تاريخ کې درمضان المبارک په مياشت کې پيښې شوي ، ترڅوپوه شوچې رمضـــان پـــه ربښتيادقربانيو ،عبر تونواواســـلامي فتوحاتومياشت اوبه عظمت نه دې کوشپږووړځونوم اوروښانه حقيقت دی .

۱.دبدرسرنوشت سازه غزا:

نوموړي غزا چې دهجرت په دويم کال اودرمضان په ۱۷ نيټـه رامنځتـه شـوه ، مسـلمانانودخپلو نـاچيزو وسايلواوتجهيزاتوپه ذريعه وکولای شول چې دمشرکينو هغه لښکرته چې دشميرپه لحاظ څوبرابره او مجهزوو په شجاعانه ډول ورباندې بری ترلاسه کړي.

۲ . دهجرت په دريم کال درمضان المبارک په مياشت کې دحضرت رسول کرم صلی الله عليه وسلم وجيين مقدر صحابه له لوري داحدغزاته تيارې نيول .

۳ . دهجرت په پنځم کال درمضان په مياشت کې داحزابوغزاته چمتوالی اودخندق حفراوويستل .

۴ . دهجرت په شپږم کال درمضان په مياشت کې دغالب بن عبدالله سريه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دنوموړي جليل القدرصحابي په مشري دغطفان قبيلي ته چې په هغه

وخت کې داسلام لوی دښمنان ودمشرکینومددګران بلل کیدل دجګړې لپاره ورلیږلې وه اوبوی پرې یې ترلاسه کړی و.

۵. دهجرت په اتم کال درمضان په ۲۰ نیټه دمکې دفتح کال چې الله تعالی نومورې کامیابي دمسلمانانو پاره دفتح مبین په نامه یادکړه.

۶. دهجرت په اتم کال درمضان المبارک په میاشت کې دمکې اوشاوخوا علاقودټولوبتانو نسکورول اوماتول.

۷. دهجرت په نهم کال درمضان المبارک میاشت کې دتبوک له غزا څخه دحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وصحابه کرامو په فاتحانه ډول بیرته ستنیدل.

۸. دهجرت په ۱۳ کال درمضان المبارک په میاشت کې دعراق دبوبب په نامه دجنګ پیښیدل چې دحضرت مثنی بن حارثه په مشرۍ ترسره اومسلمانانولوی برې ترلاسه کړ.

۹. دهجرت په ۵۳ کال درمضان په میاشت کې دمسلمانانوپه لاس دیونان دردس جزیره فتح کیدل.

۱۰. دهجرت په ۶۷ کال درمضان په ۱۴ دطایف دمختارثقفي دولت نسکوریدل چې هغه دپیغمبرۍ دعوه هم کړې وه.

۱۱. دهجرت په ۹۲ کال درمضان په میاشت کې دمسمانانوپه لاس داندلس دطریف جزیره فتحه کیدل.

۱۲. همدارنګه دهجرت په ۹۱ کال درمضان په میاشت کې دسلام دسوی فاتح طارق بن زیاد په لاس دسپانیا یااندوس دستر فتحې مخې راته تلل.

۱۳. دهجرت په ۱۰۲ کال درمضان په میاشت کې دمسلمانانوپه لاس دفرانسې دیوې مهمې برخې نیول.

۱۴. دهجرت په ۲۲۲ کال درمضان په میاشت کې دبابک خرمی دښارفتح دعباسی خلیفه معتصم بالله په لاس.

۱۵. دهجرت په ۲۶۴ کال درمضان په ۱۶ نیټه دمسلمانانوپه لاس دایتالیادسرقوسه ښارستوط.

۱۶. دهجرت په ۵۵۹ کال درمضان په میاشت کې درومیانو په خلاف دحارم په سیمه کې دمسلمانانو جګړه اولوی برې.

۱۷. دهجرت په ۵۸۴ کال درمضان په میاشت کې داوسني فلسطین دکرم اوصفدښارونوفتح دسلطان صلاح الدین ایوبي په لاس باندې.

۱۸. دهجرت په ۶۵۹ کال دروژې په ۲۵ نیټه دفلسطین په شمال کې دعین جالوت په پیښه کې دچنګیزخان دواکمنې په مهال دمغولي لښکروپه وړاندې دمسلمانانولوی برې اوفتحه.

۱۹. دهجرت په ۶۲۶ کال درمضان په ۲۰ نیټه دسوریه هیواد دانطاکیه فتح اودمسلمانانوپه لاس دغاصبوصلیبیانو سوی شکست.

۲۰. ۷۷۳ درمضان په میاشت کې دمسلمانانوپه لاس دارمنستان فتحه کیدل

۲۱. دهجرت په ۷۹۱ کال درمضان په میاشت کې دبوسنیافتح.

۲۲. دهجرت په ۸۲۷ کال دروژې په ۲۳ نیټه دعثماني سلطان سلیمان قانوني په لاس دډوسنی یوګسلاویا (بلګرد) ستره فتح.

۲۳. دهجرت په ۸۲۹ کال درمضان په میاشت کې دقبرص دجزیرې اوپه فتحه.

مراجع

۱. الإصابة في تمييز الصحابة)(
۲.) تاريخ دمشق
۳. "البداية والنهاية"
۴. أحمد مختار العبادي: تاريخ المغرب والأندلس.
۵. إبراهيم علي طرخان: المسلمون في أوربا.

شهيدي قافلې

د شهيد قاري فيض محمد سجاد (رحمه الله) ژوند ته کتنه

دنيا دازمېښت ډک دی ، الله تعالی بې شميره مخلوقات پيدا کړي . چې ددې مخلوقاتو له جمې مهتم بالشأن يې مکلف مخوق يا انسانان دي ، دانسان مکلفيت دادی چې دالله تعالی له احکامو سره موافق ژوند وکړي . ترڅو دالله تعالی رضاء ترلاسه کړي او دالله تعالی محب او محبوب وګرځي .

د نبوي احديثو له مخې د انسانانو ترمنځ غوره هغه څوک دی چې دالله تعالی له مخلوق سره ښه او له ديانته ډکه رويه وري ،امام بيهقي رحمه الله يو حديث روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : الخلق عيال الله فاحب الخلق الی الله من احسن الی عياله .

خلک دالله تعالی د ولاد په منزه دي . په خلکو کې الله تعالی ته محبوب هغه څوک دی چې دالله تعالی له عيال / خلکو سره ښه / نيکي کوونکی وي .

ددې حديث په استناد کوم څوک چې دعامو مسلمانانو په قضاوت کې ښه بلل کيږي . هرڅوک يې صفت کوی او دنيکی يادونه يې کوي ، څوک ترې شکايت او بده خاطره نلري . بلکې خپل او پردي ټول ترې خوشاله وي ، دلوړ نبوي حديث په استناد دداسې کس په اړه ويلای شو ، چې الله تعالی ته مقبول او قريب انسان دی . ځکه دالله تعالی مخلوق چې له چا څخه راضي شو ، نو همدا دالله تعالی دراضي کيدلو په معنی دی .

نن چې مورږ دکوم چا په اړه بحث کوو ، دا هم دهغو بختورو انسانانو به جمې څخه دی . چې الله تعالی ورباندې لوړياد شوی صفت پيرزو کړی دی ، قاري فيض محمد سجاد . دجهادي مخکښانو په ډله کې يو دهغو کسانو له جمې څخه دی . چې هيڅوک ترې بده خاطره نلري . دکورنۍ غړي يې ، دجهاد او مدرسې ملګري يې ، دزندان او سفر انديوالان يې او حتی له فکري لحاظه مخالف کسان يې ټول په ښه خوله يادوي . ټول يې يوازې دحسن خلق يادونه کوي . هغه حسن خلق چې دسلام له نظره د سړيتوب او مروت معيار بلل کيږي . د اسلام له نظره دانسان ټول په همدې ترازو کيږي هغه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په اړه فرمايي : ولا حسب کحسن الخلق . . د نيکو اخلاقو په شان بل شرف يا دافتخار وړ شی نشته . . رواه البيهقي .

قاري فيض محمد سجاد

قاري فيض محمد سجاد د ايمانداد زوی د ملا عبدالوهاب لمسی په قوم پښتون / اڅکزی په ۱۳۸۵ هـ ق کال چې له ۱۹۶۵ میلادي سره سمون خوري د کندهار ولایت د تختـه پُل ولسوالی په ملایـد کلي کې دنیـا تـه ستر کې وغړولې .

په کوچنیوالي کې دمور او پلار په خدمت او د کښت او مالداری په چارو کې له خپل والد صاحب سره مصروف وو ، چې یو څـه ستر شـو . نوديني زده کړې يې پيل کړې . ابتدائي تعليم يې په خپل اصلي ټاټوبي کې ترسره کړ ، او وروسته يې دديني علـم پـه حصـول پسې د افغانستان او پاکستان مختلفو سيمو ته سفر وکړ .

ډيرى ديني کتابونه يې دپاکستان په کوټه ، پيښور او لاهور کې په مختلفو ديني مدارسو کې ولوستل . د قرآن کريم دقرأت او تجويد علم يې په لاهور کې ترلاسه کړ ، کله چې دکمونيزم په خلاف جهاد بريالی شو و هيواد له کمونيستانو ازاد شو قاري فيض محمد سجاد صاحب د کندهار په خاکريز ولسوالی کې ديني زده کړې پيل کړې . د علمي سفر پـه دې ټوپـه دوره کې نومورې مـروج فنـون خلاص کړل خو دنبوي احديثو دوره يې لا نـه وه کړې چې په افغانستان کې دطالبانو اسلامي پاڅون پيل شو ، چې په دې سره له نومورې څخه خپلې ديني زده کړې په نيمايي کې پاته شوې .

جهاد او په اسلامي امارت کې خدمتونه

هغه مهال چې قاري فيض محمد صاحب نوی ځوان وو په افغنستان کې دکمونيزم په خلاف مسلح جهاد روان وو ، نومورې په تانده ځوانی کې لومړی ځل پـه کندهار کې دکمونيستانو په خلاف په مختلفو جګړو کې شرکت وکړ . له دې جملې يوه مهمه جګړه د زابل او کندهار دلويې لارې په اوږدو کې د کمونيست رژيم دجبار مليشې سره تاريخي جګړه وه چې په نتيجه کې يې دغه مليشه په بشپړ ډول له منځـه لاړه . قـاري صـاحب پـه دې جګړه کې ديـوه فعـال مجاهد په حيث برخوال وو .

د کمونيستي نظام لـه سقوط وروسته قـاري صـاحب وسلـه پـه ځمکـه کيښـوده او دکندهار پـه خـاکريز کې يې ديني زده کړې پيل کړې ، مګر کله چې پـه تنظيمي دوره کې فساد او ګډوډي اوج ته ورسيده . او واقعي مجاهدين يې د ټوپکي مفسـدينو پـه خـلاف پـاڅون تـه اړ کـړل . قـاري صاحب دهغو محدودو مجاهدينو لـه جملې څخـه وو . چې دکندهار په ميوند کې يې په لومړي ځل دملامحمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ . دطالبانو داسلامي تحريک بنسټ يې کيښود او پـه تـدريج سره يې کندهار ولايت اوورو سته درست افغانستان د داړه مارانو او پاڅکيانو له منګولو خلاص کړ .

د کندهار پـه ژړۍ کې چې د صالح قومندان پـه نامـه ديـوه محلي مفسد پـه خـلاف طالبـانو لومړنی جنګ وکړ قاري صاحب په کې برخوال وو ، چې د قومندان صلح له تيښتې وروسته پـه همدې سيمه کې د طالبانو د محلي مرکز مشري قاري صاحب تـه وسپارل شوه ، کلـه چې طالبانو دکندهار باغ پُل سيمه ونيوله . دباغ پُـل پـه سيمه کې د جهادي طالبانو د مرکز مسؤيت ورته وسپارل شو .

د کندهار له فتحې وروسته چې طالبانو زابل او غزني ولایات هم ونیول او دمیدان وردګو ولایت ته ورسیدل . دغه مهال قاری فیض محمد سجاد د ملامحمد عمر مجاهد په امر د ۳۲ مجاهدینو په مشري میدان وردګو ولایت ته ولیږل شو . په دې سیمه کې نومورې نه یوازې د میدان ښار او د کابل دچهاراسیاب په جبهاتو کې په جګړو کې برخه اخیسته بلکې څه موده یې د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالی د ولسوال په حیث هم خدمت ترسره کړ .

د سید اباد مثالي ولسوال

قاري فیض محمد صاحب په ۱۴۱۶ هـ ق کال کې د ۸ میشتو لپاره د وردګو ولایت دسید باد دولسوال په حیث پاته شو . خو په دې ۸ میشتو کې یې هلته داسې کردار ترسره کړ ، چې تراوسه یې نیک یادونه پاته دي .

دا هغه مرحله وه چې افغنستان له سختې ګډوډۍ او بې نظمۍ څخه د راوتلو په حالت کې وو ، دطالبانو تحریک چې نوی یې د سیاست او حکومت داری په عرصه ګام ایښی وو . داوس غوندې منظم نه وو او نه یې تشکیلات دومره چوکات ته لویدلي وو . خو له ټولو مشکلاتو سره سره قاري صاحب په سیدآباد کې دعدل او انصاف یوه مثالي اداره رامنځته کړه ، د عام اولس داسې رضایت او اعتماد یې تر لاسه کړ ، چې تر وسه پورې دهمدې سیمو اولس په خورا اخلاص او کلک اعتماد دخپلو طالبانو وروڼو ترڅنګ ولاړ دي .

مولوي حیات الله چې هغه مهال له قاري صاحب سره یوځای اوسیده ، وایي چې دقاري صاحب د ولسوالۍ په وخت کې د قومندان مسلم په نامه دحزب اسلامي یو قومندان چې پخوا دطالبانو مخالف پاته شوی وو . دنومورې دښې ګوزارې له امله په خپله سیمه کې ازاد اوسیده ، دغه رازې نه په یاد کیږي چې قاري صاحب دې کوم څوک که څه هم مخالف به وو وهلی . توهین کړی او یا هم بې آبه کړی وي او حتی خپلو هغه ملګرو ته یې عتاب ورکاوو چې له چاسره به یې بد چلند کړی وو .

مولوي حیات الله وایي یو ورځ زه او ملا فضل باري د سید باد یوه قومندان ته چې پخوالۍ مورې سره مخالف وو ورغو . او ورته وموویل چې مورې ته راپور راغلی چې تا دمجاهدینو موټر او نور وسائل پټ کړي دي ، چې باید مورې ته یې راوسپاري .

کله چې مورې بیرته راتلو نو دغه قومندان قاري صاحب ته راغلی وو او دغه کیسه یې ورته کړې وه ، کله چې مورې راغلو قاري صاحب ډیر خپه وو او مورې ته یې خوشکې وکړې ، چې تاسو ولې په خپل سر داسې غلط کرونه کوئ . تاسو کشران پرون له مدرسو څخه راپورته شوئ ، الله تعالی یو فرصت درکړ اوس نه مجاهد ګورئ نه مشر او په بې احترامۍ ورسره حسابونه کوئ . تاسو دغه پخواني مجاهدین او قومندانان باید وپیژنئ . دوی داسلام لپاره دومره ستر خدمت کړی چې مثال یې نشته ، دوی د خپل همت او ایمان په زور د شوروي غوندې خدای دښمنه طاغوت ته شکست ورکړی ، د دوی قدر او منزلت باید وپیژنئ ، له دوی سره که موټر وي . خو په خپل غیرت به یې په غنیمت کې ګټلی وي . ستاسو څه مجبوریت دی چې په خپل سر له خلکو سره حسابونه کوئ .

مولوي حيات الله وايي د قومندان مسلم په نوم يو قومندان چې پخوا دطالبانو سخت مخالف وو او وس بيا دکرزي په حکومت کې دسيداباد ولسوال دی هغه وخت دقاري صاحب دنيک چلند څخه دومره متاثره شوی وو ، چې نور خلک به يې دطالبانو صف ته دعوتول . او حتی د وردګو په جلګه ولسوالۍ کې يې په يوه غونډه کې خلکو ته دطالبانو په پلوۍ تقرير وکړ .

د قاري صاحب دښې حکومت دارۍ يو ښه مثال دافغانستان دوتلي ليکوال احسان الله آرينزي هغه ليکنه ده چې په ۱۳۷۴ هـ ش کال د حوت په ۲۱ مه د شريعت اونيزې په پرلپسې ۱۲ مه ګڼه کې چاپ شوې . ددې ليکنې عنوان دی (دسيداباد په شرعي محکمه کې ديوې حقوقي دعوی خلاصول) د احسان الله آرينزي پلار په سيداباد کې له حاجي خليل نومي کس څخه يوچارک ځمکه پخوا اخيستي خو وروسته حاجي خليل دتنظيمي بالادستي له امله بيرته ترې ګرځولې او پوره لس کاله يې په ظلم کرلې ريبلې ده . کله چې په سيداباد کې قاري فيض محمد ولسوال شوی احسان الله آرينزي خپل شکايت قاري صاحب ته کړی او هغه داسنادو دليدلو ، پوښتنو او تصفيې څخه وروسته دمحکمې له لارې په څو ورځو کې دعوه حل او فصل کړې . او ځمکه يې له لس کلن غصب وروسته بيرته خپل اصلي مالک ته سپارلې .

دا پيښه وتلي ليکوال احسان الله آرينزي ډيره په دلچسپه بڼه بيان کړې . قاري صاحب يې يو آرام سړی بللی چې دعارضينو خبرې يې په ډير حوصله ترپايه اوريدې . نوموړی په پای کې وايي : دلته بايد دا په ډګه کړم چې دسيداباد ولسوالي دطالبانو په وخت کې له څوکاله رکود وروسته بيا فعاله شوه . که څه هم په شعباتو کې قالينې . ښکلي ميزونه ، موبل او فرنيچر موجود نه وو ، خو ډيره تقوی موجوده وه . ما دخپلې دعوی په جريان کې په سلګونو کسان هلته وليدل چې دخپلو کارونو داجراء يا دخپلو حقوقي او جزائي دعو ګانو د حل او فصل لپاره په شعباتو کې ګرځيدل که څه هم دکارونو اجراء وخت نيوه . او زيات تګ راتګ خلک پريشانه کوي . خو هيچا د دوه افغانيو د رشوت خبره راته ونه کړه . نه مراجعينو سره دمامورينو پيش آمد ښه او دواسطې ، پيسو او زور قصه بيخي ختمه شوې وه .

د جهادي مدرسې مهتمم

د وردګو ولايت په سيداباد کې له ۸ مياشتې خدمت څخه وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين په امر قاري فيض محمد صاحب کندهار ته راوغوښتل شو ، مولوي حيات الله چې دصحنې شاهد دی وايي په کومه ورځ چې قاري صاحب له سيداباد څخه روانيدو . نو د ددې سيمې سپين ږيرو او مشرانو د ډير محبت له امله ورپسې ژړل . خو دمشرتابه امر وو چې دغه پاک حاکم خپل رعيت د اخلاص له اوښکو سره پريښود او کندهار ته لاړ . قاري صاحب په کندهار کې څه موده د باغ پُل په سيمه کې د مظهرالعلوم مدرسې سرپرستي وکړه . او کله چې د کندهار ستره جهادي مدرسه تاسيس شوه . قاري صاحب ددې مدرسې د مهتمم په حيث وټاکل شو ، چې دامريکايي يرغل ترمهاله يې څلور کاله همدې دندې ته ادامه ورکړه .

د کندهار جهادي مدرسه یوه تعلیمي /جهادي اداره وه په دې مدرسه کې هغه طالبان اوسیدل ، چې په عادي حالاتو کې یې دیني درسونه ویل ، خو ضرورت په وخت کې د جګړې لومړیو کرښو ته تلل .

قاري فیض محمد سجاد صاحب ددې مدرسې عمومي مشر او مهتمم وو .

نومورې د مدرسې د چارو په سمبالښت سربیره د کال په اوږدو کې جهادي کرښو ته هم تلو ، په دې لړ کې د کابل دشمال د جنګي کرښو سربیره په کندز ، تخار او سمنګانو کې نومورې دخپې مدرسې دطالبانو په مشرۍ جهادي وظیفه ترسره کړې ده .

په کندهار کې د جهادي مدرسې او نورو اړوند مدارسو دطالبانوجهادي مشري یوه مهمه او سخته وظیفه وه چې قاري صاحب په ډیره ښه ډول اجراء کړه ، نومورې د خپل سرشار اخلاص ، تقوی او حسن تعامل په واسطه توانیدلی وو ، چې د څلورو کلونو په اوږدو کې دمدرسې دطالبانو چې شمیر یې د ۱۷۰۰ او ۲۵۰۰ په منځ کې چلیده ، ښه رهنمایي وکړې ، دیني زده کړو ته یې متوجه کړې ، او د مدرسې نظم برقرار وساتي ، هغه طالبان چې په دې موده کې په یادو مدارسو کې پاته شوي ـ قاري صاحب څخه یوازې ښې خاطرې لري .

د جهادي مدرسې د مشر توب سربیره نومورې له امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد سره هم خورا نږدې تعلقات درلودل ، امیر المؤمنین صاحب په نومورې خورا زیات باور درلود او دده استعداد یې درک کړی وو ، ملاخلیل احمد چې هغه مهال دقاري صاحب ملګری وو ، وایي چې اکثره وخت مـزدیګر یې ملامحمد عمر مجاهد لید چې په موټر کې به راغی ، قاري صاحب به یې له ځان سره واخیست او دمابنام له لمانځه وروسته به یې واپس راوړ ، چې همدا له امیرالمؤمنین سره دنومورې په همیشني او نږدې مصاحبت دلالت کوي .

د شمال محاصره او زنداني کیدل

هغه مهال چې امریکایي یرغلګرو په افغانستان یرغل ترسره کاوو ، قاري صاحب فیض محمد له خپلوجهادي ملګرو سره دخپل اسلامي هیواد ددفاع په خاطر دافغانستان شمال ته تللی وو او په تخار ولایت کې یې جهادي دنده ترسره کوله ، نومورې له خپلو ملګرو سره په کندز کې محاصره پاته شو ، چې وروسته له دوستم سره دموافقې په نتیجه کې د نورو طالبانو غوندې ورسره وعده وشوه چې کندهار ته درسیدلو لار به ورکول کیږي .

خو دوستم دخپل تاریخي غدر په لړ کې کله چې طالبان خلع سلاح کړل ، کانټینرو ته یې واچول او د شبرغان او بلخ په خوا یې انتقال کړل . قاري فیض محمد صاحب په دې مرحله کې دهغو کسانو له جملې څخه وو چې شبرغان ته په لاره په کانټینر کې ژوندی پاته شوی وو ، چې وروسته دشبرغان زندان ته واچول شو ، د شبرغان په زندان کې چې کله د دوستم کسانو او سي آی ای د مامورینو لخوا دطالبانو دمشرانو پلټنه پیل شوه ، قاري صاحب هم دطالبانو دمشر په صفت وپیژندل شو چې امریکایانو لومړی دکندهار د هوایي ډګر کرغیړن زندان او ورپسې د کیوبا د ګوانتانامو زندان ته انتقال کړ .

په ګوانتاناموزندان کې له یو نیم کال تیرولو وروسته نومورې دهغو لومړنیو بندیانو سه جملې څخه وو چې راخلاص شو ، دکیوبا په زندان کې نومورې ۲۰ سیپارې قرنکریم حفظ کړ چې پاتې لس سیپارې یې له خلاصون څخه وروسته پوره کړ او په دې توګه یې دقرنکریم د حفظ ویاړ ترلاسه کړ .

دامریکا خلاف جهاد او شهادت یې

د ګوانتاناموله زندان څخه له راخلاصیدووروسته نومورې یوځل بیا دامریکا په خلاف مسلح جهاد پیل کړ . دامریکایي یرغل په دریم کال دخپلو هنومجاهدینو په مشرۍ چې دجهادي مدرسې له وختویې ملګري وو دکندهار په معروف ولسوالۍ کې یې جهادي فعالیت پیل کړ ، وروسته یې په ارغسان ، شاولیکوټ او میانشین ولسوالیو کې جهادي فعالیت ته ادامه ورکړه په دې مهال نومورې وپره موده جنوب او جنوب غرب حوزو دعمومي نظامي کمیسیون دمشر په حیث هم دنده اجرء کړه . چې دجهادي کارونو په نظم او ترتیب کې یې مهم رول درلود .

دکندهار ولایت په لوړو یادو ولسوالیو کې نومورې دیوه مشر جهادي رهبر او لارښود په حیث خورا پیر خدمتونه ترسره کړل . دمجاهدینو جهدي صفوف یې منظم کړل . او ګڼ شمیر مجاهدین یې مؤثر فعالیت ته اماده کړل . په شاویکوټ کې له ۲ کاله خدمت وروسته نومورې داسلامي امارت دمشرتابه لخوا دروزګان ولایت دجهادي مسؤل په حیث وټاکل شو . نومورې په روزګان کې هم ټولو جهادي سیمو ته سفرونه وکړل . جهادي تشکیلات یې منظم کړل . خو دهمدې جهادي خدمت په ترڅ کې یې د ۱۴۲۸ هـ ق کال د رجب دمیاشتې په ۱۱ مه نیټه د چهارشنبې په شپه د شهادت ارمان ترسره شو ، په دې نیټه نومورې د روزګان ولایت دخاص روزګان ولسولۍ په شالۍ نوه سیمه کې دمابنام د لمانځه له جماعت وروسته خپلو ملګرو ته دیني وعظ کوو . چې ددښمن په هوایي ناڅې برید کې په نښه شو او دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

قاري صاحب پنځه زامن تر شا پرې ښني چې نومونه یې محمد ، احمد ، حسن ، عبدالرحمن او کوچنی سعد دي . سعد دنومورې دشهادت نه څه موده مخکې پیدا شو . نومورې د ټیفون له لارې خپلې کورنۍ ته احوال ورکړ چې په نوي پیدا شوي زوی یې سعد نوم کیږدي ، خو قاري صاحب خپل دغه کشري زوی په دنیا کې ونه لید ځکه نومورې په همدې جهادي سفر کې شهید شو ، الله تعالی دې وکړي چې په عقبی کې یې په جنت کې ستر ګې پرې یخې شي .

د قاري فیض محمدسجاد صاحب دشخصیت په اړه

وړاندې وویل شول . چې قاري صاحب دخپلو ملګرو او متعلقینو ترمنځ یو غیرمتنازع شخص دی ، شخصا مایې تراوسه له کوم چا څخه بده خاطره نه ده اوریدلې ، ټول ملګري یې دښه شخصیت ، ښه اخلاقو او دینت صفت کوي

ددیني علومو استاد مولوي حیت الله له قاري صاحب سره ډیر وخت نږدې پاتې شوی . نومورې وایي ، قاري صاحب یو عجب دیندار سړی وو ، مجاهد هم وو ، دطریقت بیعت یې هم کړی وو ، تبلیغ یې هم نه هیراوو

په تبليغي دعوت کې به يې دري ورځې ياڅه زيات وخت لګاوو حتی کله ناکله تر څلورو مياشتو په تبليغ کې تلو . ديني علم يې هم نه هيراوو ، حتی دسفر او جهاد په حالت کې به ورسره يو بکس وو چې کتابونه به په کې وو او له فرصت نه په استفاده يې مطالعه کوله . قاري صاحب به وېل چې داسلام په ټولو شعبو کې بايد عملا کار وکړو . اسلام بايد يوازې په جهاد يا علم کې منحصر نه کړو ، بلکې ټولې شعبې په خپل ځای بايد مهمې وبولو ، وخدمت په کې وکړو .

مولوي حيات الله وايي د قاري صاحب يو بل بارز صفت زهد وو ، په دنيايي عيش و نوش سره يې نه لګيده . ډيرې زياتې نفلي روژې يې نيولې ، کنه به چې له جهادي مدرسې څخه جهادته تلو نو امارت ورته ګڼ شمير موټران ورکول . چې ده به په جهاد کې ټرې استفاده کوله ، مګر کله به چې بيرته راغی . ټول موټر به يې اړونده اداره ته وسپارل او حتی ځانته يې يو موټر هم نه پريښود . په مدرسه کې يې دعادي طالب غوندې ساده ژوند کاوو .

د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې دهرت پخوانی والي او دفوائد عامې پخوني وزير مولوي احمدالله مطيع وايي : قاري صاحب له الله تعالی څخه ويريدونکی نسان وو . ديانت يې ډير ښه وو ، په خپلو وظايفو کې زحمت کش او نه ستړی کيدونکی وو او که ښتيا وو يم بې جوړې سړی وو .

ملاخليل احمد وايي : په يادېږي يې کله به مو چې په موټر کې سفر کاوو ، قاري صاحب به په ډير خوږه غږ تلاوت کاوو ، او دحضر په مهال هم دتر نکريم دتلاوت ډير پايبند وو

مولوي حيات الله چې دامريکا خلاف جهاد کې له قاري صاحب سره نږدې پاته شوی دی وايي : قاري صاحب د جهادي ژوند يو ځانګړی پروګرام درلود ، ملګري يې عبث وخت تيرولو او بې حاصله ګپ شپ ته نه پريښودل ، دورځې به يې دری وخته ديني وعظ او بيان کاوو او دا به يې دملګرو ترمنځ د يوه ځانګړي ترتيب له مخې تقسيم کړی وو ، د سهار او مابنام مسنون اذکار يې په ملګرو زده کول او عملي کول ، که به مجاهدين ملګري کومې خواته روان وو ، او په لوړځای به ختل نو قاري صاحب به غږ کړ ، هلې دسور ختلو ذکر الله اکبر شروع کړئ او که به په کوم ځای ښکته کيدو نو غږ به يې کړ سبحان الله وياست .

دغه راز د ډوډۍ د پيل او پای ، مجلس ، خوب او هر ډول حالاتو اذکار يې هميشنی معمول وو . او په ملګرو يې هم زده کول ، که په مجاهدينو کې د چا سم قرأت نه ووزده ، نو مجبورول يې چې له نورو قاريانو ملګرو څخه قرنکريم سم زده کړی ، لمونځ ورته ټير کړي ترڅو يې عبادت سم شي .

خپلو مجاهدينو ملګرو ته يې په هميشنی مذاکره کې د ژوند د هر اړخ آداب وربښودل ، ډوډۍ اداب ، دمجلس اداب ، له مشرانو او کشرانو سره دګوزارې آداب او داسې نور مسنون آداب يې ملګرو ته وربښودل اوعملي اړخ ته يې دومره متوجه وو ، که به چا په چپ لاس ډوډۍ پورته کړه سمدستي يې وربانده غږ کاوو چې د ډوډۍ خوړلو مسنونه طريقه په ښې لاس خوړلو ده .

د قاري صاحب دغه اصلاحي پروګرام په ډيره مسلکي طريقه او د نيک اخلاقي په چوکاټ کې وو چې په هيڅا نه بوج کيده ، بلکې اکثره داسې علماء و مدرسين چې له ده څخه په علم او عمر کې زيات وو ، له ده څخه يې زده کړه کوله ، دده په ملګرتيا يې فخر کاوو ، ځکه دقاري صاحب جهدي ملګرتيا يوازې جهد نه وو ، بلکې يو اصلاحي پروګرام وو که به چا وخت ورسره تير کړ نو له جهادنه سوا به يې د شخصيت داصلاح په برخه کې ډيره ګټه کړې وه .

د قاري صاحب دجهادي ملګرو شمير خورا زيات وو ، خو د هريوه يې نه يوازې نوم زده وو بلکې د کورنۍ د غړو ، والدينو او شخصي ژوند پوښتنه يې هم ترې کوله چې به کوم ملګري له کور څخه سنګر ته راستون شو ، قاري صاحب به د يوه مشفق قريب غوندې د ټولو خپلوانو پوښتنې ترې کولې ، چې دا ډول صميميت وس په خور لږو خلکو کې ليدل کيږي

مولوي حيات الله صاحب دقاري صاحب د ژوند او شخصيت په ډه خورا جالبې خاطرې لري ، دليکنې داوږدېدو له امله به په دې کفايت وکړو ، چې قاري صاحب دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دطريقې مطابقت په جهاد کې په اعمالو او عباداتو سره جنګ کولو ته ډيره توجه درلوده ، نوموړي به چې د وسلو اومهماتو د اخيستلو لپاره د امارت اسلامي تر تابه ته د پيسو پيشنهاد کاوو ، نو د وسو ترڅنګ به په لست کې د مجاهدينو د مسواکونو مصرف هم ليکل شوی وو ، ځکه نوموړي به په جبهه کې خورا ډير مسواکونه له ځان سره ساتل ترڅو مجاهدين له دغه مسنون عمل څخه بې برخې نه شي .

باور وکړئ ما چې کله دشهيد قاري صاحب فيض محمد سجاد د شخصيت په اړه ډډه دملګرو څخه ځيني حاضرې واورېدې او بيامې دليکلو په مهال له ځانه سره لحاظ کړې ، نو بې اختياره مې له ستر ګو اوښکې وبهېدې .دا پېښه ماته دقاري صاحب د ديانت يوه ځانګړې تيابنکاره شوه ، ځکه زه خپل دليکوالي په ژوند کې تراوسه له دسې پېښې سره نه وم مخ شوی ، سبحان الله . د فتنوپه دې عصر کې دومره ديانت ساتل ، چې تش يادېږي په يوه سخت زړه باندې اثر کوي او اوښکې ترې راټيلوي ، خو بيا مې له ځان سره وويل

این سعادت به زور بازو نیست
تانبخشد خدای بخشنده

راځئ دعاء وکړو ، چې متعال رب تعالى د رحمت دخپلوپې پايه خزانو څخه په موږ اوسنيو مجاهدينو باندې هم رحم وکړي ، اخلاص ، ديانت او صبر مو نصيب کړي ، ترڅو د دنيا او اخرت فائزين شو .

رحمه الله تعالى

شهيد ملاعزيزالله (عظيمي)

اتل شهيد ملاعزيزالله (عظيمي) د ظفرخان اکا زوی په قوم مريانی د پکتيکا ولايت د وازېخوا ولسوالۍ د پيتاو د سکو کاريز اوسيدونکي په يوه جهادپاله ديندار کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې.

ماشومتوب يې د سيمې د رياض کاريز په درس او نورو علمي حلقو کې په طالب العلمي بوخت تېر کړ ،زلميتوب يې د اسلامي امارت په مهال د کابل له فتحې سره هم مهال راخر ګند شو او په کال ۱۹۹۷ميلادي کې د اسلامي امارت د نظامي تشکيلاتو يو فعال مجاهد سرتيری شو او د شمال د قندوز ولايت ، يکاولنګ اوجبل السراج په جبهاتو کې يې د شهيد ملامان الله صابر اوشهيد ملاعبيدالله عابد اوشهيد ملاعالم خان روحاني په قوماندې کې ډيرې غزې وکړې اوپه کرغه کې يوځل زخمي هم شو.

د ښو اخلاقو او دنګې ځوانۍ خاوند دې زلمي د جهاد لپاره په ۲۰۰

دامارت پیغامونه

له ګوانتانامو څخه د افغانستان د اسلامي امارت د پنځو مشرانو د آزادۍ په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

په ډېرې خوښۍ سره ټول ولس، په ځانګړې ډول د اسلامي امارت مجاهدینو، او د نوموړو پنځو تنو مشرانو کورنیو، ځواخپړو او خپلو خپلوانو ته زیږی ورکوو، چې د افغانستان د اسلامي امارت پنځه تنه مشران هریو: محترم ملا محمد فاضل آخوند، محترم ملا نور الله نوري، محترم ملا خیر الله خیر خواه، محترم ملا عبد الحق وثیق، محترم مولوي محمد نبي، چې له دیارلسو کلونو راهیسې د ګوانتانامو په زندان کې زندانیان وو، لومړی د لوی الله جل جلاله په فضل او مهربانۍ، او بیا د سربندونکو او اتلو مجاهدینو د قربانیو په نتیجه کې آزاد شول.

نوموړي پنځه کسان د افغانستان د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د غیر مستقیمو خبرو په ترڅ کې، چې له څه مودې راهیسې روانې وې، د قطر هېواد په منځګړیتوب آزاد شول، دوی به په قطر هېواد کې له خپلو کورنیو سره هستوګن وي، او خپل ژوند به پرمخ وړي.

د یادونې وړ چې د افغانستان اسلامي امارت د خپلو پنځو تنو مشرانو د آزادۍ په بدل هغه یو تن امریکایي عسکر چې تقریبا له پنځو کلونو راهیسې ورسره بندي و، امریکې ته وسپارلو.

د اسلامي امارت پنځه تن مشران نن د شنبې په ورځ ماسختن د افغانستان پر وخت د مابنام په ۷ بجو د قطر هېواد هغه پلاوي ته وسپارل شول، کوم چې له درې ورځو راهیسې په ګوانتانامو کې د نوموړو بندیانو د ورسپارلو لپاره هلته منتظر و، نوموړی هیئت د اسلامي امارت له پنځو ته آزاد شویو بندیانو سره نن د

ماسختن په ۱۰ بجو او ۳۰ دقیقو را روان شوی، چې سبا ته د قطر هېواد ته را ورسېږي، او په قطر کې به د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر او رهبري شورا غړي د نومورو پنځو تنو مشرانو هر کلی وکړي.

همدا رنګه د امریکې بندي بروګډال نن د شنبې ورځ د افغانستان پر وخت مابنام ۷ بجې د خوست ولایت په اطرافو کې مقابل لوري ته ور وسپارل شو.

د افغانستان اسلامي امارت له هر وخت راهیسې په دې هڅه کې و، او لا دی چې ټول هغه افغاني اسیران چې د هېواد په دننه کې دي، او که بهر زر تر زره را خلاص او د آزادۍ له ستر اولوی نعمت څخه برخمن شي.

د افغانستان اسلامي امارت په راتلونکي هم هوډ لري چې په زندانونو کې پراته مجاهدین زر تر زره آزاد شي. او په دې اړه له ټولو نړیوالو حقوقي او بشري ټولنو څخه، په ځانګړې ډول له ملګرو ملتونو څخه هیله لري، چې د انساني خواخوږۍ له مخې په دې اړه له افغان ولس او اسلامي امارت سره خپلې هڅې همغږې کړي. تر څو ټول بندیان د آزادۍ له خپل قانوني او انساني حق څخه برخمن شي، او د خپلې خوښې ژوند وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت

۲/۸/۱۴۳۵هـ ق

۱۰/۳/۱۳۹۳هـ ش- ۳۱/۵/۲۰۱۴م

دمعدي زخم

داکټر بریالي بختیار جبارخیل

شل کاله مخکې دمعدي د زخم دتداوي دپاره دداسي کریم څخه استفاده کیدله چې زیات غوړ او کلسترول یې لرل چې اکثره وخت به دزړه حملات سره شخص مخامخ کول وې ښودل چې د معدي دزخم دتداوي دپاره له انتي بیوتیک درملونه استفاده کیږي

اخیر ني څېړني ښي چې ۱۹ ډوله میکروبونه دانسان په معده کې ژوند کوي دامیکروبونه دخولې په جوف کې هم قرار لري نو کیدي شي چې دا په مچو کوبو دیو شخص سره ،انتقال شي

عملي لار ښوني دمعدي دزخم دتداوي لپاره

۱ -کلاري تروماېسین clarithromycin ۵۰۰ mg دورځ دوه دانې دیو هفتې لپاره

۲ -مترونیدازول metronidazole ۵۰۰ mg دورځ دوه دانې دیوې هفتې دپاره

۳ -امپرازول omeperazole ۲۰ mg یو ځل په ورځ

که چیرته مریض معدي سوزش ولري وې عفوني حالت پکې ونه بیدل شي نو ډاکټر باید هغه ته د درد دوا ورکړي او وروسته دنوع انتي بوتیک او یوډول دمعد درمل حد قل دیو هفتې پیاره ورکړي

که سوزش انتي بیوتیک سوزش کم نکړي نو مریض شخص باید امپي سیلین او یونوع دوا دمعدي دشپږ هفتو پیاره مصرف کړي انشاالله په زړه پوري نتیجه به ورکړي

جنګي جنايتونه (مئ)

سيد سعيد

دروان (يئ ·ي ·ز) کال دمئ دمياشتي په لومړۍ نيټه د پکتيکا ولايت د نکې ولسوالۍ په تور خېل کلي کي دداخلي عسکرو د هاوان په ډزوکي شپږ تنه کوچنيان ټپيان شوي دي ·

دمئ په ي مه دغزني ولايت دګيلان ولسوالۍ په مختلفوسيموکي (پردل ، بالاير ، چمبرانواونوروکليو کي) دحکومتي عسکرو داګايز اوهاوان په بريدونو کي – چي دطالبانو سره دجګړې په ترڅ کي يې کارولي وو – ملکي خلګوته پراخ ځاني اومالي زيانونه اوښتي دي ، درپوټونوله مخي دهاوان اواګايز په دغو بريدونوکي يوويشت تنه ملکي وګړي ژوبل شوي اودوه تنه شهيدان شوي دي ·

دمئ په ي مه اربکيانو د جوزجان ولايت د قرقين ولسوالۍ په خانتپه سيمه کي ملاامام (مولوي رحمن صاحب)شهيد کړی دی ·

د مئ په ي مه دغزني ولايت د مقر ولسوالۍ په مانکو کلي اربکيانو يو عام وګړی (شيراحمد) شهيد کړی ، دځايې خلګو دوينا له مخي همدغه وژل شوی هيواد وال چي اوس يې مړی وموندل شو ،

څو ورځي مخکي اربکيانودپيسولپاره تښتولی واو دخوشي کولو په بدل کي يې دلس لکه افغانيو غوښتنه ځني کړې وه ·

دمئ په ي مه دفراه ولايت د بالابلوک ولسوالۍ په ګنج اباد سيمه کي داخلي عسکرويوماشوم ټپي کړی دی ·

دمئ په ٥ مه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ په چهاردي سيمه کي داخلي عسکرود طالبانوسره ترنښتي وروسته پنځه ويشت تنه ولسي وګړي له خپلوکورونو رايستلي ، اوبيايې داسي وهلي چي دځينويې سرونه اولاسونه هم ورمات کړي دي ·

دمئ په ٦ مه دغورولايت دتيوره ولسوالۍ په پاحصار سيمه کي اربکيان يوملکي وګړی دطالبانو سره داړيکو درلودوپه تور شهيد کړی دی

دمئ په ئ ئ مه دکندهار ښار دلسمي حوزې عسکرو يوځوان چي دبل کس سره يې شخړه کړې وه له کوره ايستلی اوبيازندۍ کړی ، دکارته معلمين اوسيدونکوددغه کس مړی دامنيه قوماندانۍ ومخ ته داعتراض په توګه

ایښی ؤ اودوژنکو پولیسو دمحاکمې غوښتنه یې کوله .دیاد ونی وړده چی په وروستیو میاشتوکی دکندهار ولایت په مربوطاتوکی دپولیسو له لوری دهمدا ډول وژنوپیښی خوراډیری شوی دی چی له امله یې وخت په وخت خلکومظاهرې هم کړی خوچارواکو یې په اړه پام وړ غبرګون نه دی ښودلی .

دمئ په ئ ئ مه د کندز ولایت د دشت ارچی ولسوالی د شهید عزیز الله په کلی کی دداخلی عسکرودهاوان په ډزو کی یوه ښځه شهیده شوې اودوه ماشومان اویوه ښځه ژوبله شوې ده .

دمئ په ی ئ مه دفراه ولایت دفراه رود ولسوالی په تخت منذر سیمه کی دیرغلګرودبې پیلوټه الوتکی په برید کی څلور تنه ملکی هیوادوال شهیدان شوی دی .

دمئ په ی ئ مه د غزنی ولایت د شلګر ولسوالی په نانی سیمه کی د سیمی په کچه لویه مدرسه نورالمدارس باندی داخلی عسکرو دهاوانونو ډزی کړی چی له امله یې یوطالب العلم ټپی شوی دی .

دمئ په ی ئ مه دفاریاب ولایت په قیصار ولسوالی کی ځایې عسکروچی دنشې په حال کی و ، دخلګوپر یو موټر ډزی کړی یوماشوم پکی شهیدشوی اودوه تنه ژوبل شوی دی .

دمئ په ی ئ مه د کونړ ولایت د ناړی ولسوالی په ساو سیمه کی دیرغلګروپه بمبارکی دوه ولسی وګړی چی په لاره روان ووشهیدان شوی دی .

دمئ په ی ئ مه دننګرهار ولایت د خوګیاڼو ولسوالی په ککړاو ټټنګه سیمو باندې یرغلګروچاپه وهلې ، یوملکی هیوادوال یې شهید ، درې نفره ژوبل اویوتن یې بندی کړی دی .

دمئ په ی ئ مه دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالی په لوکاټ سیمه کی دداخلی عسکرودهاوان په برید کی یوملکی سړی شهیدشوی اویوبل تن ژوبل شوی دی .

دمئ په ۵ ئ مه د بدخشان ولایت د وردوج ولسوالی په استرب سیمه کی دکورنیو عسکروپه ډزو کی یو ملکی وګړی شهید شوی دی .

د مئ په ٦ ئ مه اربکیانودغزنی ولایت دشلګر ولسوالی د کنصف کلی یوملکی وګړی (غلاسخی) شکنجه کړی اووروسته یې دمنارپه کلی کی شهید کړی دی .

دمئ په ۸ ئ مه د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی په ګمبیل کلی کی دداخلی عسکرود هاوان مرمی لګېدلې او له امله یې یو ماشوم شهید شوی اودوه نور ژوبل شوی دی .

دمئ په ۸ ئ مه د کندز ولایت د دشت ارچی ولسوالی په حاجی نعیم کلی کی دځایې عسکرو په ډزو کی یوه ښځه شهیده شوې ده .

دمئ په ۸ ئ مه دزابل ولایت دشاجوی ولسوالی دشبار دسیدانوپه کلی کی اربکیانویوملکی وګړی (سیدعالم)چی په خپله کرونده کی یې اوبه لګولې شهید کړی دی .

دمئ په ۹ ئ مه دزابل ولایت د نوبهار ولسوالی دجلالزو پرکلی خارجی اوداخلی عسکرودچاپې

پر مهال ګڼ شمېر ولسي وګړي شکنجه کړي اوځورولي دي .

دمئ په ۰ي مه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دچرخکيانو دمانده په بارګزوکلي باندي کورنيو عسکرودهاوان ډزي کړي ، دهاوان يوه مرمۍ پر يو کور لګېدلې چي له امله يې درې تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي .

دمئ په ئي مه د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په کنصف سيمه کي اربکيانودوه ولسي هيوادول (فتح محمداوالله نظر) له خپله کوره ايستلي ، وهلي اوبياشهيدان کړي ، دسيمه ييزو خلګوپه ويناا ربکيانو وروسته دشهيدو شووخلګوزنانه اوماشومان له خپله کوره ايستلي اوپه همدغه کور کي يې ځانته پوسته جوړه کړې ده .

دمئ په ئي مه د نورستان ولايت د کامديش ولسوالۍ په پتيګل سيمه باندي د يرغلګروپه بمبار کي دښونځي پنځه تنه زده کونکي شهيدان شوي دي .

دمئ په يي مه د پکتيا ولايت دزرمت ولسوالۍ په نوي کوهي سيمه کي ځايې عسکرويوماشوم شهيد کړی دی .

دمئ په يي مه اشغالګرو عسکرو د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په ابراهيم زوی اومعاذ کلاسيمه کي دچاپې پر مهال پنځه تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي .

دمئ په يي مه دزابل ولايت د شاجويې ولسوالۍ په مربوطاتوکي يرغلګروڅلور تنه کوچيان بنديان کړي دي .

دمئ په يي مه کورنيو عسکرودهلمندولايت د سنګين ولسوالۍ د پانکيلي کلي ، دپيرمولوي صاحب ، حبيب الله او حاجي محمد اکا دکليو خلک په زوره له خپلو کورونوڅخه کډه کولو ته مجبورکړي او نن يې دهمدي ولسوالۍ دچرخکيانو له مانده څخه بيا دحاجي فتح محمد اکا دپيچ ترکلي پوري دغزيدلي سړک پرغاړه ټولو کليو ته خبرداری ورکړی چې ترمازديګرپوري خپل کورونه اوپټي تخليه کړي او خپله سيمه اوجائيدادونه دوی ته پريږدي .

دمئ په ٦ي مه دپکتيا ولايت دزرمت ولسوالۍ په سورکۍ سيمه کي کورنيو عسکرودچاپې پرمهال درې تنه ولسي هيوادوال شهيدان کړي دي .

دمئ په ۸ي مه اشغالګرو عسکرودشپنيو عملياتو په لړ کي د غزني ولايت د ګيلان ولسوالۍ په پردل کلي باندي چاپه وهلې ، دکورو نو ترتلاشي کولووروسته يې نهه تنه ولسي هيوادوال دبنديانوپه توګه له ځان سره وړي دي .

دمئ په ۸ي مه دکاپيسا ولايت داله سای ولسوالۍ په بازار کي دداخلي عسکرو دهاوان په ډزوکي يو ماشوم شهيد شوی اوشپږ تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي .

دمئ په ۹ي مه دارزګان ولايت دخاص ارزګان ولسوالۍ په سلطان ناوه کي اربکيانودخپل قوماندان (نصرو) دوژني په تور څلور تنه ولسي وګړي بنديان کړي اويوتن يې په وهلو کي شهيد کړی دی .

دمئ په ۹ي مه اشغالګرو د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په چهاردي بیلي او مشواړو سیمو کي دچاپې پرمهال یوملکي هیوادوال شهید کړی اوګڼوکورنیوته یې مالي زیانونه اړولي دي .

دمئ په ۰ ۹ مه دغزني ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په قلب سیل سیمه کي دامریکایانودثقیله وسلو په ډزوکي دوې ښځي شهیداني شوي دي .

دمئ په ۰ ۹ مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په دهزکي سیمه کي کورنیوعسکرویودولس کلن هلک شهیدکړی دی .

دمئ په ۰ ۹ مه د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په نور محمد خان پول او ارباب سید رحیم سیمو باندي دداخلي عسکرودهاوان په ډزو کي درې تنه ماشومان شهیدان شوي دي .

دمئ په ۰ ۹ مه دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ دهفت اسیاپه ازاد خېل سیمه کي دنظم عامه عسکرو وروسته له هغه چي ټآنګ یې پرماین وخوت ، ګڼ شمېر خلک وهلي ډبولي اودوه ولسي وګړي (مارزک اوثمر ګل)یې شهیدان کړي ، همدا رازدغوعسکرودیوکور څخه قران عظیم الشان رایستلی اوپه مرمیوسوری سوری کړی دی .انا لله وانا الیه راجعون

مأخذونه :[بي بي سي راډیو ، ازادي = ، افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ، خبریال ویبپاڼه ، لراوبر= ، نن ټکی اسیا=خبرپاڼه = اوبینوا=]

د روژي دمبارکي میاشتي لپاره غذایي تنظیم

ترجمه: مصطفي کندهار

د روژي په جریان کي باید زیاتره د هغه خواړو څخه استفاده وسي چي د سم دستي هظم کیدلو قابلیت ونلري یا په بل عبارت هغه خواړه چي ژر هظمیږي باید د خوړلو څخه یي ډډه وسي ځکه ژر هظمیدونکي غذا د انسان په بدن کي د ۴-۳ ساعتونو لپاره د پانه کیدلو قابلیت لري په داسي حال چي که چیري هغه غذا چي په بدن کي ژر نه هظمیږي وخوړل سي په بدن کي تر ۸ ساعتونو دوام کولای سي.

ژر نه هظمیدونکي خواړه عبارت دي له حبوباتو او غلي څخه چي مهشهور یي په لاندي ډول دي :اوربشي ،غنم ،ایږدن ،لوبیا،... فایبر لرونکي خواړه د سبوس لرونکو خوړو له جملي څخه شمیرل کیږي چي په هغوي کي مکمل غنم ،حبوبات او غله ،سبزیجات لکه :مټر (زرغونه لوبیا)نخود، کډو ،سبزي ،او نور یوناني شیان لکه د لبلبو ریښه چي د اوسپني ښه منبع ده او د سبزیجاتو په ډول خوړل کیږي ،میوه جات د پوستکو سره ،وچه میوه خصوصاً وچ کړل شوي زردالو ،انځر ،الوبخار او بادام.

په خوراک کي باید کوښښ وسي چي تر یو حده د مختلفو غذاو د خوړلو څخه استفاده وسي د مثال په ډول : میوه ،سبزیجات ،د چرګ ،پسه او ماهي غوښه ،ډوډي ،لبنیات (مستي ،شیدي ،او داسي نور). د سره کړو خواړو د خوراک څخه باید پرهیز وسي ځکه سره کړي خواړه زړه بدۍ ،د وزن ډیرښت او د سالم هظم د مخنیوي باعث ګرځي

پرهیز : کوښښ باید وسي چي د سره کړو غذاو او نور هغه غذاو چي ډیره بوره لري ،پرهیز وسي. ډیر خوراک او د چیو څښل د پیشمي په وخت کي د ورځي له طرفه د منرالونو د وتلو سبب کیږي په داسي حال کي چي انسان د ورځي کافي اندازي منرالو ته اړتیا لري.

هغه خواړه چي باید وخوړل سي :د مختلفو خوړو چي په زیاته پیمانه کاربوهادرتونه ولري باید وخوړل سي ځکه د خواړه د ورځي له طرفه د لوږي مختیوي کوي. بدام د بړ نشیسته په درلودلو سره د پروټین او فایبر یوه ښه منبع ده، کیله همدا ډول د پوټاشیم ،مګنیزیم او کاربو هایدرتونو په درلودلو سره یوه فایده منه میوه ده.

مشروبات :د روژه مات د وخته څخه بیا تر بدیدلو پوري باید د میوي اوبه په کافي اندازه سره وڅښل شي تر څو مو بدن داوبو اندازه پر وخت سره پوره کړي وي..

ستوماني (د ویني د فشار کښتوالي) :د خولو ډیر بهیدل ،کمزورتیا ،ستړیا ،د انرژي کمښت ،سربدالي خصوصاً د رولاړیدلو په وخت کي ،د رنګ ژړوالي او ضعیف کیدل د ټول د ویني د کښته فشار علایم دي. نوموړي علامي ډیر د ماسپښین لخو ښکاره کیږي ځکه چي په دغه وخت کي عموماً د مایعاتو او مالګو اندازه ر ټیټیږي.

نور ستا قضاوت !

هندکي سخت دريځي هندوان د سهار پر اذان د بندیز غوښتنه کوي

هندوستان کې د سخت دریځو هندوانو واک ته د رسیدو ایله دوه ورځې شوې وي ، چې د هندوستان اورپکو هندوانو له حکومته غوښتنه وکړه، چې د مسلمانانو د سهار پر اذان دې بندیز ولګول شي.

د هندوستان مینګلور ایالت کې ګڼو هندو سخت دریځو ګوندونو د حکومتي دفترونو مخې ته لاریونونه پیل کړل او له حکومته وغوښتل ، چې ټول هندوستان کې دې د سهار پر اذان بندیز ولګول شي.

د "وچې یلا کاشمې" په نوم یو سخت دریځي هندو مشر لاریونکوونکو ته په خپله وینا کې وویل، چې یو ځانګړي مذهب ته به هیڅکله اجازه ورنکړي، چې د نورو خلکو خوبونه خراب کړي.

د یادونې ور ده، چې لاریون کوونکي جې پي جې بهارتیه جنتا پارټي پورې تړلي خلک دي او له خپل نوي حکومته غوښته کوي، چې د سهار پر اذان دې بندیز ولګوي.

د هندوستان نوی لومړی وزیر نریندرا مودي ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د ګجرات ایالت اعلی و . په دغه وخت کې د ګجرات ایالت احمد اباد کې د ده په لمسون او ملاتړ د مسلمانانو پر خلاف ډېر ظلم و زیاتی وشو. سلګونو کورنه او جوماتونه یې وسوځول شول او شاوخوا دوه زره مسلمانان یې ووژل.

اوس همدغه سخت دریځی مودي واک ورسید .نو اورپکي هندوان غواړي. یو ځل بیا ټول هندوستان کې د مسلمانانو پر خلاف تاوتریخوالی پیل کړي او لومړی ګام یې ټول هند کې د مسلمانانو د سهار پر اذان د بندیز غوښتنه ده.

دعاء مودا ده چې څښتن تعالی دې دمسلمانانو نصرت وکړي او هندوستان کې دې ورته دنورو هیوادونو غوندې پر کفارو بری ورکړي !

دافغانستان اسلامي امارت
وفرهنګي چارو کمیسیون

مورچل

میاشتیني خبرونه
دتلفاتو میاشتینی جدول

اتم کال پنځمه، پرلپسي ۶۹ګڼه، رجب ۱۴۳۵هـ ق، می ۲۰۱۴ز

دجهادي عملیاتو انځورګر ولایتونه

شماره	ولایت	صفحه
۱	کابل	٦٧
۲	غزنی	٦٩
۳	میدان وردګ	۸۰
۴	لوګر	۸۹
۵	خوست	۹۵
۶	پکتیا	۱۰۰
۷	پکتیکا	۱۰۷
۸	ننګرهار	۱۱۸
۹	کنر	۱۳۵
۱۰	لغمان	۱٤۲
۱۱	کاپیسا	۱٤۸
۱۲	نورستان	۱٤٦
۱۳	پروان	۱۵۰
۱۴	قندوز	۱۵۵
۱۵	بغلان	۱٦۳
۱۶	تخار	۱٦۵
۱۷	بدخشان	۱٦٦

شماره	ولایت	صفحه
۱۸	بلخ	۱٦۹
۱۹	سمنګان	۱٦۹
۲۰	جوزجان	۱۷۰
۲۱	سرپل	۱۷۱
۲۲	فاریاب	۱۷۳
۲۳	هرات	۱۷۹
۲۴	بادغیس	۱۸۵
۲۵	غور	۱۷۸
۲۶	نیمروز	۱۸۹
۲۷	بامیان	۱۹۲
۲۸	پنجشیر	۱۹۲
۲۹	کندهار	۱۹۳
۳۰	هلمند	۲۰٦
۳۱	ارزګان	۲۲۱
۳۲	زابل	۲۲۵
۳۳	فراه	۲٤۱
	دایکنډی	۲٤٤
		۰

دبولدک فدایانوته

ر-م- ساقیار

داڅوک پر دارباندي ختلي ؟ خلک هیڅ نه وایي
ورته راځي ورته را ځغلي خلک هیڅ نه وایي

عجیبه ښار دی زړونه نه لري که نشته مینه !!
دا عاشقان په کاڼو ولي خلک هیڅ نه وایي

ما اوریدلي وو چي دا دڅو ښاغلیو کلی.
ولي چوپ پاتې شول ښاغلي خلک هیڅ نه وایي

د ایوب خان دلښکر څو زلمي په دار وختل
د(ملالۍ غازي) دکلي خلک هیڅ نه وایي

زما احمد ،طارق ،خالد ،منصوره صد آفرین
ستاسو په سوبه کي سپیڅلي خلک هیڅ نه وایي

کابل

سروبي کې په پوسته بريد ترسره شو

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په جګدلک سيمه کې د دښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو. د برید په مهال د پوستې ودانۍ ته په زيان اوښتو سربيره دښمن ته مرګ ژوبله هم واوښته. ۲۰۱۴-۰۵-۰۲

سروبي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په جګدلک سيمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په مهال يې دښمن ته دروند زيان واوښت. ۲۰۱۴-۰۵-۰۲

سروبي کې ۳ عسکر مجاهدينو سره يو ځای شول

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په اوزبين سيمه کې درې تنه عسکر د جلب او جذب کميسيون د دعوت او سيمه ييزو مجاهدينو د هڅو په برکت د حقانۍ په درک کولو سره د امارت له مخالفت نه لاس واخيستل. ۲۰۱۴-۰۵-۰۴

سروبي کې د دښمن په ګزمه برید وشو

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په ماهيپر سيمه کې کله ګډې ته نژدې د مزدوري اردو او اربکيانو په ګډه ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته او يو شمېر موټر تخريب شول. ۲۰۱۴-۰۵-۰۸

سروبي کې قومندان عبدالرزاق له ۲ پوليسو سره ونيول شو

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په اوزبين کلان سيمه کې ديوخاص تکتيک له مخې د پوليسو قومندان عبدالرزاق له ۲ تنو پوليسو، وسلو او مهماتو سره ونيول شو. ۲۰۱۴-۰۵-۱۰

سروبي کې په ۲ پوستو برید ونه وشول

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په اوزبين سيمه کې د دښمن په دوو پوستو برید ونه ترسره شول، په برید ونو کې دښمن ته تلفات واوښتل اما د اوښتي زيان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۵-۱۰

کلکانو کې د سپيشل فورس قومندان او ۲ عسکر ټپيان شول

د کابل ولايت د کلکانو ولسوالي مرکز ته نژدې د سپيشل فورس عسکرو په رينجر د وسلوال برید له امله د سپيشل فورس عسکرو قومندان (قاهر) او ۲ عسکر وسره مرګونی ټپيان شو او موټر يې هم تخريب شو. ۲۰۱۴-۰۵-۱۱

د کابل هوايي ډګر په ميزايلو وويشتل شو. پروازونه معطل شول

د کابل ولايت د کابل هوايي ډګر د خيبر عمليات تو په لومړيو شېبو کې د ده سبز ولسوالي له اړوندې سيمې نه په ۲ ميزايلو دقيق وويشتل شو. د برید له امله د الوتکو تګ راتګ په بشپړه توګه بند شو او د دښمن عسکرو سيمه تر ډيره پورې محاصره کړه. په برید کې دښمن ته داوښتي زيان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۵-۱۲

د سروبي په جګړه کې ۷ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په استحکام پله او ملاسر خاب قبر ته نژدې په دښمن پيل شوي عملياتو له تلفات اوښتو وروسته پای ته ورسېدل، په جګړو کې د دښمن ۴ عسکر مړه او ۱ زغرواله ټانګ هم تخريب شو، په دې سربيره د مزدوري اردو په عسکرو خپل هاوان وچاودېد چې له امله يې ۵ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۵-۱۲

سروبي کې د اربکيانو په پوسته برید ترسره شو

د کابل ولايت د سروبي ولسوالي په جګدلک سيمه کې د اربکيانو پوسته وسلوال برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته داوښتي زيان معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۵-۱۲

قرباغ کې په موټر چاودنې ۶ پوليس ووژل

د کابل ولايت د قرباغ ولسوالي په سبز سنګ سيمه کې د استالف د غړبدلي لارې تر څنګ د پوليسو په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۶ تنه پوليس مړه او موټر په بشپړه توګه ويجاړ شو. ۲۰۱۴-۰۵-۱۲

کابل کې چاودنې ۲ پوليس ووژل

د کابل بنار اړوند په سرای شمالي سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په مقناطیسي ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۲ پولیس پکې ووژل شول. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

سروبي کې په ګزمه او پوسته بریدونه وشول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي په ګوکامنډۍ سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه او دغه راز په ماهیپر سیمه کې تنګي ته نژدې د دښمن په پوسته هم برید ترسره شو، په برید ونو کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

سروبي کې په قوه برید، ۳ یرغلګر وته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي په اوزبین نعمان کلي سیمه کې د دښمن په ګزمه دوه توغندي وتوغول شول، په برید کې ګډ موټر تخریب شو او ۳ یرغلګر وته مرګ ژوبله واوښته. ۱۴-۰۵-۲۰۱۴

د کابل په زړه کې چاودنې موټر تخریب او ۳ عسکر ووژل

د کابل بنار په زړه د اتمې حوزې په اړونده سیمه کې د مزدوري اردو رینجر په چسپکي ماین والوزول شو، د چاودنې له امله موټر پوره تخریب شو او ۳ عسکر پکې ووژل شول. ۱۴-۰۵-۲۰۱۴

د کابل بنار کې په موټر چاودنې ۳ پولیس ووژل

د کابل بنار په زړه کې د وزیراکبرخان په سیمه کې د پولیسو په رینجر د چسپکي ماین چاودنه وشوچې له امله یې موټر تخریب، ۳ تنه پولیس مړه او ۲ نور سخت ټپیان شول. ۱۴-۰۵-۲۰۱۴

بګرامیو کې په کاروان برید ترسره شو

د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالي په چرخاب سیمه کې د دښمن په کاروان برید ترسره شو چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۴-۰۵-۲۰۱۴

سروبي کې په قوه توغندي وار شول او ۸ عسکر پکې ووژل شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي په اوزبین سیمه کې د دښمن په هغه قوه چې په نعمان کلي کې ولاړه وه ۲ توغندي وتوغول شول، توغندي په تاکلي هدف لګېدلي چې له امله یې ۸ بهرني عسکر مړه او ۲ ټانګونه تخریب شول او ورسته له سیمې وتښتېدل. ۱۵-۰۵-۲۰۱۴

سروبي کې په چاودنه او برید کې دښمن ته تلفات واوښتل

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي د اوزبین چپه دره په دوخولو کلي کې د اشغالګرو زغرواټانګ په ماین والوزول شو چې پوره تخریب شو، دغه راز په همدې سیمه کې د دښمن په قوه توغندیو برید هم ترسره شو، په چاودنه او برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره تر اوسه پورې نه ده څرګنده شوې. ۱۵-۰۵-۲۰۱۴

د پلچرخي فرقه په توغندیو وویشتل شوه

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالي د پلچرخي په فرقه ۲ توغندي وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګېدل او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۱۶-۰۵-۲۰۱۴

ده سبز کې د تیلو ټانکر د ماین خوراک شو

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالي په سرک نو سیمه کې د اکمالاتي کاروان د تیلو ټانکر په ماین والوزول شو او پوره تخریب شو. ۱۶-۰۵-۲۰۱۴

د کابل په زړه کې په موټر چاودنې ۴ پولیس ووژل

د کابل ولایت د بنار په زړه کې د ۱۲مې ناحیې ارزان قیمت سیمه کې دوهمې چارهې ته نژدې ګودامي اداري د پولیسو په رینجر موټر چاودنه وشوه چې له امله یې موټر په پوره ډول تخریب شو او پکې ناست پولیس ۴ تنه ووژل شول. ۱۸-۰۵-۲۰۱۴

کابل کې په جنرال رحیم او ملګرو یې چاودنه وشوه

د کابل ولایت د بنار اړوند په ۱۱مه ناحیه کې د خیرخانې په قلعه نجارالوله کوڅه کې په جنرال رحیم او دهغه په ملګرو درنه

چاودنه وشوه. د چاودنې له امله دښمن ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ۲۲-۰۵-۲۰۱۴

سروبي کې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولايت د سروبي ولسوالۍ په تيزين جړوبي سيمه کې د مزدوري اردو او اربکيانو په ګزمه برېد ترسره شو، دبرید په مهال ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او دښمن له سيمې نه پښې سپکې کړې. ۲۳-۰۵-۲۰۱۴

کابل کې فدايي برید د دفاع وزارت ۵ ۴ تنه افسران او منسوبين مړه او ژوبل کړل

د کابل ولايت ۱۶مې حوزې اړوند په قلعه زمان خان سيمه کې د دفاع وزارت د. فسرانو په بس موټر ديو تن قهرمان فدايي مجاهد (صفت الله) له لورې د موټر سايکل په توسط فدايي برید ترسره شو. په برید کې تر ۴۵ پورې نظامي افسران او منسوبين مړه او ژوبل شول. ۲۶-۰۵-۲۰۱۴

شکر دره کې په پوسته برید. ۳ عسکر ووژل شول

د کابل ولايت د شکر دري ولسوالۍ په حسين کوټ سيمه کې د مزدوري اردو پوسته د مجاهدينو تر برید لاندې راغله. د برید له امله د پوستې ودانۍ ته په زيان اوښتو سربېره ۳ عسکر مړه او ۵ نور سخت ټپيان شول. ۲۶-۰۵-۲۰۱۴

ده سبز کې چاودنو ګڼ ټانکرونه تخريب کړل

د کابل ولايت د ده سبز ولسوالۍ اړوند د سرک نو او قطعه سريع اوبختيار کلي ته نژدې ددښمن داکمالاتي کاروان په تم ځای کې دچسپکي ماينونو درنې چاودنې وشوې. دچاودنو له امله يوټانکر اور واخيست په بشپړه توګه وسوزېد او ګڼ نورټانکرونه تخريب شول. ۲۰۱۴/۵/۲۷

سروبي کې ماين موټر تخريب او ۲ اربکيان ژوبل کړل

د کابل ولايت د سروبي ولسوالۍ په غونډۍ کلي کې د اربکيانو رينجر په ماين والوزل شو، په چاودنه کې موټر پوره تخريب شو او ۲ اربکيان پکې سخت ټپيان شول. ۳۰-۰۵-۲۰۱۴

غزنی

غزني مرکزته نژدې په پوسته برید. ۳ پوليس ټپيان شول

د غزني ولايت مرکز اړوند محبس ته نژدې د اجيري اردو په پوسته برید ترسره شوچې په مهال يې ۳ پوليس ټپيان شول. ۰۱-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې د اجيري اردو په قرارګاه برید وشو

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په سيني سيمه کې د اجيري اردو په قرارګاه وسلوال برید ترسره شو، دبرید له امله په قرارګاه کې اور بل شو او زياتې برخې ته يې زيان واوښت. ۰۱-۰۵-۲۰۱۴

مقر کې اربکيانو يو عام وګړی شهيد کړ

د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ په اړونده سيمه کې د وحشي اربکيانو له خوا يو عام وګړی (شيراحمد) چې څه موده وړاندې يې تښتولی ژاو د خوشي کولو په بدل کې يې د ۱۰ لکه افغانيو غوښتنه کوله، په شهادت ورساوه. انا لله وانا اليه راجعون. ۰۲-۰۵-۲۰۱۴

مقر کې ۷ اربکيانو ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ په لرمه سيمه کې د حاجي خياط برمې ته نژدې د وسلوال برید په مهال ۳ تنه اربکيان مړه او ۴ مرګوني ټپيان شول، په جګړه کې يو مجاهد هم ټپي شو. ۰۲-۰۵-۲۰۱۴

غزني کې چاودنې د ده يک ولسوالۍ د استخباراتو مدير ژوبل کړ

د غزني ولايت مرکز ته نژدې په توحيد اباد سيمه کې د ده يک ولسوالۍ د استخباراتو د مدير ايوب خان موټر په ماين والوزول شو، په چاودنه کې موټر تخريب او ايوب خان سخت ژوبل شو. ۰۲-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې چاودنې د سپيشل فورس ۲ ماين پوهان ووژل

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي په چهار ديوال سيمه کې د سپيشل فورس عسکرو په ګزمه چاودنه وشوه چې له املې يې ۲ مامور پوهان انجينران ووژل شول. ۰۲-۰۵-۲۰۱۴

ده يک کې ۴ اربکيان تپيان شول

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي په رباط سيمه کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ اربکيان تپيان شول او نور په تښته بريالي شول. ۰۲-۰۵-۲۰۱۴

ګيلان کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګزمه برید وشو

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالي په لطيف سيمه کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګزمه برید ترسره شوچې په ترڅ کې يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۳-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې په موټر چاودنې ۳ عسکر ووژل

د غزني ولايت مرکزته نژدې په ارزو سيمه کې د اجيري اردو رينجر په ماين والوزول شو، د چاودنې له املې موټر تخريب، ۴ عسکر مړه او ۳ نور سخت تپيان شول. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته خبره د دښمن په ګزمه برید وشو

د غزني ولايت مرکز ته نژدې په خشک سيمه کې د اجيري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شوچې په مهال يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

ګيلان کې جلاچاودنو ۲ ټانکونه او ۱۲ عسکر نه منځه يوړل

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالي په لطيف ملاجانان، ورو او پردل سيمو کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګزمو برید ونه ترسره شول، په جګړه کې د اجيري اردو يو زغروال ټانک په ماين والوزول شو چې په بشپړه توګه وبجار او ۶ تنه عسکر پکې ووژل شول، له دې علاوه په پردل سيمه کې يو بل ټانک د چاودنې ښکار شو چې له املې يې ټانک په مکمل ډول له منځه لاړ او پکې ناست ۶ تنه عسکر ټول ووژل شول. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته خبره د دښمن په ګزمو برید ونه وشول

د غزني ولايت مرکز ته نژدې په نوغه، کج قلعه او نيازو سيمو کې د اجيري اردو په ګزمو برید ونه ترسر شول چې دښمن ته پکې درانه تلفات واوښتل، په جګړه کې ۱ مجاهد تپي شو. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې ۱۰ عسکر ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولايت مرکز ته نژدې په شهباز کلاسيمه کې د اجيري اردو په کاروان وسلوال برید ترسره شو چې په مهال يې ۲ رينجر وويشتل شول او ۱ په ماين والوزول شو چې پوره تخريب شول. له دې علاوه ۴ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۶ نور مرګوني تپيان شول. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

ګيلان کې په قرارګاه ميزايل وارشول

د غزني ولايت په ګيلان ولسوالي کې د اشغالګرو په کمپاين ميزايل وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګيدل او له املې يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۴-۰۵-۲۰۱۴

ګيلان کې په دښمن برید ونه، ۸ عسکر ووژل شول

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالي په ملاجانا او پردل سيمو کې د اجيري اردو او اربکيانو په کاروان برید ترسره شوچې په مهال يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل. د برید په ترڅ کې د اردو يو قومندان اسدالله ژوندی ونيول شو، په جګړه کې ۲ مجاهدين تپيان شول، دغه راز يو ځل بيا په پردل سيمه کې د دښمن په عسکرو برید وشو، په اوږدمهاله مخامخ نښته کې د ۸ عسکرو په وژل کيدو سربيره ۱۴ نور مرګوني تپيان شول، له دې علاوه ۴ ميله وسله، ۴ ژغرې او ګڼ نور مهمات د غنيمت په توګه ترلاسه شوې، په جګړه کې ۱ مجاهد شهيد او ۵ تنه ښځې او ماشومان تپيان شول. ۰۵-۰۵-۲۰۱۴

شلگر کې د اجيري اردو په ګزمو برید ونه وشول

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي په سرکي او په شش خښلوسيمو کې د اجيري اردو په ګزمو برید ونه ترسره شول، په برید ونو کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او يو شمير موټر تخريب شول. ۰۵-۰۵-۲۰۱۴

گیلان کې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي په ملاجانان سیمه کې د اجیري اردو په عسکرو برید ترسره شوچې له املـه یې ۱ عسکر ووژل شو او ۳ مرګوني تپیان شول. ۰۶-۰۵-۲۰۱۴

ده یک ولسوالی ودانی په هشتاددوو ویشتل شوه

د غزني ولایت د ده یک ولسوالی ودانی د هشتاددوو په ۲ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له املـه یې ودانی زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي، په عیني وخت کې د یادې ولسوالی په تنفیر سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه هم برید ترسره شو چې دښمن ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۰۶-۰۵-۲۰۱۴

واغظ کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولایت د واغظ ولسوالی ودانی ته نژدې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ مرګوني تپیان شول. ۰۷-۰۵-۲۰۱۴

گیلان کې جلاچلودنو ۲ تانکونه او ۸ عسکر له منځه یوړل

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالی په ملاجانا او پر دول سیمو کې د اجیري اردو په ګزمو ۲ زورورې چاودنې وشوې، چاودنو ۲ تانکونه پوره ویجاړ، ۸ تنه عسکر مړه او ۴ مرګوني تپیان کړل. ۰۷-۰۵-۲۰۱۴

گیلان کې اشغالګرو او ګوډاګیانو یې عامو خلکو ته تلفات واړول

د غزني ولایت په ګیلان ولسوالی کې د اشغالګرو او ګوډاګیو عسکرو د وحشت له کبله لسګونه کورنۍ هجرت ته اړشوې او د ګنـو خلکـو کورونـه د دې بې رحمـه عسکرو لـه خـوا تخریـب شول، ددښمن عسکر د یادې ولسوالی په اړونده سیمه کې د احتمالي بریدونو له وېرې د درنو او سپکو وسلو تانـار ډزې کولې چې لـه املـه یې ۱۰ ماشومان، ۵ ښځې او ۳ ښځې تپیـان شول. ۰۷-۰۵-۲۰۱۴

شلګر ولسوالی په ودانی او پوسته بریدونه وشول

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی ودانی په میزایلو وویشتل شوه چې له املـه یې ودانی زیانمنه او یـو عسکرو پکې ووژل شو. دغه راز د یادې ولسوالی په سردار کلا سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته هم وسلوال برید ترسره شو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۰۷-۰۵-۲۰۱۴

گیلان کې جلاپېښو کې ۱ تانک، ۱ موټر تخریب او ۱۵ عسکر ووژل شول

دغزني ولایت د ګیلان ولسوالی په لطیف سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۲عسکر ووژل شول او ۳ نور تپیان شول. دغه راز په یو رینجر موټر په ماین والوزول شو چې له املـه یې ۷ عسکر مړه او موټر پوره تخریب شو. له دې علاوه په پردل سیمه کې د مزدوري اردو یـو زغرول ټانک په ماین والوزول شو چې پـه مکمـل ډول تخریـب شو، پـه چـاودنو کې ۲ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

شلګر ولسوالی په ودانی د میزایلو برید، ۴ امریکایانو ته مرګ ژوبله واوښته

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی ودانی په داسې حال کې پـه میزایلـو وویشتل شوه چې ګڼ امریکایي عسکر ورتـه راغلي وو، پـه برید کې ۱ امریکـایي عسـکر او ۱ اړیکـی چـې قیـوم نومیـده، ووژل شـو او ۳ امریکایي عسکر تپیان شول. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

غزني کې په ګڼو پوستو د بریدنو له املـه تلفات واوښتل

د غزنـي ولایـت پـه مرکـزي سـیمه روضـه کـې د دښـمن په ۷ پوستو بریدونـه ترسره شول، د بریدونو لـه املـه د پوستو ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ګڼ موټر تخریب شول او ۲ تنـه عسکر ووژل شول. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې په کاروان برید، ۲ عسکر ووژل شول

د غزني ولایت مرکز ته نژدې پـه شـهباز سیمه کې د مزدوري اردو په کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۲ مزدور عسکر ووژل شول او یـو رینجـر تخریـب شـو. له دې علاوه پـه

زرګرو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه هم وسلوال برید ترسره شو چې مرګ ژوبله ورته واوښته. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

ګیلان کې ۹ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ په پردل سیمه کې په ګودااګیو عسکروبرید وشو چې ۴ عسکر پکې مرګوني ټپیان شول، په دې سربیره په ملاجاناسیمه کې هم ددښمن عسکر تر برید لاندې راغلل چې ۳ عسکرو پکې ژوند له لاسه ورکړ او ۲ ټپیان شول. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې په موټر چاودنې ۲ پولیس ووژل

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په مانجو سیمه کې د پولیسو رینجر په ماین والوزول شو، چاودنې موټر تخریب، ۲ پولیس مړه او ۳ مرګوني ټپیان کړل. ۰۸-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې اربکیانو له ۷ کورونو ۱۰ لکه کلدارې غوښتې

د غزني ولایت په شلګر ولسوالۍ اربکیانو څلور ورځې وړاندې له نظروالو کلي نه ۳ ملاامامان او ۲ کلیوال یورل او د څلور ورځني بند او سخت شکنجو وروسته یې په دې شرط پریښودل چې له نظروالو کلي به ۷ کورونه بارېږي او دوی ته به ۱۰ لکه کلدارې ورکوي. ۰۹-۰۵-۲۰۱۴

ګیلان کې ۵ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ په ملاجانا او حسن سیمو کې د دښمن په عسکرو وسلوال برید ترسره شو، د جګړې په مهال د اجیري اردو ۵ تنه عسکر مړه او دیوارېکي په شمول ۴ نور مرګوني ټپیان شول، په جګړه کې ۲ مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل او ۱ ټپي شو. ۱۰-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې د اربکیانو په پوسته برید وشو

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په حبیب ګودلو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو چې له املې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۰-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې د ګودااګي اداري ۳ پولیس ووژل شول

د غزني ولایت مرکز ته نژدې په خشک سیمه کې د ګودااګي اداري ۳ تنه پولیس د چریکي برید په مهال ووژل شول، همدارازد مرکز اړوند په حکیم سیمه کې د دښمن په پوسته هم برید ترسره شو چې له املې یې دښمن مرګ ژوبله واوښته. ۱۰-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې ماین د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د غزني ولایت مرکز ته نژدې په شهباز سیمه کې د چره دار ماین چاودنې د مزدوري اردو ۲ تنه پولیس مړه اویو پولیس مرګونی ټپي کړ. ۱۰-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې چاودنو ۲ موټر تخریب او ۴ پولیس قتل او ژوبل کړل

د غزني ولایت مرکز ته نژدې په حیدراباد سیمه کې د پولیسو رینجر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر تخریب او پکې ناست پولیس ۲ تنه ووژل شول او ۲ مرګوني ټپیان شول.

دغه راز په ارزو سیمه کې د پولیسو موټر په ماین والوت چې پوره تخریب شو. ۱۱-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې په کمپاین برید، ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په دلیل سیمه کې د مزدوري اردو په کمپاین برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ګڼ نور ټپیان شول، په دې سربیره د کټپاین ودانۍ هم تخریب شوه. ۱۱-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې ماین ټانګ او ۶ مزدور عسکر له منځه یوړل

د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په خرواروبانو سیمه کې د مزدوري اردو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ او پکې ناست ۶ تنه عسکر ټول ووژل شول. ۱۱-۰۵-۲۰۱۴

غزني ولایت په مقام او پوستو برید، ۶ عسکر ووژل شول

د غزني ولایت په مقام، امنیه قومنداني او د قلعه قاضي او خشک سیمو کې د مزدوري اردو په پوستو بریدونه ترسره

شول، په بريدونو کې ودانيو ته په زيان اوښتو سربيره ۶ تنه عسکر مړه او ګڼ نور ټپيان شول. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې په قرارګاه برید ترسره شو

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په چيغارو سيمه کې د مزدوري اردو په قرارګاه برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

غزني کې خوګيانو ولسوالي ودانۍ تر برید لاندې راغله

د غزني ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په ودانۍ دسپکو اوږدرنو وسلو برید ترسره شو، په برید کې د ولسوالۍ ودانۍ زيانمنه شو خو مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

خواجه عمري کې پوسته تر برید لاندې راغله

د غزني ولايت د خواجه عمري ولسوالۍ په نه برجه سيمه کې د خيبر عملياتو په لومړي ورځ د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ودانۍ ته په زيان اوښتو سربيره پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

آب بند ولسوالي ودانۍ په میزایلو ویشتل شوه

د غزني ولايت د آب بند ولسوالۍ په ودانۍ د خيبر عملياتو په لومړي ورځ د میزایلو برید ترسره شو چې له املې يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۲-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې په قرارګاه برید ترسره شو

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په سيني سيمه کې د مزدوري اردو په قرارګاه وسلوال برید ترسره شو. د برید له املې ودانۍ ته زيان واوښت خو د مرګ ژوبلې په اړه کره شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

قرباغ کې پوسته فتحه او ۴ اربکيان ووژل شول

د غزني ولايت د قرباغ ولسوالۍ په قبرغه سيمه کې د اربکيانو پوسته تر برید لاندې راغله چې له لږ مقاومت وروسته په مکمل ډول فتحه شوه، په برید کې ۴ اربکيان مړه او نور وتښتېدل، مجاهدينو پوسته او پکې ولاړ رينجر او يو موټر سايکل په بشپړه توګه وسوزول، په جګړه کې دوه مجاهدين په شهادت ورسېدل، اناالله وانااليه راجعون. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

ګيرو ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د غزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل اما په هلکه يې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

قرباغ کې ۴ اربکيان ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولايت د قرباغ ولسوالۍ په خالو خيل سيمه کې د اربکيانو په پوسته برید ترسره شو، دغه راز په نعيم کلا سيمه کې هم په اربکيانو برید ترسره شو چې ۲ تنه پکې ووژل شول او ۲ نور مرګوني ټپيان شول. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

واغظ کې په پوسته برید، ۱ پوليس ووژل شو

د غزني ولايت د واغظ ولسوالۍ په احمدخان قلعه سيمه کې د پوليسو په پوسته برید ترسره شو او په ترڅ کې يې ۱ پوليس ووژل شو. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

آب بند کې په قرارګاه برید وشو

د غزني ولايت د آب بند ولسوالۍ په اړونده سيمه کې د مزدوري اردو په قرارګاه برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اوښتې اما کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

شلګر کې په قرارګاه برید، ۲ تانکونه، ۳ موټر تخریب او ۲۰ اطاقونه وسوزېدل

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ د سيني په قرارګاه د خيبر عملياتو په دوهمه ورځ د میزایلو، هشتاددو او راکټونو برید ترسره شو. د برید له املې د قرارګاه په ټولو اړخونو کې اور ولګېد او له املې يې ۲۰ د هستوګنې اطاقونه، ۲ تانکونه او ۳ رينجر موټر وسوزېدل. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

غزني ولايت مقام او امنيه قومندانې په توغندیو وویشتل شول

د غزني ولايت په مقام، امنيه قومندان او شاروالي توغندي وتوغول شول چې په تاکلي هدف ونګېدل او له امله يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې ۱ موتر تخريب او ۶ پوليس ووژل شول

د غزني ولايت مرکز ته نژدې د پوليسو په ګزمه لومړی چاودنه وشوه او پرې برید ترسره شو، په پېښو کې ۶ پوليسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۸ نور مرګوني ټپيان شول، په دې سربېره يو رينجر موټر تخريب شو. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

ده يک ولسوالي ودانۍ په درنو وسلو ووېشتل شوه

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي په ودانۍ کې ميزايلو او هشتادو برید ترسره شو چې له امله يې دښمن ته زيان واوښت. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

ده يک کې په ۳ پوستو برید، ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي په ارتباط سيمه کې د اربکيانو په دوو پوستو برېدونه ترسره شول. په برېدونو کې ودانيو ته په زيان اوښتو سربېره اربکي مړ او ۲ ټپيان شول، همدارنګه سليمانزو سيمه کې د پوليسو په پوسته برید وشو او ۱ پوليس پکې سخت ژوبل شو. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

غزني مرکزته خبره په قرارګاه او ګزمه برېدونه وشول

د غزني ولايت مرکز ته نژدې مزدورو عسکرو په قرارګاه ميزايل وتوغول شول او په عيني وخت کې په شهباز کلا سيمه کې په عسکرو برید ترسره شو، د برېدونو له امله دښمن ته د اوښتي زيان په اړه دقيق معلومات نشته. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

مقر کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولايت دمقر ولسوالي په کداخيل سيمه کې ددښمن په پوسته برېدترسره شو چې په مهال يې ۱ عسکر مړ، ۲ نور عسکر ژوبل او د پوستې ودانۍ تخريب شوه. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

شلګرولسوالي په ودانۍ او قرارګاه د درنو وسلو برېدونه وشول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي په ودانۍ ميزايل وتوغول شول چې په تاکلي هدف ونګېدل او له امله يې دښمن ته تلفات واوښتل، دغه راز ددې ولسوالي په چهار ديوال سيمه کې د مزدوري اردو په قرارګاه د هاوان او هشتادو برید ترسره شو چې دښمن ته پکې مالي او ځاني زيان واوښت. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

د مزدوري اردو عسکرو په شلګر کې په مشهوره مدرسه نورالمدارس د هاوان برید وکړ

د غزني ولايت د شلګر ولسوالي په نايي سيمه کې د ګوډاګي اداري د مزدوري اردو وحشي عسکرو د سيمې په کچه لويه مدرسه نورالمدارس د هاوانونو په ۷ مرميو وويشتله چې له امله يې يو طالب العلم ټپي شو، په خبر کې راغلي امريکايي الوتکو په سي پای کلي باندې په پي آر تي له برید وروسته درنه بمباري وکړه خو نه الحمد چاته پکې زيان نه واوښت. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

زنخان کې د ملي امنيت په موټر چاودنې ۳ تنه ووژل

د غزني ولايت د زنخان ولسوالي اړوند په محمد بيګ غونډۍ سيمه کې په اصطلاح د ملي امنيت رينجر په ماين والوزول شو په چاودنه کې موټر پوره تخريب شو او ۳ تنه د يادې ادارې اړوند کسان پکې ووژل شو. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

ده يک کې اربکي ووژل شو

د غزني ولايت په ده يک ولسوالي کې يو اربکي چې احتمال نومېده په لغوات سيمه کې ووژل شو. ۱۳-۰۵-۲۰۱۴

قرباغ کې پوسته ترېرید لاندې راغله

